واعتصموا بحبل الله جميعا ولاتفرقوا

داسلامیه مسلسله دراساته

ش س
ادک

1675

# داسلام لاره

لیکنه: شهید سید قطب
ژباړه: محمد جان احمدزی

۲

59580

(د طبع حقوق محفوظه)

داوّل طبعه

صفر: ۱۳۹۲هـ - ۱۹۷۲م

SION

Marfat.com

بسم اللہ الرحمن الرحیم

Marfat.com

# داسلام لاره

دکتاب "هذا الدّین" ترجمه

Marfat.com

# دژباړونکي سريزه

الحمدلله والصلاة على رسول الله، وبعد!

وياړم چه د اسلامي پلټونكي، علمي شخصيت، او دخداى دلاري نيمه خوامجاهد "شهيد سيّد قطب" د كتاب "هذا الدِّين" په ژباړه توفيق موم.

شهيد سيد قطب د اسلامي نړۍ په افق كښي د سها رڅلاندۀ ستوري ؤ. د علمي فياض استعداد خاوند، او د اسلامي سپېڅلي ولولې، او عميق ادراك خښتن ؤ. "دخداى په لاړ كښي ژوند، او دخداى په لاړ كښي مرګ" دده ورو ستني هيلۀ هو! دئ د اسلام د مكتب ړښتني شاګرد ؤ. ده د اسلام روح درك كړی وو. دئ پوهېده چه بې له اسلام څخه ژوند عذاب او دنيوي جهنم دی... په داسې حال كښي چه مادي تمدن او استعمار دخلكو پرستركو توري پردې غوړولی دي، نو بشر د بل هر وخت په نسبت دې ته اړ دئ چه: د اسلامي احياء په لور، يو ځل بيا ګام پورته كړي. خكه دفردي، كورني



Marfat.com

اجتماعي او بالآخره د عالمي کله ژوند د آرامه اوښه والی په هکله اسلامي کړنلاره یوه جامع الاطراف او ابدي طرحه ده. د بشر ټولې مادي او معنوي غوښتنې، او طبیعي حقوق یې په اعتدالي چوکاټ کښې ښه تنظیم کړي؛ او له الهي ارادې سره سم یې په یوه مزي کښې سره پیېلي دي.

پدې کتاب کښې مؤلف اسلامي واقعیتونه د اوسنیو او پخوانیو جاهلي واقعیتونو په اړخ کښې څېړلي، او دا یې ښودلي چه: اسلام د بشر لپاره یوازنۍ لاره ده. بشر به یې تطبیقوي، او د لوی خدای - عزّوجلّ - تر نظارت لاندې به یې پرمخ بیايي، او د هڅکي طاغوت بر د الهي حکم په راتلو سره له جهانه شړي ... «بإذن الله».

محمّد جان . احمدزی .

کابل - افغانستان



Marfat.com

# مقدمه

## سیّد قطب وپېژنئ

### د قطب کورنۍ :

د دې کتاب د مؤلف «سید قطب» اصلي نوم «سیّد» او قطب يې د کورنۍ نوم دی. دی په (۱۹۰۶م) کال کښې د مصر د اسیوط د «موشي» په کلي کښې زېږېدلی دی. د قطب کورنۍ د جزیرة العرب اصلي اوسېدونکي، او وروسته بیا د مصر پر لور وخوځېده، او په اسیوط کښې مېشته شوه. د سید د بزرګوار پلار نوم حاجي ابراهيم قطب دی. او مور يې فاطمه حسين عثمان نومېده. نوموړې ډېره دینداره او پر اسلام مینه بي بي وه. د دې لوی آرزو دا وه چې اولاد يې قرآن کریم حفظ کړي. سید په خپل کتاب «التصویر الفني في القرآن» کښې چې د خپلې مور پاک روح ته يې اهدا کړېدی، د نوموړې ـ خدای بښلې ـ مینه او عشق په قرآن کریم سره ښه څرګند کړېدی.



Marfat.com

حاجی ابراهیم قطب دوه زامن « سید قطب، او محمد قطب » او
دری لوڼې « حمیده قطب ، امینه قطب ، او د دریمې لور نوم یې ،
بنت ندی څرګند شوی » درلودې . چه تر ټولو مشر یې سید ـ
قطب دی ، کشر ورور یې محمد قطب ، چه د پرعلم او پوهې خاوند
دی ، (۱۱) ارزښتناك کتابونه چه اسلامي مختلف موضوعات
یې یکښې څېړلي، لیکلي دي . چه ځینې یې په لاندې ډول دي :

١- منهج التربية الإسلامية .
٢- الانسانية بين المادية و الإسلام .
٣- شبهات حول الاسلام .
٤- فى النفس و المجتمع .
٥- قبسات من الرسول .
٦- معركة التقاليد .
٧- جاهلية القرن العشرين .
٨- منهج الفن الاسلامى .

امینه قطب هم بنه تکړه لیکواله وه ، چه په اسلامی بلنی، او
جهاد کښې له خپلو ورونو سره یو ځای او بره په اوږه جنګېدلې ده .
دنوموړې اصلاحی او معاشرتی مضامین په مختلفو جرائدو کښې نشر شوي دي



Marfat.com

د اصلاحي قصو یوه مجموعه هم د « في تیار الحیاة - د ژوند انه په خپو کښې » په نامه یادېږي .

د دوی دوهم خور حمیده قطب هم د جهاد په میدان کښې د خپلو ورونو څخه وروسته شوې نده .

د دا یا کورنۍ د هغه صبر چه په قرآن کریم کښې ئې ځرګند شوی دی « یَا أَیُّهَا الَّذِینَ آمَنُوا اصْبِرُوا وَصَابِرُوا وَرَابِطُوا ... » ښه تمثیلونکې ؤ او د جهاد رښتنی روح یې درک کړی ؤ . همدا الهي جذبه وه چه تر آخري سلګۍ پورې یې له اسلامي مبارزې څخه لاس وانه خیست ترڅو چه سید قطب ( د دې کورنۍ لمړنی مجاهد غړی ) د مصر د حکومت لخوا په دار وځوړول شو - رحمه الله - . په محمد قطب باندې د زندان په کوټو کښې د تعذیب او کړاونو لسنا نی ختمې شوې امینه قطب هم د سید په انجام اخته شوه . او حمیده قطب هم ( ۸ ) کاله په لیسي د بند او جیلخانې له سختو ربړونو سره مخامخ وه او دریمې خورېې هم ابدي ژوند په تکل د شهادت جام وڅښنه .

## د سید قطب علمي ژوند :

سید د خپلې مور د زړه له آرزو سره سم قرآن کریم حفظ کړ د قرآن مجید حفظ د مصر د هغې دینداري کورنۍ وظیفه ، او پر ...



Marfat.com

بیا هغه چا ته چه د « الأزهر » په پوهنتون کښې یې د شاملېدو هیله درلوده ، ضروري و . ده - مرحوم - خپله ابتدائي زده کړه په اسیوط کښې سرته ورسوله . او بیا کله چه د قطب کورنۍ د قاهرې « حلوان » ته ولاړه ، نو سید د « تجهیزیه دارالعلوم » په مخنۍ ښوونځي کښې داخل شو . او دا هغه مدرسه ده چه فارغ التحصیلان یې « دارالعُلوم » ته - چه اوس او س د قاهرې پوهنتون یو کښې پروت دی - ځي . په کال ( ۱۹۲۹م ) کښې په نوموړي پوهنتون کښې شامل او په ( ۱۹۳۳م ) کښې یې د قاهرې د دارالعلوم د تعلیم او تربیې ... واخیست . او د خپل لیاقت له مخې په « ازهر » کښې د پروفیسورۍ درجې ته ورسید .

... د عقاد طرز تفکر خوښ ناوه ، او دفاع به یې هم ورځنه کوله ... ادب او فضیلت په میدان کښې هرې خوا ته خپاره ... او ... د « الفکر الجدید » ، « الشرق الجدید » او « العالم العربي » د مجلو مسوولیت په غاړه اخلي . نوموړي د خپلې پوهې او ... په اساس د پوهنې په وزارت کښې د ښوونځیو د تفتیش په چوکۍ - چه په مصر کښې لویه علمي چوکۍ ده - ورته کل شو . نوموړی بیا د حکومت له خوا د تعلیم او تربیې د نویو

Marfat.com

لاړ و دلتولو دپاره امریکا ته ولیږل شو. کله چې په کال ۱۹۵۱ ...
کښې بېرته وطن ته راستون شو، د «أمریکا التی رأیت» ...
امریکا چې ما ولیده» او «مشکلات الحضارة والإسلام ...
او دمادی تمدن مشکلات» کتابونه یې ولیکل، چه په هغو کښې ...
یې دغربي مدنیت او کاپیتالیستي نظام فجایع څرګند او غندلي
ی. او د اسلام دحقانیت او رښتني توب زیات اطمینان ور
ته پیدا، او دا یقین ور ته حاصل شو چه د انسانیت د خلاصون
یواځنۍ لاره اسلام دی. او بس.

د سید قطب په قلم لیکل شوي اسلامي ارزښتناک کتابونه چه
ځنې یې طبع او ځنې نور یې نایاب شویدي، په لاندې ډول دي:

۱- في ظلال القرآن.
۲- مشاهد القيامة في القرآن.
۳- التصوير الفني في القرآن.
٤- العدالة الاجتماعية في الإسلام.
٥- السلام العالمي والإسلام.
٦- معركة الإسلام والرأسمالية.
۷- هذا الدين.
۸- المستقبل لهذا الدين.
۹- خصائص التصور الإسلامي ومقوماته.



Marfat.com

١٠ - دراسات إسلامية .
١١ - معالم في الطريق .
١٢ - مشكلات الحضارة والإسلام .
١٣ - أمريكا التي رأيت .
١٤ - نحو مجتمع إسلامي .
١٥ - القصص الديني .
١٦ - النقد الأدبي : أصوله ومناهجه .
١٧ - كتب وشخصيات .
١٨ - مع الخالدين .
١٩ - طفل من القرية .
٢٠ - أشواك .
٢١ - المدينة المسحورة .
٢٢ - حلم الفجر « شعر » .
٢٣ - الأطياف الأربعة « دوه ونو په ګډه ونس » .
٢٤ - الشاطئ المجهول « شعر » .... ( نایاب )
٢٥ - مهمة الشاعر في الحياة ....... ( نایاب )
٢٦ - نقد كتاب مستقبل الثقافة ... ( نایاب )

دپورتنیو کتابو څخه یې څنې څوځو وارې چاپ او په مختلفو ژبو
ترجمه شویدی . عدالت اجتماعی په څو ژبو . فارسی - انګلیسی - اردو



Marfat.com

فرانسوي، ترکي او نورو ژبو، ژباړل شویدي.

نوموړي علاوه پر پورتنیو کتابونو کتابونه هم لري چه دلته ندي ذکر شوي.

## د سید قطب سیاسي ژوند:

سید کله چه له امریکا څخه راغی نو د "الإخوان المسلمون" سره ښه معرفي شو، او د هغوی دعوت یې مطالعه کړ. چه په ۱۹۴۵م کال د "اخوان المسلمین" جمعیت ته داخل شو. د (هغه وخت و چه دوهمه نړیوال جګړه پای ته رسیدلې وه. او "اخوان المسلمین" د سیاست په ډګر کښې قدم ایښی ؤ. اخوانیانو د هغې وعدې د پوره کېدو تنفیذ غوښتنه وکړه، کومه چه انګریزانو د مصر د آزادۍ په هکله کړې وه. دغې غوښتنې که له یوې خوا د دوی ملګري زیات کړل، خو د بلې خوا یې د انګریزي استعمار او د مصر د حکومت د ربړولو دروازې د دوي پر مخ خلاصې کړې. د "اخوان المسلمین" بلنې دومره پرمختګ وکړ چه په دوو کلونو کښې د دوی د کارکونکو شمېر ـ د هیواد په دننه کښې ، ۲۵۰،۰۰۰، دوه میلونه او پنځوس زرو، ته ورسید. او د عامه همدردو شمېر خو یې لا څه کوی ....!

۱۲، فبروري، ۱۹۴۹ د اخوانیانو لوی مشر او لارښوونکی استاذ



Marfat.com

حسن البنّاء - رحمة الله علیه - په ډېر مظلومانه توګه د حکومت له خوا شهید شو. او ددوی په لاس هم خلاف قانون وګڼل شو. او یدې توګه د آزموینې له کړاوونو سره مخامخ، او د وخت د حکومت له خوا يې سخت ربړونه ولیدل. لدې آزموینې وروسته په اخوان المسلمین کښې "حسن الهضیبي" خپل لیاقت څرګند او د ټولنې لوی رهبر شو. ددوی بل ملګری شهید عبدالقادر عوده، د ټولنې د رئیس مرستیال وګڼل شو. او دریم سړی چې په فکری میدان کښې ډېر ځغلېدلی دی، شهید سید قطب و. په کال (۱۹۵۲م) کښې ددوی تعذیب او ربړونه څو ناڅه ساړه، او د فاروق جبر ختم شو. اخوانیان د جیلونو او بندونو څخه خوشې شول. او د "حسن الهضیبي" تر لارښوونې لاندې یې په ډېر وړښ بندیو ولولوسره بیا خپل کاروان د مقصود لور ته وخوځاوه.

استاد سید قطب د "اخوان المسلمین" په ټولنه کښې د فعال غړي په حیث وظیفه اجراء کوله. او هم یې د دعوت د دفتر د آمریت تصدی په غاړه درلوده. او ډېر په مینه یې د دعوت لپاره مخلصې لارې لټولې.

• په (۱۹۵۳م) کال، په هغه کنفرانس کښې د ګډون د پاره



Marfat.com

دمشق ته ورسيد، کوم چه د «ثروند دسبه والی» ترعنوان لاندې جوړ شوی ؤ. ده د دې پرو خطابو په لړ کښې داخطاً هم ایراد کړه چه «اخلاقی تربیه د اجتماعی تکافل وسیله ده» د کنفرانس له ختمېدو وروسته، سیّد د اردن په لور روان شو. مګر د اردن حکام د «ګلب پاشا» نومی فیوډال په تحریك، په سرحد ونو کښې د سید مانع شول او د اخلېدو ترې یې نه پرېښود.

په کال (۱۹۵۳م) د «مکتب الإرشاد» کنفرانس ترچه په بیت المقدس کښې جوړ شوی ؤ، ولاړ.

په (۱۹۵٤م) کال کښې د «اخوان المسلمین» د جریدې د تحریر رئیس شو. چه له دوو میاشتو خپرېدو نه وروسته د اسلامی جریده - د بې ځایه تورونو په لګولو سره - د حکومت له خوا مصادره شوه. د مصر حکومت بیا هم د استعمار په لمسون له دې اسلامی حرکت سره لانجه شروع کړه. د اخوان المسلمین جمعیت یې خلاف قانون وګڼله، او د دوی مشران یې په دار وځړول. او پېدې توګه یې د دې اسلامي ځپې لمن د سیاست له سمندر نه ورسته وله کړه!

«والله یتولی جزاء الظالمین»



Marfat.com

## د سید قطب د ژوندپای :

سید قطب د ژوند وروستي برخه په اسلامي پلټنې او بلنې کښي تېره کړه . او زیات یې ولیکل چه د اسلامي حرکت د ژوندیو موجونو لمنې لا پراخې کړې . او اسلام په رښتني بڼه نړیوالو او ټولو مسلمانانو ته بیا وروپېژني . ده د خدای د رضا او د اسلامي روح د ژوندي کولو په لار کښي ، دنیوي مادي امتیازات ترشا وغورځول .

شهید سید قطب ته د جنرال نجیب د ریاست په دوره کښي د پوهنې د وزارت پست وسپارل شو ، خو ده - مرحوم - هغه رد کړ . بیا دی مجبور کړ شو چه د عسکري قدرت لاندې د مسلمانانو ځوانانو چه هغه م اسلامي مجتمع ریاست ومني . خو دایي هم په غاړه وانخیست دده دا خوښېده چه د اسلامي تنویر په لار کښي غیر رسمي فعالیت ولري . ددې مخالفت په سبب په (۱۹۵٤) کال کښي بندي شو . د بند تر خه عذابونه یې وڅکل ، او په نتیجه کښي د هغه یې تعذیب له کبله په جلدي ناروغیو اخته ، او د څو مودې د پاره د معالجې په غرض له بنده خوشي کړل شو . وروسته له دوو کلو څخه بیا په بند محکوم ، او د خپل وروستني کتاب « معالم في



Marfat.com

الطریق ، دلیکلو په سبب - چه ژوندی کونکی روحیه لري -
محاکمه شو . په پای کښې د دوښمنې په شیه په عسکري جیب کښې له جیلخانې څخه د اعدام په لور ولېږدول شو .
سید په داسې حال کښې چه د مرګ وخ ته یې مسکل د شپې
په ۲ بجو ۷ / جمادی الاولی / ۱۳۸۶ه‌ق په شهادت ورسید ؟

هو ؛ سید قطب شهید شو . هغه له دنیا څخه د ابدي ژوند په لور سترګې پټې کړې . خو هغه مړ نه دی ، هغه ژوندی دی ،
داسې ژوند چه د دنیا تر پایه به ژوندی وي : —

« وَلَا تَقُولُوا لِمَنْ يُقْتَلُ فِي سَبِيلِ اللهِ أَمْوَاتٌ ،
« بَلْ أَحْيَاءٌ وَلَٰكِنْ لَا تَشْعُرُونَ .
« ... وَبَشِّرِ الصَّابِرِينَ الَّذِينَ إِذَا أَصَابَتْهُمْ مُصِيبَةٌ
« قَالُوا :
« إِنَّا لِلهِ وَإِنَّا إِلَيْهِ رَاجِعُونَ »

" د خدای د لارې شهیدانو ته مړه وایې ، دوی ژوندي دي ،
خو تاسې نه پوهېږئ " . هغو صابرانو ته زیرې ورکړه ، کوم چه د مصیبت
په وخت کښې وایې ، مونږ ، چه مونږ د خدای بندګان یو او بېرته د هغه په لور ستنېږو .

Marfat.com

Marfat.com

# دَ بشر فطري لار

دلته موږ داسلام داساسي اولمهمو حقائقو په هکله بحث کوو ، او دبشر په ژوند انرکښې د هغو عملي لارې ځېړو . دالهي حقائق ډېر بسيط او ساده دي . خو متأسفانه چه سړه لدې ساده توبه ، ډېر ځلې يا صبر ، او ياخو يچي نه درك کيږي . چه بالآخره داسلام ددې حقيقت له هېرېدو او يا عدم ادراك څخه ، ددې دين د ذاتي حقيقت ، تاريخي واقعيت او همدارنګه دحال او مستقبل د پېژندنې په هکله ، لويه خطا او اشتباه منځ ته راځي .

ځنې خلك لدې دين څخه داهيله لري : څرنګه چه دا يو الهي دين دی - نو بې له ظاهري اسبابو څخه دې دبشر په ژوند انو کښې په سحر آميزه او خارق العاده توګه عمل وکړي . او بې لدې چه دبشر طبيعت ، فطري قدرت ، او مادي استعداد ته - د ډېر مختلف په هره مرحله او يا هر محيط کښې چه وي - اعتبار ورکول شي ، بايد فعاليت وکړي .

او کله چه دوی داسلام داډول معجزه او خلاف الطبيعه عمل په سترګو نه ويني ، او دخپل انتظار پخلاف ګوري چه :

Marfat.com

قدرت او مادي واقعیت او استعداد ، یو وخت په بنکاره توګه د اسلام له تأثیر لاندي راځي ، او کله هم د اسلام په ضد خپل تأثیر غورځوي ، او خلك بې لدي چه د دې دین غوښتنو ته ځواب ووائي ، او یا یې په لاره یو څو ګامه پوره ته کړي ؛ د خپلو شهواتو مادي غوښتنو او ارادي ضعف له تأثیر لاندي راځي ...

نو کله چه دوی د اپېښېږ نروینې ، او د خپلې توقع په خلاف ګوري چه ؛ اسلام په غیر عادي توګه عمل نکوي ، نا امیده کېږي . او یا یې د دیني لارې د لزوم ، جدیت او واقعیت په هکله ، په عقیدې کښې تزلزل پیښېږي ، او یا خو یې د دین د حقانیت په باب په شك کښې لوېږي .

دا لوی خطا ګانې یوازې له یوې اساسي خطا څخه منځ ته راځي چه هغه : په اسلام ، او د هغه په عملي لاره نه پوهېدل او یا د دې حقیقت ـ چه لمړنۍ او ډېر ساده دی ـ هېرول دی .

* * *

دا دین د بشري ژوند انځور لپاره یوه الهي لار ده ، چه عملي کېدل یې هم د بشر د قدرت په چوکاټ کښې ، او د هر محیط د مادي استعداد په اندازه څخه د بشر په هڅه او

او کوښښ پورې اړه لري . او کله چه د چارو واګې په لاس کښې اخلي ، ځیل فعالیت له هغې نقطې څخه شروع کوي چه بشریت پکښې واقع وي ، او بیا یې د دوی د قدرت او طبیعي استعداد په حدودو کښې ، د هغې هڅې په اندازه چه په دې لاره کښې یې کوي ، د مقصد ورو ستنې پړاو ته رسوي .

د دې دین اساسي ممیزه دا ده چه : پوره شیبه هم - په هر ګام او هره تشریع کښې چه وي - د انسان له فطرت قدرت ، او د ژوندانه له مادي استعداد څخه سترګې نه پټوي او په عین حال کښې یې د تکامل هغې مرحلې ته رسوي چه تر اوسه هیڅ رژیم ، او د انسان په لاس جوړ شوي هیڅ یو مسلك ندی رسولی . کله چه له موږ نه مخکښې انسانان یې - د اسلام په صدر کښې - رسولي . او که رښتیني زیار واېستل شي د تل لپاره به په دې لاره کښې د رهبرۍ واګې په لاس کښې ولري .

خو د اتوالې خطا ګانې لکه چه ویل شو - د دې دین د طبیعت له نه پېژندلو ، او یا هیرولو څخه پیښېږي . او همدارنګه د هغه مجهول الاسبابو معجزو له انتظار ، چه له دې دین څخه یې ځینې خلك لري ، هیڅ ته راځي . دوی د داسې معجزو

هیله لري چې د انسان له فطرت سره مخالفې ، او د هغه له محدود قدرت ، مادی استعداد ، او محیطی عواملو سره هیڅ سمون نه خوري .

کله چې د غه خلك د تنبلۍ او راحت طلبۍ تر تأثیر لاندې راغلل ، او د اسلام په تطبیق کښې یې جد وجهد ونکړ ، نو دا پوښتنې کوي چې

آیا دا دین د خدای له لوري ندی راغلی ؟ آیا خدای د لوی قدرت خښتن ندی ؟ نو ولې بیا هم دا دین یوازې د بشر د محدود طاقت او توان په چوکاټ کښې فعالیت کوی ؟ او د عمل نتائج یې هم په بشری ضعف پورې اړه لري ؟ دا ځکه چې اصلاً ولې د بشر زیار او کوښښ ته اړه دی ؟ او همدا ځکه ولې د تل لپاره نه کامیابیږي ؟ او پیروان یې ولې د تل لپاره بري نه مومي ؟ ولې کله کله بشری ضعف ، شهوات او مادی غوښتنې د دې دین په شفافیت ، په مختلفو او بدلو باندې غالبیږي ؟ او ولې په ځینو وختو کښې باطل پرستان په مسلمانو - چې د حق خښتنان دی - بري مومي ؟

دا او دا سې سوالونه او اشتباه گانې دی چې اساساً د دې دین د طبیعت د لمنې حقیقت او کړنلارې له نه پېژندلو

Marfat.com

اویا هیڅ بدلو نحـه ر اپیدا کیږی .

* * *

بیشکه ! چه خدای (ج) کولای شی دد ی دین له لاری،
او یا په تر لدې نحه .د انسان فطرت بدل کړی . مگر خدای
د هغه حکمت له مخې ـ چه نیحیله پری پوهیږی ـ وغوښتل
چه : انسان په هم دغه فطرت پیدا کړي . او ولی ئې غوښتل
چه : هدایت او لاره ښوونه د انسان د زیار او غوښتنې
ثمره وگرزوي . « وَالَّذِينَ جَاهَدُوا فِينَا لَنَهْدِيَنَّهُمْ سُبُلَنَا »[1] ـ العنکبوت : ٦٩ ـ
او خدای غوښتی دی چه : تل د انسان فطرت فعالیت او عمل وکړی ، نه له منځه ولاړ شی ، او نـه معطل پاتی شی . « وَنَفْسٍ وَمَا سَوَّاهَا، فَأَلْهَمَهَا فُجُورَهَا وَتَقْوَاهَا ، قَدْ أَفْلَحَ مَنْ زَكَّاهَا.

---

(1) څوک چه زموږ په لاره کښې زیار باسي ، خامخا به خپلې لارې ور ښیو .

Marfat.com

وقد خاب من دسّاها "[1] (الشمس: ۷ - ۱۰)

او خدای غوښتي دي چه: خپل الهي قانون د بشري جهد او هڅو پار لرلاري، او د دوی له توان سره سم بشپړ کړي:

"إِنَّ اللّٰهَ لَا يُغَيِّرُ مَا بِقَوْمٍ حَتَّىٰ يُغَيِّرُوا مَا بِأَنفُسِهِمْ"[2] (الرعد: ۱۱)

"وَلَوْلَا دَفْعُ اللّٰهِ النَّاسَ بَعْضَهُم بِبَعْضٍ لَّفَسَدَتِ الْأَرْضُ"[3] (البقرة: ۲۵۱)

او خدای (ج) غوښتي دي چه: انسان تر دده د ژوند انرژي مصرفولو، او پر ابتلاء کښي د ده د صبر په اندازه، چه د الهي سليمي او ثابتي لاري د تطبيق، او د ښېرو او فساد

---

(۱) "قسم دی" پر نفس، او پر هغه "ذات" باندې چه برابر کړی يې دی "اندامونه" دده. بیا يې دده گناه او تقوی دواړه ور وښوول. چا چه خپل نفس (پر طاعت سره) پاک کړ، خامخا کامياب او چا چه (پر گناهو) سره ککړ کړ، بې ښکره چه زیانمن شو.

(۲) خدای (تعالی) د هیڅ قوم ښه حال (او نعمت) نه بدلوی، ترڅو دوی د خپلو ځانو (د طاعت) حالت بدل نکړي.

(۳) که چیرې خدای (ج) خلک يو پر بل (ځواکمن) نه دفع کړي، نو خامخا به ځمکه فاسده شوې وای.

Marfat.com

د محوکولو په لار کښې ئې پرېښان منلی دی، لوړ مقام ورته برابر کړی، او له بدبختئ څخه ئې وژغوری:

«أَحَسِبَ النَّاسُ أَنْ يُتْرَكُوا أَنْ يَقُولُوا: آمَنَّا، وَهُمْ لَا يُفْتَنُونَ ؟ وَلَقَدْ فَتَنَّا الَّذِينَ مِنْ قَبْلِهِمْ، فَلَيَعْلَمَنَّ اللَّهُ الَّذِينَ صَدَقُوا وَلَيَعْلَمَنَّ الْكَاذِبِينَ»[1] ... (العنکبوت : ۱-۲)

د خدای له مخلوقاتو څخه هیڅوك حق نلري چه خدای ته وپوښتي چه: ولې ئې داسې غوښتي دی؟ او ولې داسې پېښېږي؟ هیڅوك له خدایه (ج) د پوښتني حق نلري. ځکه د الله تعالی له مخلوقاتو څخه هیڅوك نه خدای دی، او نه د کائناتو په عمومي وسیع نظام، او نه د دې نظام په مقتضیاتو علم لري، او نه د داسې علم امکان شته.

او «ولې...؟» داسې سوال دی چه په دې مقام کښې بې هیڅ کلك مؤمن له خدایه نکوي، او همدارنګه هیڅ کلك ملحد هم د اپوښتنه نکوي. مؤمن ځکه له خدایه

---

(۱) ایا دا خلك ګمان کوي چه دوي به پرېښوول شي (په همدې قدر) چه وایي: ایمان مو راوړی دی - په داسې حال کښې چه دوي به ونه آزمویل شي؟ په رښتیا چه له دوي څخه مخکې خلك آزمويلي دي. نو خامخا به خدای (ج) صادقان پېژني، او همدارنګه درواغجن هم. په ظاهري علم سره هم ښکاره معلوم کړي.

دا پوښتنه نکوی چه: له خدای سره ده ادب له هر چا څخه زیات دی - هغه خدای چه ذات، صفات او خصوصیات یې بشر ورته معلوم دی - او مؤمن له ځانه زیات خپل لشری قدرت او ادراك وینی، او پوهیږی چه پدی لاره کښی ده ته تردداسی سؤال مجال نشته. او کلك ملحد هم له خدایه دا رنګه پوښتنه نکوی، ځکه: دی له سره په خدای اعتراف نلری. او که دده په خدایي ئی اعتراف وکړ، نو ددی له خټك سره پدی هم پوهیږی چه: دا د الله تعالی کار، او د الوهیت له مقتضیاتو څخه دی.
او پوهیږی چه: « لَا يُسْأَلُ عَمَّا يَفْعَلُ وَهُمْ يُسْأَلُونَ »[1]. ځکه یوازی خدای (ج) د قدرت څښتن او پخپلو کارو بشه پوه دی.

خو داهسی سؤال دی چه دبی ارادې او بنوئ (مانع) انسان له خولی څخه - چه نه کلك مؤمن او نه کلك ملحد دی - اوریدل کیږی. نو لدی کبله دا سؤال دومره د توجه وړ هم ندی، او نه بنایي چه د تینګار او جدیت

(۱) الانبیاء - ۲۳ » لوی خدای له خپلو کړو وړو څخه نه پوښتل کیږی. بلکه له هغوی څخه (چه بندګان دی) دخپلو اعمالو پوښتنه کیږی.

Marfat.com

پرستړ گرو ږته وکوږو ... او کله کله داسؤال دعنې جاهل له خوا - چه دالوهیت په حقیقت او خصائصو خبر نوی - مطرح کیږي . نو د دی جاهل د پوهولو په انځه لار دانده چه سمدستي ځواب ورکړل شي . بلکه دی باید دالوهیت په حقیقت او خصائصو وپوهول شي ، ترڅو چه وي پېژني او غاړه ورته کېږدي ، نو دی مؤمن دی . او یا خو انکار تری وکړي ، چه پدی صورت کښې ملحد بلل کیږی . او پدې توګه د اجدال سرته رسیږي . خو کله چه د اجدال د باطل طلبه او حق وژلو مرحلې ته رسیږی ، نو هلته بیا مسلمان ته روا نه ده چه داسې جدال ته دوام ورکړي .

د دی فترۍ دلیکني په پای کښې خیل مطلب داسې خلاصه کوو چه : هیڅوک دا حق نلري چه له خدای (ج) د انگه پوښتنې وکړي : خدای (ج) ولې غوښتی چه انسان په دغه فطرت پیدا کړي ؟ او ولې یې غوښتي چه دا فطرت دی همداسې په فعالیت کښې وی او له منځه دې ونځي ؟ او ولې یې اراده کړې چه الهي کړنلاره دې د بشریت لپاره ، د بشری کوښښونو ، او بشری وسې ، او مادي وسائلو له لارې متحققه او منځ ته راشي ؟ او ولې یې نه غوښتل چه د الاره دې دغیرعادي وسایلو او مبهمو او غامضو معجزو له لارې تحقق ومومي ؟

Marfat.com

خوهرخوك كولای شي چه دغو حقائقو درك كړي ، اووګوري چه دا حقائق دبشر دو اقيمتونو په څوكاټ كښي فعاليت كوي. اوكولى شي چه دبشر تاريخي پيښې دهغو په رڼا كښي تفسير اوتوضيح كړي ؛ ترڅو له يوې خوا پردې پوه شي چه څرنګه دغو خط السير تعقيب كړي ؟ اوڅرنګه كله ناكله ، دا خط السير هدف ته سيخ اوسم كړي ؟ له بلې خوا ، دخداى (ج) حكمت اوقدر هېرنكړي، او خپل ځان د دغو دواړو (حكمت اوقدر) سره په صحيح ، مؤثري اومثبتي توګې برابر اومنطبق كړي .

* * *

دا الهي كړنلاره چه « اسلام » يې د محمد صلى الله عليه وسلم د لارښوونې په اساس پخپل وروستني شكل كښې څرګندوي - يوازې پدې سره چه دخداى له لوري راكښته شوېده - په محكمه او دخلكو په نړۍ كښي تحقق نشي موندلى . اونه د « كُن »[1] په لفظ سره منځ ته راځي . او همدارنګه په يوازې ابلاغ اوبيانولو هم نه تطبيقيږي . اونه دهغو الهي قدرت پواسطه - چه د فلك په دوران اودستورو په نظام كښې يې لري - تحقق مومي .

---

(۱) د - كَانَ ، يَكُونُ ، كُوْن - له ماده چخه دامر صيغه ده . يعنى : شه (بشو)

ځکه چې خدای تعالیٰ د بالغې حکمت له مخې نه دي غوښتي چې توکه سره اسلام خپور کړي ، بلکه د تطبیق مکلفیت یې پخپله د بشر په اوږو ایښی دی . او د لارې پوازې دهغې تولنې پواسطه د تطبیق جامه اغوستلای شي چې په همدې لاره کامل ایمان لري ، او دخپلې وسې په اندازه سم پرې ولاړه وي او عملي کوي یې . او همغه کوي دې لارې ته د نورو په زړونو اوړوندا نه کښي ځای ورکړي او د همدغه مقصود لپاره په پوره قدرت جهاد کوي ... او له بشري هوا خواهي او لیت سره داخلي جذري مبارزه پر مخ بیایي ... او د هغو کسانو پر ضد چې د بشري کمزورتیاوو او هوی خواهي په سبب د هدایت او دعوت پر مخ کښې خنډونه ایجادوي ـ جنګېږي ... تر څو چې دا لاره د تطبیق هغې مرحلې ته ورسوي ، چې د ده بشري وس ، او مادي اسباب اجازه ورکوي . خو په دې شرط چې له هغې نقطې څخه دا جهاد شروع کړي چې بشر یکښې ولاړ دی . او د دې الهي لارې په حرکت او تطبیق کښې د بشر له مقتضیاتو او واقعیتونو څخه سترګې پټې نکړي ... نو وروسته بیا د انسان په طولکې لمسه پخپل نفس ، او بیا د نورو خلکو پر نفسونو باندې ـ د خپل زیار په اندازه ، او د هغو وسایلو په اندازه چې د عصر له غوښتنو سره مناسب

او د وخت له آلاتو سره برابر وي ، او له پوهولو څخه کښې د نوموړي پوهولګی په تلل او واقعیتو کښې دُدی دین د حقیقت د تطبیق او له هغه نه د عملی تعبیر په اندازه – کله غالبیږی ، او کله بربیا یدی نښته کښې ماتخوري .

* * *

دا ددي دين طبيعت او لازم د ه . او د ابي د حرکت خط مشی او وسایل دي . او داهسی حقیقت د ی چه خدای تعالی غوښتی اسلامی تولني ته یې ور ورښیي او داسی ورته وایی : « إِنَّ اللَّهَ لَا يُغَيِّرُ مَا بِقَوْمٍ حَتَّىٰ يُغَيِّرُوا مَا بِأَنفُسِهِمْ (۱) »

« وَلَوْلَا دَفْعُ اللَّهِ النَّاسَ بَعْضَهُم بِبَعْضٍ لَّفَسَدَتِ الْأَرْضُ (۲) »

« وَالَّذِينَ جَاهَدُوا فِينَا لَنَهْدِيَنَّهُمْ سُبُلَنَا (۳) » ...

او داهسی حقیقت دی چه خدای (ج) وغوښتل

---

(۱) الرعد : ۱۱ – } دواړه آیتونه په ( ۶ ) مخ کښی تر بحث لاندې راغلي دي
(۲) البقرة : ۲۵۱ – }
(۳) العنکبوت : ۶۹ – په ( ۵ ) مخ کښی تر بحث لاندې راغلي دي .

Marfat.com

داحدیه غزا کښې یې اسلامي قوتونې تر ورو ښیي . او دا هغه وخت ؤ ، کله چه اسلامي پوځ لګی د غزا پر ځینو موقفونو کښې پخپل ځان باندې د دې دین د حقیقت په تطبیق کښې قصور وکړ ، او په ځینو مواضعو کښې یې د مناسبو جنګي اسبابو پر استعمال کښې هېڅ ونکړه ، او کله چه لدې لمړنۍ حقیقت څخه غافل شول ، او بیا یې صبر کېښا . او دا سې فکر یې کاوه چه یوازې مسلمانتوب د وی کامیابولای شي.

نو خدای (ج) وفرمایل :

« أَوَلَمَّا أَصَابَتْكُم مُّصِيبَةٌ قَدْ أَصَبْتُم مِّثْلَيْهَا قُلْتُمْ: أَنَّىٰ هَٰذَا ؟ قُلْ : هُوَ مِنْ عِندِ أَنفُسِكُمْ »(۱)

او ور ترو یې ویل : « وَلَقَدْ صَدَقَكُمُ اللَّهُ وَعْدَهُ إِذْ تَحُسُّونَهُم بِإِذْنِهِ ، حَتَّىٰ إِذَا فَشِلْتُمْ ، وَتَنَازَعْتُمْ فِي الْأَمْرِ وَعَصَيْتُم مِّن بَعْدِ مَا أَرَاكُم مَّا تُحِبُّونَ ، مِنكُم مَّن يُرِيدُ الدُّنْيَا وَمِنكُم مَّن يُرِيدُ الْآخِرَةَ ،

---

(۱) آل عمران . ۱۶۵ • آیا . کله چه تاسو ته هغه مصیبت چه نورو (کفارو) ته مو (د بدر په غزا کښې) دوه برابره رسولی ؤ . در ورسید ؛ ومو ویل : دا مصیبت . لکومه ځایه راپېښ شو ؟؟ (ای محمده !) ورته ووایه : دا ستاسو له لوري ؤ ! (ځکه د پیغمبر د امر څخه مو په تاویل سره مخالفت وکړ . او دنیوي مالونو ته مو مخه کړه)

Marfat.com

ثُمَّ صَرَفَكُمْ عَنْهُمْ لِيَبْتَلِيَكُمْ ... » (١)

رښتيا چه اسلامي جمعيت په دې غزا کښې د احقيقت
ږده کړه ... نه يوازې په وينا او تهديد ، بلکه له وينو او
د ږدو نو سره يوځای . او په دې توګه يې - د ږوسته له
برې او غنيمت ګټلو څخه - د احقيقت د ماتې او زيان
پر جلب نرخ سره واخيست . او هغه ږخمونه يې وګالل
چه پتولو ته رسيدل ، او بالآخره يې د هغو - خدای ښلو -
شهيدانو د ږدو نو غمل چه سيد الشهداء حمزه (رض)
هم پکښې ؤ . او لدې پتولو ښه يا تر د ږدو نکي پيښه
د پيغمبر (ص) ږخمي کيدل ، د مخ ژوبليدل ، د مخکنی غاښ
ماتيدل ، او په غوچو ړې کښې - چه فاسق ابو عمرو د
مشر کانو په طرف د مسلمانانو پر ضد کيندلې ؤ -
لو يدل ، يوه ږړه وونکي حادثه وه .
مشر کانو زيار وو ليست چه پيغمبر (ص) ووژني ، خو مسلمانانو
بړو رڅخه شپه ل ، او ځانونه يې د ده پر مخکښې د دښمن غشو ته
سپر کړي وو . چه له هغو څخه يو هم ابو دجانه ؤ . کله

(١) آل عمران : ١٥٢ - د دې آيت ترجمه دې د (٢٢) مخ
پر پای کښې وکتل شي .

Marfat.com

چه د دښمن غښتي به يې په ملا وخوړه، اما سره له دې هم وسنه بنوړېد. او پيغمبر (ص) بوازې د خوتنو مسلمانانو په منځ کښنې چه تو پر بل پسې په شهيد بدل، پاتړ ؤ ... بالآخره مسلمانا له ماتې او حيرتړو ړوستر - په داسې حال کښنې چه د اتريخ او سخت درس يې ياد اوه، په پيغمبر (ص) بيرته راټول شول.

* * *

دا ښکاره خبره ده کله چه الهي لار بشري جهد او کوښښ ترو سپارلي شي، نو عملي کيدل يې هم د بشر دوسي او قدرت په چوکاټ کښنې کيد لاى شي. او دا کار په رښتيا چه بشري نفسونه پاك، او بشري ژوندون اصلاح کوي ... دا د دې لپاره نه وايو چه دخداى تعالىٰ اراده بيان کړو - دا چه خداى غوښتي وي کيږي - بلکه غواړو د انسانانو سپه ژوندانه کښنې - په واقعي کښنې سره - د دې ارادې آثار فقط ثبت کړو، او بس. او هغه دا چه:

په هيڅ زړه کښنې د ايمان حقيقت نشي بشپړ کيد لاى، ترڅو چه د خپل ايمان په هکله له مفسدو خلکو سره په زړه، ژبه او لاس ونه جنګيږي. د زړه په جهاد سره د دوى جاهليت

Marfat.com

او باطل افکار بد وکړي ، او وغواړي چه لر باطل پرستمد خپله ئې حق او اسلام ته را وکرزوي . او دغه بې په جهاد د تبليغ وکړي ، او ددوی بی ارزښتہ باطل اعمال رد د ، او او د اسلام حقائق څرګند کړي . او د لاس په جهاد د باطل پرستان - چه غواړي په زور او بربريت د اسلام په مخ کښې ودرېږي - په شا بوزي ، او د سيسې ئې ورشنډي کړي ... او همدا رنګه ايمان په زړه کښې نښې پوره کيدلای ترڅو پدې جهاد کښې لرماتي ، آزموينې او کړاو ونوس سخاخ نشي ، او پدې کړاو ونو کښې صبر او استقامت ونه کړي . او همدا رنګه ترڅو چه په بري کښې هم صبر و نه لري ايمان يې نه دی بشپړ ؛ ځکه په بري کښې صبر او استقامت کول ، د ماتې له صبر څخه ډیر سخت او ګران دی . او د ايمان د تکميل لپاره ضرور دي چه ثابت او مستقيم وي . شك او تردد يې زړه ته لار ونه لري ، او د ايمان په رڼا کښې مخ په وړاندې روان وي .

د ايمان حقيقت په زړه کښې نښې پوره کيدای ترڅو کړي دهمدی ايمان په هکله لرلی لاری خلکو سره جهاد ونه

څنګه چې دغه مجاهدې په ضمن کښې له خپل نفس سره هم مجاهده کوي. چه په نتيجه کښې به د ايمان سپين اړخ افق د ده پر مخ داسې پرانيستل شي، چه هيڅکله به په ناستې او راحت کښې ورته معلوم شوي نه وای. او په خلکو او ژوندانه کښې به داسې حقائق ورته څرګند شي، چه بې له دې لارې به ورته څرګند شوي نه وای. او همدغه شان احساسات، تصورات عادات، انفعالات غوښتنې او طبيعت به يې داسې مرحلې ته ورسيږي، چه بې له سختې او درنې تجربې څخه به ورته رسيدلی نه وای.

او دا دې څنې هغه شيان چه په دې آيت کښې اشاره ورته شويده: «وَلَوْلَا دَفْعُ اللَّهِ النَّاسَ بَعْضَهُم بِبَعْضٍ لَّفَسَدَتِ الْأَرْضُ»[1]. او لمړنی فساد چه د جهاد له پريښودو څخه پيښيږي؛ د نفسونو رکود عطالت او تن پروري ده، چه له دې سره يو ځای روح مخ په فساد روانيږي، او همت سستيږي، او لهځه يې بيخي له منځه وړي. چه وروسته له ژوندله رکود، لهی او

---

[1] البقرة: ۲۵۱ — پر ۶۱ مخ کښې ترجمه شويده.

Marfat.com

جمود سره مخامخ کېږي ، او یا خو نفسونه فقط د شهواتو په میدان کښې د ځغاستې او لوبیدو په سبب فاسدېږي . او دا پول نساد د هغو تولنو په برخه کېږي چه په لمنه داوتن پروړ نه اختر شوي وي .

او دا هم د انسان د هغه فطرت او جوهبنت په اساس دی چه خدای (ج) ده ته وربخښلی دی . د دې فطرت صلاح او کته یې په هغه جهاد کښې کېږي چه ده ته انسان یې د ژیرالو د سعادت لپاره . د لښکرو ښیښو لپاره د خپل توان په چوکاټ کښې د الهی دین په ټینګولو او تطبیق کښې کوي .

نو د غه مجاهدې ، ابتلاګانې او سختې آزموینې پوازنۍ عملي لاره ده چه جامعه به یوه صف کښې په متحدانه توګه سره درولی ، او لږلیانو ، بې لارو ، سست عنصرو ، غولونکو ، او ځان سپونکو منافقانو نخنه پاکه او سوچه کوي .

او دا هغه حقیقت دی چه خدای (ج) غوښتې چه مسلمانې جامعې ته یې ورو ښيي . په داسې حال کښې چه دا جامعه به لږ آزموینې او ابتلاء ، سختې تجربې او تر خوږو دوغ سره مخامخ ، او د زړونو پټ اسرار به برملا کېږي . او د حق او باطل صفونه به سره بېلېږي .

او دا هغه حقیقت دی چه خدای (ج) غوښتې اسلامي ټولنه یې پوه کړي . پاک خدای (ج) دا حد د غه واقعي تعقیبې

او د مسلمانانو د دې سؤال «أَنَّىٰ هَٰذَا؟» دا مصيبت له کومه څخه پر موږ راغی؟ په ځواب کښې داسې فرمايي: «قُلْ هُوَ مِنْ عِنْدِ أَنْفُسِكُمْ» - وروسته وايي چه: دا بخپله ستاسو له خوا وو» وروسته لدې فرمايي: «وَمَا أَصَابَكُمْ يَوْمَ الْتَقَى الْجَمْعَانِ فَبِإِذْنِ اللَّهِ وَلِيَعْلَمَ الْمُؤْمِنِينَ. وَلِيَعْلَمَ الَّذِينَ نَافَقُوا»[1] (آل عمران: ۱۶۶ - ۱۶۷)

«مَا كَانَ اللَّهُ لِيَذَرَ الْمُؤْمِنِينَ عَلَىٰ مَا أَنْتُمْ عَلَيْهِ، حَتَّىٰ يَمِيزَ الْخَبِيثَ مِنَ الطَّيِّبِ ....»[2] (آل عمران: ۱۷۹)

«وَلِيَعْلَمَ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا وَيَتَّخِذَ مِنْكُمْ شُهَدَاءَ، وَاللَّهُ لَا يُحِبُّ الظَّالِمِينَ ...»[3] (آل عمران: ۱۴۰)

داهغه لي يادونې دې لپاره دي چه مسلمانان وپوهېږي چه دا مصيبت د هغو تقصير نتيجه وه چه د احد په غزا کښې يې په خپلو احساساتو او اعمالو کښې د کامل ايمان حقيقت نه و

---

(۱) هغه (مصيبت) چه د دواړو ډلو د مخامخ کېدو په ورځ، د احد په جګړه کښې درورسېد، د خداي په اراده و. د دې لپاره چه مؤمنان او منافقان د واړه وپېژني.

(۲) خداي تعالی هيڅکله مؤمنان په هغه حال چه تاسې يې «يعنې مخلص مؤمنان له نورو سره ګډ دي» نه پرېږدي. تر څو چه (ضدي) پاك (مؤمن) له کرغېړن او خبيث (منافق) څخه بېل نکړي.

(۳) د دې آيت ترجمه مې د نورو آيتونو په لړ کښې په ۱۹۱ مخ کښې وکړله شي!

Marfat.com

بنکاره کړي. خو پر ځای کښي بیا هم د دوی به کته تمام شو. ځکه خدای (ج) د فضل له مخي د دوی له تقصیره تېر شو، او د دې مصیبت نتائج د دوی د پاکوالي، خالص توب، او د صفونو د پېژندني لپاره لوی درس وګڼل شو ... او داټول په نهایي تحلیل کښي د دوی د ځان او د ژوندانه لپاره بنسټ او ګټور دي.

زموږ خبره د اسلام د مسیحلي دین د کرېکټېر او طبیعت پر هکله پدې لاهم نه تمامیږي، بنایي د پخوانۍ بحث د توضیح لپاره څو کلمې هم زیاتي کړو:

داچه د دې دین تطبیق د لښتي قدرت په اندازه، او مادي وسائلو په واسطه په مختلفو سویو او مختلفو محیطو نو کښي لښتي کوښښ او فعالیت پوري اړه لري ... دا معنی نه ورکوي چه انسان په تمامه معنی پدې مورد کښي استقلال لري، او د خدای (ج)، له اراده، قدرت، مرستي او توفیق څخه پرته په هیڅ ډول صورت خیل کار سرته رسولی شي. بلکه دا رنګه تصور اساسًا د اسلام له طبیعت او تصور سره مخالف دي.

او مخکښي مو وویل چه: خدای (ج) د حق له مجاهدینو سره مرسته کوي: "وَالَّذِينَ جَاهَدُوا فِينَا لَنَهْدِيَنَّهُمْ سُبُلَنَا" ... (۱) او خدای (تعالی) هغه وخت د خلکو

(۱) په (۵) مخ کښي ترجمه شوېدي.

Marfat.com

د هوساینی حالت بدلوی، کله چه دوي خپلی وضعی ته تغیر ورکړي. او ترڅو چه دوی بخپله خپل حالت ته تغیر ورنکړی، خدای تعالی د دوی وضعه بل شان نه کرځوی: « إِنَّ اللهَ لَا يُغَيِّرُ مَا بِقَوْمٍ حَتَّىٰ يُغَيِّرُوا مَا بِأَنفُسِهِمْ » (۲)

او دا دوه قرآنی نصونه مونږ ته راښیی چه: د بشري کوښښ او جهد، او الهی مدد او مرستی ترمنځ ښکاره علاقه موجوده ده. چه په نتیجه کښی د غه الهی مرستي او بشری مجاهدې انسان د خیر او هدایت، صلاح او فلاح سرحد ته رسوی.

نو بالآخره د خدای اراده بیا هم مؤثره ده، او د خدای له ارادې پرته، انسان بخپله مستقلا هیڅ نشی کولی. خو دا اراده هغه چاسره کومک کوی چه د خدای لاره ویږنی، مرسته یی وغواړي، او د رضا لپاره یی جهاد وکړي.

او د خدای تقدیر - د غو ټولو څرګندونو په اړخ کښی - بیا هم پر ټولو خلکو او پیښو احاطه لري. او د هغه له مقتضا

(۲) په (٦) مخ کښې ترجمه شویدی.

Marfat.com

سره سم هر څه سر ته رسیږي. ابتلاګانې او آزمایښتونه او هغه خیر چه د دې آزمایښت په پای کښې د بریالیو په برخه کیږي، هم په همدې اساس سره دي.

د ابو حقیقت دی چه الله - تعالیٰ - غوښتي اسلامي جامعې ته يې ور وښیي. او هدارنګه د احد دغزا په تعقیبولو سره، دیرې او ماتې اسباب چه د دوی له اعمالو څخه منځ ته راغلي وُ هم بیانوي، او وروسته بیا د ابتلاء، یرغ او ماتې اساسي حکمتونه او تدبیرونه د اسې څرګندوي:

«وَلَقَدْ صَدَقَكُمُ اللَّهُ وَعْدَهُ إِذْ تَحُسُّونَهُم بِإِذْنِهِ، حَتَّىٰ إِذَا فَشِلْتُمْ وَتَنَازَعْتُمْ فِي الْأَمْرِ، وَعَصَيْتُم مِّن بَعْدِ مَا أَرَاكُم مَّا تُحِبُّونَ: مِنكُم مَّن يُرِيدُ الدُّنْيَا وَمِنكُم مَّن يُرِيدُ الْآخِرَةَ. ثُمَّ صَرَفَكُمْ عَنْهُمْ لِيَبْتَلِيَكُمْ»(۱)

---

(۱) آل عمران: ۱۵۲ - پاک خدای خپله وعده هغه وخت درسره رښتیا کړه، چه دده په اجازه مو کفار په وژلو سره له منځه وړل. تر څو چه بې زړه، او د جنګ په باب سره مخالف شوئ. او وروسته له دې هغه څه چه تاسې يې خوښوئ، «مالونه، مودرو ښودل، نافرماني مو وکړه. ځنې مو دنیا، او ځنې نور مو آخرت غواړي. بیا مو د آزمويني دپاره له کفارو څخه راوګرځولی.

59580

Marfat.com

اوخدای (ج) غوښتې چه خپله شامله کړنلاره دوی ته وروښيي، يدې توګه چه: د الاريه پای کښې - د اسبابو لرساچي څخه د باندې - په الهی آزادی ارادې اوعملي کېدونکی تقدير پورې اړه لري. نووايي: "إن يمسسكم قرح فقد مس القوم قرح مثله، وتلك الأيام نداولها بين الناس، وليعلم الله الذين آمنوا ويتخذ منكم شهداء، والله لايحب الظالمين. وليمحص الله الذين آمنوا ويمحق الكافرين" (۱)... (آل عمران: ۱۴۰)

نوپه پای کښې بيا هم، دادخدای پالنه، اراده اوتقدير دی چه الهی غوښتنې - د اسبابوله دائرې د باندې - سرته رسوی. او يدې مورد کښې له خدايه هيڅکله پوښتنه نشي کېدلای؛ خکه الهی شان اوقدسيت. له هر دول سوالونوڅخه دېرهسك اواوچت دی... اوهمدا دايمان هغه ستر حقيقت دی چه د انسان په نفس کښې بې له ټينګېدو او دادڅخه نشي بشپړ کېدلای...او دا هغه تکمله ده چه رهونږ ددی فصل دموضوع - ددې دين طبيعت اوتګلاره - لپاره ضروري برښېده... حال داچه هغه مسلمان چه د دې دين پرحقيقې بښ ( لکه چه خدای ترسيم کړی ) بسه پوه دی، ددې حقيقت د دواړو اړخونو - دخدای اراده اودښد کوښښ - ترمنځ کوم تعارض نه وينی، اونه د هغو منکرو اومفرراتوله کبله چه د خدای له کتاب څخه ئې اخيستل شوي، لدې حقيقت سره معارضه کوی...

(۱) ددې آيت ژباړه دې د (۱۹۱) مخ په پای کښې وکتله شي

Marfat.com

# مُمتازهَ لارُ

اوس نو څنې کسان وايي : که څه هم اسلام - سره لدې چه د بشري ژوندانه لپاره يو الهي لاره ده - بې له بشري جهد او طاقت ، او د مختلفو محیطونو له مادي استعدادونو څخه پرته نشي کېدلای په محکمه او د خلکو په ژوند کښې تحقق ومومي ... نو د نورو هغو بشري مسلکونو په نسبت - چه بشري تخیل لاس د هغوی د ځان لپاره جوړ کړي ، او د خپل وس او توان په اندازه یې د بشري قدرت او مادي واقعیت په د ننه کښې مخ پر وړاندي بیایي - څه امتیاز لري ؟ او ولې په موږ واجب ده چه د دې لارې په تطبیق کښې زیار وباسو ؟ په داسې حال کښې چه د دین هم د نورو مسلکونو په شان بشري مبارزې ته اړه لري ؟ او هیڅ یو جزء یې هم د الهي بیا وړاندي قدرت ، او خارق العاده معجزې په واسطه تحقق نه مومي ؟ بلکه د الار د بشر په ژوندانه کښې ، د بشر د فطرت ، عادي توان ، او د ژوندانه د ظاهري اوضاعو په چوکاټ کښې تحقق مومي ؟

* * *

Marfat.com

ترڅولو د مخه مونږ مکلف یو چه د دې لارې د تطبیق لپاره مبارزه وکړو، ترڅو کولای شو د اسلام رښتنی مفهوم عملي نفس کښي وروزو. حُکم د اسلام لمړنی رکن په: لَا إِلٰـهَ إِلَّا اللهُ مُحَمَّدٌ رَّسُولُ اللهِ. باندی باور کول دی. او د «لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ» نږدې او صحیح معنی داده چه: یوازی خدا د الوهیت خښتن او د عبادت وړ دی، او له ده سره هیڅوک په هیڅ خاصیت کښي اشتراك نلري... او د الوهیت له لمړنیو خاصیتونو څخه یو هم د مطلق حاکمیت حق دی، چه په هغه کښی د بشر لپاره د قانون اېښودلو حق، د خلکو د ژوندانه لپاره د تګ لارو د تعیینولو حق، او د هغو اړښتونو د وضع کولو حق شامل دی چه د دی ژوندانه اساس بلل کېږي. په «لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ» باندې باور کول هیڅکله محقق نشي کېدلای ترڅو پردی اعتراف ونکړو چه: د بشري ژوند د تنظیم لپاره یوازې خدای د قوانینو د اېښودو حق لري او بس. او همدارنګه د لبشري ژوند د سمون لپاره یوازې د همدې لارې د تطبیق لپاره مجاهده، د نوموړي باور اساس او بنسټ دی... او د بشر په ژوندانه کښې د دی لارې د تطبیق لپاره له مجاهدې څخه پرته. بل هیڅ

نشي د نوموړې باور اساس نشي تشکیلولای ... او کرم چاځان ته د انسانانو لپاره د قوانینو او تشریع د وضع کولو په باب د حق لرلو ادعا وکړه، نو پر انسانانو یې د الوهیت د حق دعوی کړېده. ځکه د الوهیت له خصائصو څخه یو هم د تقنین او او تشریع حق دئ. نو کله چې دئ د دې حق ادعا کوي نو بسکاره ده چې دئ د الوهیت د لوی خاصیت مدعي دی. او کرم چا یې دې لاره کښې تأیید کړه، نو بسکاره ده چې په خدایي ورته قایل شوي دي. ځکه ده ته یې د الوهیت په ستر خاصیت اعتراف کړیدی... او د «أَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا رَّسُولُ اللّٰهِ» سالمه او ټینګه معنی د همغې لارې تصدیقول او ښه تیا کېدل دي چې: محمد (ص)، د خدای له لورې راوړېده، داسې چې په ښه تیا سره د ا د بشر د ښکمرغۍ لپاره یوه الهي لاره ده، او یوازې همدغه لاره ده چې موږ مکلف یو ټول ژوند او د ټول بشر په ژوندانه کښې یې عملي او تطبیق کړو. او د نورو ټولو غولونکو باطلو پرستیو پسې لاړه نشو.

نو لدې کبله موږ مکلف یو چه د دې لارې د تطبیق لپاره زیار وباسو، تر څو د اسلام حقیقي صفت چه دعوی یې لرو د ځانو لپاره وګټو. او دا صفت یې لدې چه په: لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ مُحَمَّدٌ رَّسُولُ اللّٰهِ، باندې کلك باور او ایمان ولرو، نشي

Marfat.com

حاصلیدلای . او دا شهادت او باور یو دي اساس ولاړ دی
چه ایمان ولري: یوازې خدای (ج) د الوهیت د صفاتو خاوند
او دڅرونداڼ د کړنلارې د ایښودو مستحق دی . او هغه محمدی
شریعت چه دخدای له لورې دبشری سعادت په منظور راغلی مرو
باید تحقق ومومی .

او موږ مکلف یو دهغو اسبابو لرمنځ چه په جمله په همدې
دین پورې تعلق لري ، د دی کړنلارې د تطبیق لپاره مبارزه
وکړو ، ځکه همدغه دین دئ چه د انسان کرامت
ساتي ، او حقیقي آزادي ورپه برخه کوی ، او دنورو انسانانو
لرغلامۍ نه بې خلاصوی .... یوازې همدغه دین دی چه
انسان ته د انسانیت او د الهی عبادت په چوکاټ کښې کامله او
بشامله آزادي ورکوي ، دخلکولر بندګۍ څخه یې آزادوی ،
او دخلکو دخالق عبادت ته یې رابولي .... او د څخه یې پرسر
بې لر اسلام څخه بـل هیڅ مسلك نشته چه د اخاصیت ولري ...
هغه ربانی خاصیت چه یوازې خدای د الوهیت په صفت
پیژني ، او د دې پر بنسټ یې په اساس یوازې الله (ج) ته د تام
حاکمیت حق ورکوي چه د هغه لرمنځ دبشر د ژوندانه
لپاره کړنلاره او قوانین جوړ دي ... انسانانو ته یو خدای
او یو لارښوونکی ښاکي ، او نړیږي دي چه یوه په لـه

Marfat.com

يي دبلي ډلې خدايان وي ، داسي چه پردوی باندې د حاكميت ، بادارۍ او سيادت حق ولري .

دا دين د عبوديت هغه بنه غندي چه د نورو مخكني خدايانو په مقابل كښې ، چه د خپلو الهي خصائصو دعوې كوي - غلي او چپ كښيني . او دا خاصيت يوازې د همدغې الهي لارې « اسلام » په برخه دی او بس ... نه په ژبه ، او خوشي ادعا سره . بلكه په حقيقي ، واقعي ، او عملي توګه ... نو لرهمدې كبله ټولو پيغمبرانو - عليهم الصلاة والسلام - خلك لمړی د خدای د توحيد ، او بيا الوهيت كښي د ځانګړتوب لوري ته رابلل . او د خدای هغه سركش بندګان چه په ټګي سره مرلي پر خلكو د خدای په څېر امر و نه چلول - نه يې لښول چه د الوهيت له خاصيتو نو څخه د كوم خاصيت ادعا وكړي ، او بيا نتيجه كښې بيا د بشري ژوند د نورو لپاره د تقنين د حق ادعا وكړي ؛ او ور وسته بيا هغه كسان - چه د خدای په وحدانيت پوره ايمان نلري - د دوی تأييد او طرفداري وكړي .

خدای (ج) د يهودو او نصارو په باب وايي :

« اتَّخَذُوا أَحْبَارَهُمْ وَرُهْبَانَهُمْ أَرْبَابًا مِّن دُونِ اللَّهِ وَالْمَسِيحَ ابْنَ مَرْيَمَ ، وَمَا أُمِرُوا إِلَّا لِيَعْبُدُوا إِلَٰهًا وَاحِدًا لَّا إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ سُبْحَانَهُ عَمَّا يُشْرِكُونَ »[1]

(١) التوبة : ٣١

Marfat.com

حال دا چې دوی د عالمانو او رهبانو عبادت نه کاوه ، بلکه د قوانینو پر جوړولو کښې ئې دوی د حق څښتنان بلل ، او دا حق ئې یوازې د خدای ترنه وړ کاوه ، نو خدای (ج) د دوی په هکله ووېل چې : دوی خپل عالمان او زاهدان د ځان بادار (ب) وګڼل ، او پدې توګه ئې د خدای له امر څخه - چې توحید دی - مخالفت وکړ ، او په نتیجه کښې مشرکان شول ....

امام احمد ، ترمذی ، او ابن جریر په مختلفو لارو له عدی بن حاتم څخه روایت کړیدی : کله چه ده ته د رسول الله (ص) له خوا د اسلام د بلنې پیغام ورسید ، نو شام ته وتښتید ، او مخکښې لدې د جاهلیت په موده کښې نصرانی شوی وو ، نو خور او قوم ئې اسیران شول . وروسته له هغه څخه پیغمبر (ص) د ده له خور سره احسان وکړ ، او د بېرته تلو اجازه ئې ورکړه ، نو خپل ورور ته ورغله ، او دی ئې تشویق کړ چه اسلام ومني ، او د رسول الله په حضور مشرف شي . نو عدی د سخی حاتم طائی

---

(۱) دوی (اهل کتابو) بې له خدایه خپل عالمان او رهبانان "زاهدان" او د مریم زوی عیسی (علیه السلام) د ځان بادار ان - خدایان - وګڼل ، پداسې حال کښې چه دوی ئې د یوه خدای له عبادته (پرته له څخه) مامور شوي نه ؤ ، (شک نشته چه) بې له ده څخه بل هیڅوک د عبادت وړ ندی . او دی د دوی له شرک نه ورو لوڅخه پاک او منزه دی .

Marfat.com

زوی چه مجیل قوم "طیء" کښی مشهور ؤ، مدینی ته راغی. او دده د راتلو انګازه په خلکو کښی خپره شوه. کله چه دی د رسول الله (ص) محضور ته په داسی حال کښی چه د سپینو زرو صلیب یې په غاړه کښی ؤ - مشرف کیده، پیغمبر (ص) دا آیت لوست:

" اِتَّخَذُوا أَحْبَارَهُمْ وَرُهْبَانَهُمْ أَرْبَابًا مِّن دُونِ اللَّهِ.. "(۱) نو عدی وایی چه: ما ورته وویل: دوی د احبارو او رهبانو عبادت نه دی کړی. رسول الله (ص) ورته وویل: " بلی! إنهم حرموا علیهم الحلال، وأحلوا لهم الحرام، فاتبعوهم فذلك عبادتهم إياهم" هو! ټیک ده، خو احبارو او رهبانو حلال پری حرام، او حرام یې پری حلال کړل، او دوی (بې له دقت او ژوری کتنی څخه) د هغوی پیروی وکړه، چه په حقیقت کښی د دوی دغه کار د هغوی عبادت کول دی "!

سدی وایی: دوی په خلکو پسی ولاړل او د خدای کتاب یې شاته وغورځاوه. نو لدی کبله خدای (ج)، دا آیت رانازل کړ:

" وَمَا أُمِرُوا إِلَّا لِيَعْبُدُوا إِلَٰهًا وَاحِدًا "(۲) یعنی دوی د هغه یوه خدای په عبادت مکلف شوی ؤ، چه وغواړی یو شی حرام کړی نو هغه حرام دی، او کوم شی چه حلال کړی نو حلال دی. شرع یې مقبوله، او حکم یې نافذ دی....

---

(۱) او (۲) — په تیر ۲۹ مخ کښی ژباړل شویدی.

Marfat.com

نو یوازې اسلام دئ چه تنها خدای (ج) د عبادت وړ بولي. پداسې حال کښې چه یوازې همدئ (ج) په ټولو حاکم، او د بشري ژوند لپاره د تقنین او تشریع مستحق کېږي. نو لهمدې کبله اسلام یوازېنی مکتب دی چه انسانان د نورو له بندګۍ څخه خلاصوي او د واحد خدای عبادت ترې غواړي ... نو ځکه مونږ مکلف یو چه یوازې د همدې لارې په تطبیق کښې هڅه وکړو، نه د بلې لارې! مونږ مکلف یو چه یوازې د همدې لارې د تطبیق لپاره مبارزه وکړو. ځکه - د ربانیت او آسمانیتوب پر اساس - دا یوازېنی دین دی چه له انساني او بشري نیمګړتیاو څخه مبرأ، او له هغو بشري غوښتنو څخه - چه د تقنین له لارې بخیله مقنن، یا د ده کورنۍ، یا طبقې یا ملت، او یا نژاد ته د ګټې اړول دي - سالم شوی دی ....

ځکه چه ددې دین واضع خدای دی؛ داسې ذات چه د ټول بشر پالونکی او لارښوونکی دئ. نو هیڅکله دئ د خپل ځان د ګټې لپاره قانون نه دي، او نه ددې لپاره چه یوه طبقه پر بلې پورته وبولي او یا څوک ملت پر بل ملت بهتر، او یا یو نژاد پر بل نژاد هسک وښيي. او هغه بشري قوانین چه حاکم شخص، حاکمه کورنۍ، حاکمه طبقه، او یا حاکمه ټولنه، او یا حاکم او مقتدر نژاد یې وضعه کوي - د بشري طبیعت له مخې - هیڅکله نشي کیدای چه له هوس خواهی، او یا د قانون ایښودونکي له شخصي ګټو څخه سپېڅلي او پاک وي. خو کوم وخت چه الهي قانون د خلکو ژوند

اداره کوی ، بیانو داشیان له منځه ځی ، او داسی حقیقی ، کامل اوشامل عدالت یې پرځای دریږي ؛ چه نو بشری قوانین یې د خپلو نومو او مشخصاتو له کبله نشی سرته رسولی . ځکه د دغو قوانینو وضعي کوونکو او پر دننه کښنی په هیڅ صورت داسی شی نشته چه د انسانی هوس خواهی ، بشری ضعف ، او په شخصی کتو کښنی د حرص له عواملو څخه د دغه قوانین ، تدبیر او پاك وښیی . کوم وخت چه د شامل او کامل عدل په ټینګولو کښنی الهی لوړی لارښوونې - چه د هوس خواهی او خپلوی له هیڅ ډول تأثیر لاندی را تلای نشي - وار وړ ولنشي ، لکه د خدای ج د دغه ارشاد : « يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُونُوا قَوَّامِينَ لِلَّهِ شُهَدَاءَ بِالْقِسْطِ ، وَلَا يَجْرِمَنَّكُمْ شَنَآنُ قَوْمٍ عَلَىٰ أَلَّا تَعْدِلُوا ، اعْدِلُوا هُوَ أَقْرَبُ لِلتَّقْوَىٰ ، وَاتَّقُوا اللَّهَ ! إِنَّ اللَّهَ خَبِيرٌ بِمَا تَعْمَلُونَ »[1]

( المائدة : ۸ )

نو د ځینو کسانو په مغزو کښنی کله کله دا ګرځی چه وو ایي : کوم دی هغه تضمینونه چه وکولای شي د لوی خدای له اوامرو سره سم په ملاتړي

(۱) ای مؤمنانو ! د پاك ، خدای تر په رسم ولاړ ، او د عدل شاهدان اوسی . او د قومونو کینې او دښمنی ، مو مجبور نکړی چه عدالت و نه کړی . عدالت وکړی چه هغه د تقوی تر زیات نژدی دی . له خدایه و ویرېږی ، ځکه چه : ستاسی په کارونو ښه خبر دی .

Marfat.com

ټولنې داسې عدالت منځ ته راوړي چه په رښتيا بشريت لدې ټولو کړاونو څخه خلاص کړي ؟

هو ! د ټولنې اسلامي کړنلارې حقيقي ضمانت د مسلمان په دننه ضمير کښې پروت دی . داسې ضمانت چه سرچينه ئې هغه ټينګ ايمان دی . نو هر کله چه پردې دين باندې ايمان پيدا شو ، له هغه سره يوځای کالک او ټينګ تضمينونه منځ ته راځي . مسلمانان لرخپل دين څخه دا زده کوي چه : د دوی د موجوديت ، بری ، او په ځمکه کښې د قدرت لرلو بنسټونه پوټل د همدغو لارښوونو پر اداء کولو او وفاء باندې ولاړ دي . کرمنر ، له منځه ځي ، او بری يې پر ماتې بدلېږي ، خوار او خپل قدرت لرلاسه ورکوي ، ځکه چه خدای ورته وايي : « ولينصرن الله من ينصره ، إن الله لقوي عزيز . الذين إن مكناهم في الأرض أقاموا الصلاة وآتوا الزكاة وأمروا بالمعروف ونهوا عن المنكر ، ولله عاقبة الأمور »[1]

---

(۱) الحج : ۴۰ – ۴۱ . خامخا به خدای (ج) له هغه چا سره مرسته کوي . چه د ده ملاتړ کوي «يعني د ده د دين ټينګ ملاتړ کوي» . بې شکه چه خدای زورور او غالب دی . (رښتني مسلمانان) هغه کسان دي که چېرې دوی ته په ځمکه کښې توان ورکړو ، لمونځ به کوي ، زکاة به ورکوي ، په ښو امر او له بدو څخه منع کوي . او (بالآخره) د کارونو پای (بری او ناکامی) د خدای په لاس کښې دي .

Marfat.com

.... او دوی یقین لري چه که له لارې کاږه شي ، بیا نو خدای (ج) د دوی مراعات نه کوي .

اسلامي ټولنه د دغو توجیهاتو او لارښوونو حقیقي تضمین دی ، ځکه دا ټولنه په همدغې عقیدې ولاړه ده . او الهي مکلفیتونو ته ځای کوي . او یقین لري چه په هره لحظه او تفریط کښې به ټول له داسې وېرې او عذاب سره مخامخ کېږي چه هغه دیوانې د ظالمانو پر دې پورې اختصاص نلري ، بلکه هلته ټول په عذاب کښې سره ګډ او شریك دي ....

نو له همدې کبله مونږ مکلف یو چه دا لاره په ترڅ وندې او اومنځ ته راوړو ، ترڅو همدغه کامل او شامل عدالت - چه دیوانې په همدغه لاره منځ ته راتلای شي - تحقق ومومي .

* * *

مونږ مکلف یو چه د دې لارې « اسلام » د تطبیق لپاره مبارزه وکړو . ځکه دا یوازنی مسلك دی چه د بشري جهل او قصور له نتایجو څخه چه د انسان له ضعف سره پیدا شوي ، پاك او خوندي ساتل شویدی . ځکه چه دغه وینځ یې د دې انساني موجوداتو خالق دی ، چه په اصلاحي او مناسبو لارو چارو یې سم خبر دی . او د بشري ژوندانه په اوږدو کښې د انسان په ټولو جوړښتونو او ترکیبونو او همدارنګه په ټولو ځکنیو او عالمي اسرارو پوره علم لري ... نو کله چه د همدغه لارې وضعه کړه ، خامخا یې ټول هغه

عوامل پر نظر کبنې بيولي دي چې بشري پوهنې او افراد په هيڅ عصر کښي نشي پرې پوهيدلای . ځکه ځينې عوامل دي تر اوسه دي چه تولي تجربې او د بشري ژوندانه د تېر شوو ، او سنيو او راتلونکو دورو اوضاع او حالات ( چه را اغلي ندي ) کشف او وخبرول شي امکان دا مستحيل او غير ممکن کار دی . او ځينې عوامل دا اقتضا لري چه بايد د جهان په ټولو پټو اسرارو چه پر انسان راچاپېر دي اطلاع حاصله شي ، او دا هم ممکنه نه ده . دا ځکه چه بچيله بشري ادراك كمزوری دی ، او لدې نخه قاصر دی چه حتی په هغو شيانو چه تر تجربې لاندې راوړل کيدای شي ، په مطلقه توګه صحيح او ثابت حکم وکړای شي . ځکه چه انسان د خپل خاص طبيعت د غوښتنو تر تأثير لاندې او په محيطي نيمګړتيا محکوم دی ... نو ويلای شو : هر هغه قانون چه د بشر له ناقص ذهن نخه راوتلی وي ، هيڅکله د عملي کېدو وړ نه دئ .

او بيا هکله خدای ( ج ) وايي : " وَلَوِ اتَّبَعَ الْحَقُّ أَهْوَاءَهُمْ لَفَسَدَتِ السَّمَاوَاتُ وَالْأَرْضُ "[1]

( المؤمنون : ۷۱ )

---

(۱) که چيرې حق ( الله او قران ) د دوی په هوسونو پسې تللی وای . نو خامخا به آسمانونه ، ځمکه او په دوی کبنې موجود شيان فاسد شوي وای .

Marfat.com

... اووايي : «ثُمَّ جَعَلْنَاكَ عَلَى شَرِيعَةٍ مِنَ الْأَمْرِ فَاتَّبِعْهَا، وَلَا تَتَّبِعْ أَهْوَاءَ الَّذِينَ لَا يَعْلَمُونَ»[1] ...
( الجاثية : ١٨ )

کله چه له خلکو څخه پوهه پټه نه پوهيږي ... او داسې مطلق علم نلري چه د بشري ژوندون لپاره د کړنلارې او تقنين اېښودل د هغه ته ضرورت لري ... تو له همدې کبله کوم وخت چه دوی د هغو کار و تو غوښتنکوي چه د دوی له توان او قدرت څخه پورته دی ... نو بې له هوا، هوس او جهل څخه بل شي نه وربا تې کيږي، دا کار برسېره پردې چه د الوهيت پر ستر خاصيت دعوی کول دی ... يوه لويه ګناه او لوی شر او فساد دی !

* * *

مونږ مکلف يو چه د دې لارې د تطبيق او تحقق لپاره مبارزه وکړو . ځکه د الاره يوازنۍ الهي طرحه ده چه د بشري ژوند نظام - په حقيقي توګه سره - د هغه شامل تحليل او کامل تفسير په اصولو دروي، کوم چه په ټولو موجوداتو چاپېر دي ...

(۱) ای محمده! بيا مو په الهي شريعت برابر کړې - نو په دې لاره ځه ! او د هغو کسانو په هوسونو پسې مه ځه چه نه پوهيږي ..

او د موجوداتو پر سلسله کښې د انسان موقف راڅرګند وي ،
او بیا د انسان لپاره حقیقي هدف او سپیڅلې غایه ټاکي ، نه
هغه هدف او غایه چه جهالت او بشري هوسونو د غیر الهي
(مادي) مقرراتو او تصوراتو پر ترڅ کښې د انسان لپاره
ټاکلې ده .

اسلام یوازنۍ هغه کلك او سلیم اساس دئ چه د بشر
د ژوند انز نظام پر طبیعي اصولو درولي . نو د بشري ژوندانه
هر هغه رژیم چه د دې شامل تحلیل « اسلامي نظام » پر
اساس جوړ شوي نوي ، پر طبیعي سالمو اصولو ولاړ نه دی
نشي . او دا هر هغه لاسي رژیم او تګلاره وي ، چه هیڅکله
داوږدې مودې لپاره باقي کېدلی نشي . او تر څو چه د بشریت
پر مخ کښې چلیږي د بد بختیو او شقاوت زېږونکې به وي .
او بالاخره انساني فطرت به یې له منځه یوسي ، او خلك به
هر وړو به تر خپل کلك او سلیم اصل « اسلام » ته را ګرځي .

د دغې الهي کړنلارې تحلیل یوازنی هغه صحیح تحلیل
دی چه د بشر سعادت تضمینولای شي . ځکه دا کړنلاره
د ټولو موجوداتو د خالق ، او په خپله د انسان د هغه خالق طرحه
او صنعه ده چه د موجوداتو پر حقیقت ښه پوه او خبر دی ...
د موجوداتو ، او د انساني عالم د وظیفې او غایې ، او پر موجوداتو
کښې د انسان د منزلت په هکله ، بل هر هغه تحلیل او تفسیر

Marfat.com

چې بحیله دانسان طرحه وی ناقص او نیمګړی تفسیر دی . ځکه چې د موجوداتو حلقه له انسان څخه د بڼ لویه او پراخه ده . نو هیڅکله ممکن نه ده چې انسان د دې لوی عالم په هکله ، شامل او کامل تحلیل او تفسیر منځ ته راوړي ؛ او دا ځکه ممکن نه ده چې د انساني عالم د وظیفې او غایې د ټا کلو لپاره - لکه چې له انسانی نیمګړو غوښتنو او هوسونو څخه ځان ساتل پکار دي - همدا رنګه د انسان او د نورو مخلوقاتو د هغه خالق کامل علم ته اړ لري چې د انسان د پید ایښت اراده یې کړې ده . او دا کار هیڅکله د انسان له لاسه پوره نه دی . نو ښکاره ده چې د اسلام له کامل تحلیل نه پرته بل هیڅ نظر او فلسفه نشی کولی چې بشری ژوند په پراخه معنی سره ، تنظیم کړی .

کله چې څوک د هغو فلسفی دفترو او پلټی چې غواړی د موجوداتو او په موجوداتو کښې د انسان منزلت ، او د انسانی عالم ورو ستنی هدف او غایه تحلیل کړی . نو د افکارو له یوه عجیب ازدحام سره به مخامخ شی ، چې په هغو کښې به د چیستاؤ او تردد پراخه ساده او خندونکی شیان وويني . د الاخره چه انسان تعجب کوی : څرنګه د اتصوراتو له " فیلسوف " څخه ښکاره شی ؟! خو کله په یاد راولی چې دا فیلسوف خو هم یو انسان دی ، او د بشری عقل نه پرته بل څه نلری ، او دا ځای د بشری عقل د ځغاستی میدان نه دی . نو هلته بیا د تعجب لپاره ځای نه پاتی کیږی ، او څرګندیږی چې دا خلک

Marfat.com

«فیلسوفان» هغه کسان دي چه خپل ځانونه يې د مفکورو په داسې ترکيبو «تیار» کښې غورځولي دي چه بې له هغې کمزورې رڼا څخه چه هغه هم د بل منظوره لیاره د خدای (ج) ورکړې ده، بل څه نشي ليدلی. دا کمزوره رڼا «عقل» یوازې پخپل ځای کښې د روښنايي حق لري او بس. او له خپلې وسې سره سم باید ګام پورته کړي، او د بشري توان په چوکاټ کښې د معقولاتو په څېړ نه بوخت، او د ژوندانه په مادي وسايلو کښې خپل نیلئ وځغلوي. د واقعي ژوندانه، او په محکم کښې د خلافت په منظور له الهي کړنلارې سره سم، او د مقتدر خدای په مرسته، د موجوداتو، او انساني عالم د نهايي هدف کامل تحليل، او الهي مفصلو لارښوونو په رڼا کښې مخ په وړاندې حرکت وکړي. او بیا هم مخ په پوره تسليم ګامونه واخلي؛ او همدا دئ هغه منظور چه خدای تعالی د هغه په اساس انسان ته د ارڼا «عقل» وربښلي ده ... الهي کړنلاره د غه شامل تحليل، د انساني صحيح تصور په انداره، او په هغې اندازې چه د بشري ژوندانه نظام پخپلو طبيعي اصولو ودرولای شي، له ځانه سره لري.

نو مونږ مکلف يو چه د همدغې کړنلارې د تحقيق او منځ ته راتلو لپاره مبارزه وکړو. ترڅو بشري ژوند پخپلو اصلي

Marfat.com

او طبیعي اصولو او پېښو ودرو . ځکه بل چېرې هیڅ داسې قانون نشته چه داسې ضروري او بشپړ خاصیتونه ولري، او بشري ژوند ته حقیقي تو که تنظیم کړي .

* * *

بالآخره مونږ مکلف یو چه په ټول قدرت سره د دې لارې «اسلام» د تطبیق لپاره مبارزه وکړو . ځکه دا یوازنی مسلك دی چه د کائناتو له فطري نظام سره سمون لري، او انسان نشي کولای ځانته داسې لاره غوره کړي چه له دغه جهاني فطري نظام سره برابره نوي - په داسې حال کښې چه دی مجبور دی د کائناتو په چوکاټ کښې واوسي، او په ټول ژوندانه کښې د کائناتو له نظام سره سم حرکت وکړي ....

د انسان د ژوندانه د کړنلارې ، او د کائناتو د نظام ترمنځ سمون او یووالی د دې ضامن دی چه انسان فطري او طبیعي ستره قوتونو ته د جوړښت او موافقت لاس ورکړي ، او د تصادم او تخالف مخه ونه نیسي ، ځکه چه له دغو طبیعي قوتونو سره تصادم او تخالف ، د دې سبب ګرځي چه انسان سخت زوړل ، او له خپل بشري مسیر څخه منحرف شي ؛ چه بیا به نو په ځمکه کښې د الهي خلافت هغه د نده « وظیفه » ترې پاتې شي کوم چه لوی خدای له ده څخه غوښتي ده . خو کله چه د کائناتو له عمومي

نظام سره د تناسق او توافق مزي ټينګ کړي ، نو دهغه دپټو اسرارو ، تسخیرولو ، او پخپل ژوندانه کښې له هغه نه د ښې ګټې اخیستلو کالی لاس ته راوړي . او ددې په عوض چه د کائناتو پراوړخان وسوځوي ، له اوره ځنه په پخلی ، ځان تودولو ، او تنویر کښې استفاده کوي !!!

بشري فطرت اساساً د کائناتو او طبیعت له عمومي نظام سره سم برابر دی ... خو کله چه انسان په خپل ژوندکښې لدی نظام څخه د باندې پښه ږدي . نو ، نړیوال له طبیعت سره تصادم کوي ، بلکه له خپل ذاتی فطرت سره هم ټکر خوري . چه په پای کښې بدمرغه ، ژوبل ،حیران او زړه تنګی کیږي . اوله داسې تریخ ژوندسره مخامخ کیږي . لکه چه نن ورځ بې بشر لدغو ټولو علمي پرپالیتوبونو ، او د تمدن له ټولو مادی اسانتیاو سره سره ، بیاهم په ترخو عذابونو اوړانړ کړاونو کښې ته روي .

نن ورځ بشریت د بدمرغیو ،حیرانتیا ، زړه تنګوالی او اضطراب سخت کړاوونه ز غمي . د تریاکو ، نسوارو او نورو مسکراتو پټی تر شا په لیونی چتکتیا او احمقانه ځغلو او حرکاتو سره له انسانی واقعیتونو څخه تیښتی ، دناوړو او سخیفو موډونو په بازار ګډه ، او د هیپی توب په دنیا کښې بی خوده سرسام ګرځی ... له دغو مادی آسانتیاوو ، زیاتو تولیداتو ، د ژوندانه د زیاتو وسائلو او زیات فراغت او بیکارۍ د سره سره بیاهم بشریت له دغسې

Marfat.com

بدبختیو او انحراف سره مخامخ دی ... او هر څومره چه مادی رفاهیت او د اوسنی تمدن تبعیضی آسانتیاوی زیاتېږی ، هم هغومره بحرانونه زیاتیدونکی ، لوږه او تخریب لا پسی زیاتېږی ....

د غه تریخ حقیقت ، او تخریبی وضعی د ډارونکی خبری پښتنې بشریت پسی اخیستی دی ، او ځغلوی یې ، او سره لدې چه انسان لره ډیرې ویرې تری تښتی ، یرې پای کښی بیا هم لره همدې ترخې وضعې سره مخامخ کېږي .

که څوك دا اوسنی ماړه ، دولتمن او عیاش هیوادونه ، بیا تره بیا امریکا او سویډن چه د تمدن آسانتیاوی یې بشپړې برابری دي ، له نژدی وویني ؛ نو په لمړی نظر به دا حس کړی چه : داخلك له هغو ډارونکو خبرو څخه تښتی ، کومې چه دوی یې پسی اخیستی او ځغلوی یې . او دا به هم ژر ورته څرګنده شی چه : په دغو هیوادونو کښی مادی رفاهیت او سستی ، ظاهری هستی او بې نهایې حد د جنسی غرایزو اشباع په څومره وسعت او بې باکه جریان لری ! همدا رنګه به ورته ښکاره شی چه : دا هولې بد مرغه عصبی او روحي ناروغه ، جنسی انحرافات ، دماغی پرېشانه مرض ، لیونتوب ، بی ساری رنګارنګ جرمونه ، او له هر انسانی باشرافته تفکر څخه ، د تروندانه د تښتی والی نتیجې دي .

بشریت د علم له لارې ، د روغتیا او جسمی نارو غیو د علاج په ډګر کښی زیات بریالیتوبونه لاس ته راوړې . او د تشخیص او علاج

داسې وسایل او درمل یې کشف کړیدي چه پر ړندتیا هم منکاره برياليتوب کمل کېږي . پر تېره بیا چه « سلفا ، پنسلین او مایسین » یې ړاوایستل ؛ نو د طبابت زوړ جهان یې په نوي نړۍ بدل کړ ....

د صنائعو او تولیداتو په دنیا کښې یې داسې شیان مخ ته راوړل چه تقریبا معجزاتو ته ورته دي . او لا هم پدې لاره کښې مخ په وړاندې روان دي .

او همدا رنګه په فضائی اکتشافاتو ، مصنوعی سپوږمیو هوایی مرکزونو « Stations » ، او د فضایی بېړیو په جوړولو کښې یې هم ځرګند برياليتوب تر لاسه کړیدی ... او لاهم پدې لاره کښې مخکوی ....

خو د اټول شیان ، آیا د بشر په ژوندانه کښې کوم تأثیر غورځوی ؟ آیا پر روح ، ژوندانه باندی کوم اغېزه لری ؟ آیا نېکمرغی یې موندلی ده ؟ آیا خاطرجمعی او آرامی ورپسې شوېده ؟ آیا سوله او امنیت یې لاس ته راوړی دی ؟ ... نه ! هیچکله نه ! بلکه بدمرغی ، اضطراب ، پریشانی زړه تنګوالی او داسې لا زیات شویدی . او همدارنګه د تفکر له مخې د انسانی هدفونو ، او انسانی عالم د روستنی پړاو « نهایی هدف » په هکله هم یرغ نديتللی . خو کرچېږي د متمدن انسان مفکوره د انسان د وروستنی پړاو « نهایی هدف » په هکله له اسلامی

Marfat.com

منفکو ري سره مقايسه کړو ، څرګنده برښي چه دا ظاهري ځلبدونکې تمدن پر لعنت اوګرغیړن آفت دی ، چه انساني شعور او تفکر لاندې تيارې کندې ته غورځوي ، او انساني اهتمام ، هیلي او رغبتونه ، بلکه انسانيت يې نيمګړی کړی او له منځه يې وړی دئ.

مثلاً - دوی په امریکا کښې د نوي خدايانو عبادت او ستاينه کوي ، او د انسانيت ورو ستني پړاو ، نهایي هدف يې بولي ... مال ، لـذت ، شهرت او توليد د دوی هغه خدایان دی چه شپه او ورځ لاس په نامه ورته ولاړ دي ، نو له همدې کبله چپل ځان ترې ورك دی ؛ ځکه دوی د انسانيت وروستني پړاو ورك کړېدی . سرسام او به لاشعوري توګه لاس او پښې وهي ، او همدا دول وضع په نورو هغو ځاهلو هيوادونو کښې هم روانه ده ، کوم چه هلته د همدغسې مشابهو خدايانو عبادت کيږي ، ځکه چه خپل حقیقي خدای يې نه دی پيژندلی « نو خرد بر تيږي ، لرګي ، حيوان ، انسان ، او سپينې ، لذت ، شهوت او کاغذ ته د عبادت سر ونه ټيټوي » .

نو د دې لپاره چه بشريت مرد هلاکت له لوی ګرداب څخه ساتلی وي ، مکلفيت لرو چه د بشري ټولنو ژوند ته لپاره د دې الهي لارې د تطبيق په هکله هڅه وکړو ، تر څو بشريت

Marfat.com

دیوه او حقیقی خدای لوړته بېرته راوګرزوو ، اوله انسانیت سره لایق وړو ستنی هدف ، او د فطرت هغه نظام وروپېژنو چه پر کائناتو ، او پر ټول بشر راچاپېر دی.

او دا هغه حقیقت دی چه کامل کتاب - قرآن کریم - تأیید کړیدی ، پداسې حال کښې چه د هغو کسانو لاره غندی ، چه غواړی د غیر اسلامی شریعت خواته ورواوړي ، اوله الهی حیاتی لارې نه پرته ، بل مسلك د خپلو مشکلاتو حل کولو ته وګوري ، او بیدی توګه د دې کائناتو له حقائقو څخه سترګی پټی کړی ، او د جهالت له مخې خپل مخالفت څرګند کړي.

« أَفَغَيْرَ دِينِ اللَّهِ يَبْغُونَ ، وَلَهُ أَسْلَمَ مَن فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ طَوْعًا وَكَرْهًا ، وَإِلَيْهِ يُرْجَعُونَ »(۱) ؟

( آل عمران : ۸۳ )

وصدق الله العظیم ...

لوي خداي رښتیا ویلي ...

---

(۱) آیا دوی د خدای له دین څخه پرته - بله لاره - غواړي ؟ حال داچه د آسمانو او ځمکی موجوداتو - سره له ځمکی او آسمانو - ، په خوښه یازور - یوازې - ده ته - د تسلیم - غاړه ایښی ده - او - د حساب په ورځ - بیا ټول یوازې ده ته بېرته بیول کېږي.

Marfat.com

# آسانه لار

بیا هم ځنې کسان وايي چې بشریت خو د برې مودې لپاره دې یوار ځنه نامتوازولو پې لارې «اسلام» په اصولو پاتې نشو. او هغه متولنز چې څه موده مخکښې د ځکې پرسر په همدغو اصولو منځ ته راغلې وه، اوس له منځه تللې ده؛ او له هغه وروسته بشریت د نورو هغو رژیمونو خواته مخ کړ چې هیڅکله نشي کولای هغې هسکې څوکې ته – چه اسلام ورختلی و – ځان ورسوي. اما سره لدې هم دا پول رژیمونه د تطبیق په ساحه کښې بشریت له هغو سختو کړاونو سره نه مخامخ کوي، کوم چه د اسلام د تطبیق پر لاره کښې کالل شویدي!

دا خبره شاید د لمړي ځل لپاره صحیح وبرېښي. او ډیر لیکوال هڅه کوي چې د غه مفهوم د خلکو پر اذهانو کښې ځای کړي، او دا فکر رونډی کړي چې: د غه دین عملي کېدلای نشي، او نه واقعیت لري. او د بشر فطرت نشي کولای چې تر ډېرې مودې پورې دالاره تعقیب کړي، بلکه دا یو نمونوي «ممتاز» دعوت دی، چه د هغه افق ترځان رسول له بشري قدرت نه وتلی کار دی. خو د وی د دی مطلب د خیر ولو تر شا یو غولونکی او مکرجن غرض

لري ، چه هغه د اسلام تر سیوري لاندې د نوي ژوند د بېرته شروع کېدو په باب د نا امیدۍ او یأس منځ ته راوړل دي ، او د هغو مبارزو او هڅو شنډول دي چه د دې ثابت مسلك په لوري د بشریت د بېرته راګرځېدو په هکله کېږي . او د غو غولونکو مکارانو په هغو فتنو کښې ـ چه د عثمان (رض) په قتل شروع ، او وروسته بیا د علي (رض) او معاویه (رض) تر منځ اختلافونه منځ ته راوړل ، او بالآخره د پرو پښو پېښې وکړېدلې ـ د تخریب لپاره ښه مساعد فرصت وموند . او د صحیحو او غلطو روایتونو په ترڅ کښې یې د دې پلیتې او خبیثې معنې د ځای پرځای کولو لپاره ، ښه وخت لاس ته وروړه . چه کله به یې صراحةً ، او کله به یې د شرائطو او ظروفو لخوا د اشارې په توګه خلکو ته څرګندوله .

یدې غولونه کښې ـ د حسن نیّت لرونکي ، په غیر ارادي توګه ـ ځینو هغو مخلصو کسانو مرسته وکړه ، چه دوی ته عو ښتل د افتنه د هغې لوبې تاریخي مرحلې په لړ کښې ، د اسلامي منځ پروړاندې پر اختیا او فتوحاتو پر مخ کښې خنډ شي . او یدې خواشیني کېدل چه د حکومت په هغه سیاست کښې ، چه د پیغمبر او شیخینو په دوره کښې ؤ ، څه انحراف واقع شي ، او بیا د امیرانو په کړ پلار کښې کوم کوږوالۍ ولیدل شي ... هغه ؤ

چه دوي د پاك احساس او ادراك لرمخي ، په دې پوهېدل چه اسلامي پراختيا د خلافت لرلنده مودې راهيسې څه کده شوي او ډېر بدلې ده ! او د عنر نظريه به يې په جلټ آواز او پوره اخلاص ځرګندوله ، او د ممتازې ځلاندې ډېوې ، او د انساني هسك معراج په مينه بريې لاس او پښې وهلې .

خو د اموّل شيان بيا ځوره تجديد نظر ته اړه لري . او بايد بشري مختلف عوامل د دې دين له طبيعت سره اندازه او تخمين کړل شي . او په مختلفو محيطونو او شرائطو کښې ديوى او ږدې مودې لپاره د بشري په مختلف د رهبري په هکله د دې دين کړ ملانه ځرګنده شي ....

* * *

داخبره هيڅکله د رسترنده چه وايي : د عنر دين بشر په دا سې زياړ باندې مکلف کړ ولی دی چه بشري د عملی کولو طاقت نلري ، او يا په هغه باندې د ډېر وخت لپاره ثابت پاتې کېدلی نشي .

کرځه هم د عنر دين عملاً « د بشر د خالص مادی مدنيت په دوره کښې » له بشر څخه هسك او ډېر پورته دی . خو په عين حال کښې د عنر آسمانی شريعر لارښوونې د بشري فطرت سره سمې

Marfat.com

او پر انساني استعداد باندې بناشويدي . بلکه د اسلام د برسېرۍ عظمت په همدې کښې دی چه په لمړي مرحله کښې د فطرت په لار روان شوی ، او بیا هم د فطرت په لوري روان دی !

د ادین په لمړنۍ مرحله کښې د بشر زړه ته ځیلې لار ښیي د رک کوي ، د زړه نو سمې او کړی ورته ښی معلومې دی ، او په د بېر لطافت یې خیلی خواته راجذبوي . د ښه او د باندې یې ښه ځیږې او په استقامت سره لاره ور پیدا کوي . قدرت او توان یې ورښي ، او په سختو او هسکو مکلفیتونو یې په کماري . د بشر غوښتنې او اړتیاوې مطالعه کوي ، او هغه ته مثبت ځواب وايي . او همدا رنګه د بشر اصلي استعداد ورته څرګند دی ؛ نو ځکه یې د کار او فعالیت ، اصلاح او آبادۍ په لور مخ په وړاندې بیایي ....

لمر د غه ټول لوړوالی او سپیځلتیا ، ښکلا او لطافت سره سره بیا هم « انسان » لیاړه ... د همدغه انسان لیاړه چه د ځمکې پرمخ اوسي يو غوره نظام دی ... داسی نظام چه د فطرت ټولو مقتضیاتو ته په دره ستر کړکوري .

کله چه نفس له خپل فطرت سره سمون خوري ، د ده غوښتنې او اړتیاوې پرځای کیږي ، انرژی او استعداد یې د آبادۍ او کار لپاره

آزادي . نو داهغه وخت دی چه له زوندانه سره په آسانه ، سلا او رضايت خنګ په خنګ حرکت کوي . او د فطرت په هسکې کړنلاره د انسانيت لوړې څوکې ترمخ پرمخ ځي - په داسي حال کښي چه د اُنس او مینی ، اطمینان او باور پر اساس ، دا اوږده لاره ځانته لنډوي ؛ او په داوه زړه به يې سرته رسوي .

* * *

ځيني هغه شکمن کسان چه ډير خيل ځانونه ، او هم نوره خلک د دې لارې د تطبيق د امکان په هکله په تردد کښي غورځوي ، د دې دين له « اخلاقياتو » او اخلاقي عنصر له اصيلو ترټ ځخه وپريږي ، او په دين کښي د دې اخلاقي مکلفيتونو پر ځای کول د پېر سخت وره تر برېښي . او داسي وره ته سنکاري چه : دا خو د انسان د غوښتنو او فطري رغبتونو محرزيسی !

خو دا داسي خيال او وهم دی چه د دې دين په طبيعت بانديې له نر پوهيدو ځخه منځ ته راغلی دی ....

د اسلام اخلاقيات يوازې د قيدونو او فشارونو په راوړلو سره هيڅکله نشي ځرګنديدلی . بلکه دا اخلاقيات پخپله ذات کښي جوړونکي او آبادونکي قوه ، د پرليسي ، ورزلي لپاره فعاله هڅه ، او د سپيڅلي اسلوب په رڼا کښي د اصلي سرام د تحقق

Marfat.com

لیاره د حرکت او فعالیت پر لور د انګل دي ....

کار او زیار، استقامت او اصلاح د دې دین یو اخلاقي صورت دی. اما لټي او بیکاري بدې ځای کښي یو غیر اخلاقي خبره ګڼل کیږي. ځکه وزګارتیا له انساني هدف سره په اسلامي تعبیر کښي مخالف کار دی. ځکه اسلام انسان ته په ځمکه کښي خلافت ورکړي، او د جوړولو او آبادۍ لیاره یې د انسان قدرت او استعداد په کار اچول غوښتي دي.

د خیر د منځ ته راوړو لیاره له شر سره جنګیدل یو اخلاقي صورت دی؛ چه په هغه کښي اساسي او اصلي استعداد ونه او قدرتونه د انساني بقاء لیاره په حرکت راځي، او دا حرکت د اسلام په نظر کښي عبادت دی، هغه عبادت چه اخلاقي عنصر په روښانه توګه پکښي څرګندیږي ....

حتی که موږ هغه اخلاقي صورتونه چه په ظاهر کښي د قیودو او موانعو په څېر برېښي - پرته وګورو کتنه وکړو، نو دا به را څرګنده شي چه د غه قیود او موانع د پر مختګ، آزادۍ ... او حرکت اساسي ځرونه په پوره توګه منع راپېژني ....

د مثال په توګه: له جنسي حرامو شهوتونو څخه د ځان ساتنې صورت، چه په ظاهر کښي سخت او مشکل، او د غریزې په مخ

Marfat.com

کښې خنډ ښکاري ، په حقیقت کښې د شهوتونو له بندګۍ او د نورو تحفظ آزاد بدل ، او د هغه له غرونډی څخه ځان ژغورل دی ؛ چه د انساني آزادی، ثبات او نورو والی بلل کېږی . پداسی توګه چه د د غوښتونو اصلی محل - چه د اسلامی نظافت او پاکی په څرګانو کښې بیان شویدی - پاکی . او د هغو حلالو د اثر ویر د ښرکښې یې چه خدای روا کړیدی تعینوی .

او هدا رنګه د اخلاقی صورتونو څخه یو بل صورت چه ایثار دی ، د مطالعې لاندې نیسو ....

دا بېه د لمری ځل لپاره یو لوی تکلیف او کړاو ښکاري ، او د اسی برېښی چه یو ځانته د خپل مال ورکوونه ، د خپل مال له استفادی څخه د ځان ساتل او منع کول دی ... خو په حقیقت کښې دا کار له بخل څخه ننستېدل ، په حرص غالبېدل او د عمومی خیرا و آرامی لپاره د انسانی شعور انکشاف دی ... او په حقیقت کښې آزادی ، حرکت او د لوړتیا په لور پرمختګ دی .

موږ نشو کولی چه پدې لړکښې زیات مثالونه راوړو ، بلکه یه اسلام کې د اخلاقي « قیودو » د حقیقت د ادراک او پوهې لپاره هم دومره اشاره بس ده ، چه هیڅکله اسلامی اخلاق

د منستوغرائزو پر مخ کښی خنډونو ته ایجاد وی .

د اسلام په نظر کښی گناوی او هر ذالل [illegible] د اسی عمل [illegible] او قید ونه کنټرول کیږی چه انسانی امور د [illegible] کندی ته ورکښته کوی او د حیوانات په لیه [illegible] او پا [illegible] لوړ نظری او پټو عونه [illegible] او واقعی آزادی [illegible] کنټرول کیږی . او د اسلام ټول [illegible] اخلاقیات په همدی اساس [illegible] ولاړ دی .

اسلام ځرګندوی چه اصلاً [illegible] کښی د [illegible] دی ، او انسان په بنه خلقت او سالم فطرت پیدا شوی دی ، خو کله چه د خدای له لاری او [illegible] او د [illegible] فطرت [illegible] حرکت کوی نو هلته بیا د هلاکت او بدبختی [illegible] کښی پر مخ لویږی . لقدخلقنا الإنسان في أحسن تقويم . ثم رددناه أسفل سافلين . إلا الذين آمنوا وعملوا الصالحات . [illegible]

د التین ( ٢ ، ٤ ، ٥ )

نولدی کبله ویلای شو ، هر هغه [illegible] چه د نظر [illegible]

---

(١) [illegible] بیشکه چه انسان مو په ډیره [illegible] [illegible] پیدا کړی دی . او بیا مو د ټیټو کسانو د لی . او [illegible] کسانو چه ایمان یی راوړی او بنه عملونه یی کړیدی .

خوري بټول هغه قيدونه او مشکلات چه سليم فطرت يې را ايسار کړېدی له منځه وړي . او انسان د شهوتونو له ځنځير او بند څخه خلاصوي .

اسلام تل هڅه کوي چه د بشري ټولنو د رهبري واګې په لاس کښې ونيسي ، او خپل قدرت داسې څرگندې وساتي چه هيڅکله ظالمان او ستمگران ونشي کولای چه بيا خپل استبداد پر دوی قائم کړي .

او اسلام تل غواړي چه د بشري ټولنو ترمنځ داسې روابط پېښ ودړوي ، چه افراد د فطرت په هکله له داخلي انحرافاتو څخه آزاد ، او د دوی جوهر ونکو اوبې ساروقوتونوا و استعداد ونو تر ددې اجازه ورکړي ، چه را څرګند ، آزاد او سرلوړي شي . او ټول هغه خنډونه لرې کړي چه د بې محلک ، فطرت او خير غوښتنې ترمنځ واقع کېږي .

هغه کسان چه دا خيال کوي : چه د اسلام اخلاقيات د بشر پر اوږو ، يو دروند پېټی دی ، او د اسلام د تطبيق کولو مانع گرځي . دوی د غه ډول شعور ، د هغه مسلمان فرد له روحي څخه اخيستی دی چه له غير اسلامي قانون لاندې د جاهليت او ماديت په ټولنه کښې اوسيږي - داسې ټولنه چه اعمال يې د اسلامي قانون تر نظارت لاندې نه اجراء کېږي - نو څرګنده ده ، کله چه د ټولنې وضع داسې څنګه وي ، د اسلام اخلاقيات وروته يو لوی ملامتونکی پېټی دی .

Marfat.com

پر تېرو بیا د هغو کسانو لپاره چې د جاهلیت په کړغېړنه ټولنه کښې د ځېل سپېڅلي اسلام پر اساس ژوند کوي . او کړ داوضع د وام ولري نو نژدې ده چې دوی پر لدې نه هم سخت او ضاع سره مخامخ شي.

خو دا هغه طبیعي وضع نه ده چې گواکې اسلام پرمخ تر راورېږي حال دا چې اسلام خپل هسک ، سپېڅلي او انساني اخلاقیات رخلکو تطبیقوي - او لدې ډول وضعې سره په کلکه مبارزه کوي...

سلام یو واقعي او عملي نظام دی . تو لدې کبله وایي : هغه افراد چې اسلام په اساس ژوند کوي پر حقیقت کښې داسې ټولنه تشکیلوي چې اسلام خپل ورزونېږي غوړولي ، او په تمامه معنی یې د رهبري واکې پر لاس کښې اخیستي دي . او پدې ټولنه کښې فضیلت او پاکي ، خیر او پر مختلف هغه سلیم او انساني اعمال دي چې د دې ټولنې رهبران ورسره بنه اشنا دي ، او تل یې ساتنه کوي . رذالت او ناپاکي هغه بې لاریتوب او انحراف دی ؛ چې د دې ټولنې د قدرت خاوندان او لارښوونکي یې له منځه وړي ، او د محو کولو پر لاره کښې یې پر ټول قدرت سره مبارزه او هڅه کوي .

کله چې اجتماعي اوضاع پر همداسې توګه د اسلام په اساس سمون پېدا کړي ، نو هلته بیا اسلامي کړ نلاره د لشري ژوندانه لپاره یو ډېره آسانه او خوشالونکې لاره ده ؛ بلکه په هغه وخت

Marfat.com

کښې د اسلام سره مخالفت کول او انحراف سخت او مشکل کار
دی [illegible] تر هغو چه [illegible] تمامېږي چه د [illegible] حیواني شهوتونو
[illegible] شراو [illegible] په [illegible] کښې وغورځېږي . ځکه هغه
[illegible] الهي قوانین ، او د سلیم او مستقیم فطرت
[illegible] لاره [illegible] او [illegible] په مخ کښې دریږي

[illegible] اسلام [illegible] ټینګار کوي چه [illegible] بوازې
مطلق [illegible] او تولواکي خدای . او د خدای د لارې حق دی ،
او [illegible] دی کار غندنه کوي چه [illegible] مطلق تسلط د بل
[illegible] ، او غیر اسلامي [illegible] پر دوی عملي کړي
او اګر چه [illegible] فصل کښې موخر کیدی کړه [illegible] او عمل [illegible]
کمر ، او [illegible] او کامل شرک دی . ځکه اسلام په صورت لري
چه [illegible] یوازې خدای (ج) ته د الوهیت حق ورکول دی ، یعنې
په [illegible] کښې یوازې او یوازې د الهي لارې تطبیقول او عملي
کول ، او [illegible] کښې د الهي لارې په حقانیت او امتیاز
[illegible] دی ځکه همدغه د " لا اله الا الله " هغه ترڅنګ
او حقیقي معنی ده . اګر چه [illegible] کښې مو [illegible] دله
همدا رنګه اسلام لازمه کړېده چه داسې اسلامي ټولنې
پښو ودروي چه [illegible] لاندې هر مسلمان [illegible] د [illegible]

Marfat.com

دین په اساس او دهغو اخلاقو په چوکاټ کښې چه اسلام فرض کړیدي په اطمینان سره ژوند وکړي . ځکه اسلامي تصور او احساس د کائناتو او د انساني وجود د وروستني پړاو - چهای هدف - په هکله له ټولو هغو جاهلي - مادي - اندېښنو سره، چه انسان د خپل ځان لپاره طرح کړي ، او له الهي لارې ځخه لري - په هره زمانه او په هر ځای کښې لري غورځولي دي ، اساسي او ذاتي توپیر لري . او دا د آسماني او ځمکنې تقنین ترمنځ معمولي اختلاف نه دی چه په هیڅ صورت دلبشري کاروان د لارې په بیاني کښې سره یو ځای کیدی نشي ...

نو دا دی لپاره چه دا سیمه‌الی اندېښنې وکړل شي تحلیل او صور اصولو د پېرې لاره ده چه دا سي معتدله هواسره محیط منځ ته راوړل شي چه په تمام معني د جاهلیت ، مادیت ، له محیط سره او وارزي ، او د جاهلیت له ټولو څخه پاک او سوچه وي .

دا معتدله او مساعده هوا سره په اسلامي ممکو او ... تلک کوي چه له هغې ممکوټ څخه راوتلی ده ... او د آزادۍ او ... خیلو الکو په قسما کښې د خپل طبیعي تنفس او حیاتي ... ته دوام ورکوي ... ده چه کوم داخلي ... او پاتې وخندوي ، او یا له دې چه کوم خارجي موانع یې له منځه یوسي ، او یا تري بري وکړي .

Marfat.com

او بیا دی ټولنه کښې به مسلمان ځېری په آرامۍ او خوشحالۍ سره ژوندکوي ځکه دې ځېله سایه طبیعي توګه کښېتر پورته کوی . او دخیر او صلاح پر کار و ټولنه کښې رایات مرستیالان وینی . او د اسلامی اخلاقیاتو به پیروي کښی شعوری او اجتماعی هوسایښه او راحت حس کوي .

او بې لدغی ټولنې څخه د مسلمان ژوند په رښتیا ناممکن او یا لږ تر لږه سخت اوله کړاو نو څخه ډک دی . نو لدی کبله که څوک غواړي چه مسلمان وی ، بنایی پردې پوه شی چه اسلامی لارښوونې لې لدې چه داسلامی ټولنې په منځ کښې ، چه د اسلام تر سیوري لاندې ژوند کوي پر ځای راوړې ، بل چیرې یې نشی اداء کولې .

که نه ، دا یو غلط تصور دی چه څوک ګمان وکړي چه : د جاهلیت ماديت ، په ټولنه کښې وکولای شي دخپل اسلام له لارښوونو سره سم ژوند وکړي - حال دا چه په داسې ټولنه کښې دځ پوره تیل شوی او بې اهمیته فرد دی ... په روغ او سلیم محیط کښې د اسلامي کړنلارې پر ځای راوړل ډیر آسانه کار دی . او اسلام تل د هم‌غسی محیط او ټولنې د منځ ته راوستلو په لاره کښې هڅه کوي او د هم‌غه بنسټ په کېښود و سره خپلی لارښوونې په پلی‌ کوي .

* * *

Marfat.com

همدا رنګه دا لږ سره نده صحیح چه : دالاړه « اسلام » د محکمي قوانینو پرنسبت ، بشریت په مافوق طاقت زیاړو نومکلفوي ، حال دا چه بشریت لا تراوسه هم د جاهلي قوانینو په منګلوکښې سخت کړاو نه ژغمی .

د جاهلیت قوانین - چه بچیله بشر دځان لپاره وضع کړي او لدالهي لاربښوونو څخه ، په هرځای او هر زمان کښې په پراو پراو لري واقع دي - حتی په بهترو حالاتوکښې لاهم حتماً د بشر د جهل ، ضعف او هوس خواهي دنتائجو په داغونو داغل شوي او ټیمګړي شویدي . نوځکه دا قوانین له بشري فطرت سره کلي اویا جزئي تصادم پیښنوي ، او همدا سبب دی چه د جاهلیت قوانین - په هغه اندازه چه له فطرت سره تصادم کوي - بشري نفسونه هم د شقاوت په لور روانوي ، او پرسترګو یې د جاهلیت پردې ورغوړوي .

او همدا رنګه دا قوانین د بشري مشکلاتو یوه یوه جزئي برخه له منځه بیایي . خو د بلې برخې دپاره یې علاج د بل ایرغ په ضرر سرته رسوي ؛ او دا هغه عملي نتیجه ده چه د ناقص نظر له مخې ، چه په یوه وخت کښې د ټولو اړخو نوڅخه پرته نشي کولای - منځ ته راغلې ده . نوکله چه د هغې نوي نارغتیا د علاج په لټه کښې شي چه د لمړنۍ

Marfat.com

ناروغي له علاج څخه را پیدا شویږه ، پدی وخت کښی یوه بله نوې ناروغیه منځ ته راولی ... او پدی ډول یو ناروغوی او بـل راڅوروی ، او یا خوبی وژنلی ... ددی لپاره لوی شاهد دهغو پرله پسی بدلونو ، تغیراتو او کړه وړو دی چه زمونږ مطالعه ده چه بشری کړنلارو او قوانینو په تیره بیا دشلمی پیړی جاهلیت منځ ته راوړی دی ... شك نشته چه دغه او هاغه غیر اسلامی لاری بشری ټولنی له داسی زیاتونو او کمونو سره مخامخ کوی چه په خوځو واره له هغو زیاتونو څخه زیات دی . چه د کامل ، مستقیم او لـه فطرت سره برابر قانون " اسلام " په لاره کښی پی پاسی - هغه قانون چه دبشر ټولو مشکلاتو ته ، له ټولو اړخونو څخه ګوری . او د ژوری کتنی په اساس شامل او کامل علاج ورته ټاکی .

که څوك دبشری کړاوونو او دردونو دفترو پلټی - هغه کړاونه چه دبشریت په اوږده تاریخ کښی دجاهلی قوانینو ، او غیر الهی کړنلارو په سبب منځ ته راغلی دی ، هیڅکله به دا ونه وایی چه دا الهی کړنلاره - له ټولو تکالیفو او " اخلاقیاتو " سره سره ، بشریت دجاهلی قوانینو په نسبت له زیاتو زیاتونو او مشکلاتو سره مخامخ کوی .

ددی دین له آسانتیا وڅخه یوه وښانده مثال لا دادی چه : سړ

لدي چه د پر مختګ او انسانيت لوړ څوکه يې اساسي هدف او مدنظر ګرزولی ده ، بې له تدبر او پوهې څخه لاړ نو هې ، او نړ په عجله او واړ خطايي سره ګامونه اخلي ، او نه له مراحلو او پړاونو څخه سرسري تېرېږي ... بلکه بدې الهی کرنلارې کښې لاړ او نړ ده اواړته ده ، او افق يې زښت وسيع دی . نړلي د يوه سړي عمر محدود ولی شي ، او نړي د هغه فاني کېدونکې بشر شخصي رغبت ، چه د خپل لری هدف له پاتې کېدو څخه په ويره کښې وي - راپاروولی شي . لکه چه دا پول ويره د محکنيو مذهبونو او قوانينو عغه فاني کېدونکو خبستنانو ته ده ، پرېږ خپله پسېږي ، چه په يوه نسل او يوې زمانې کښې بې له تدبر او تعمق څخه په کار پيل کوي ، او له آرام او مطمئن فطرت څخه په ډېره چټکتيا او واړخطايي سره تېرېږي . او دا لدي لپاره چه وکولای شي ځان هغو ظاهري اهدافو ورسوي . سراب » ته ورسوي چه دوی ته د سراب په شان برېښي . او داسې نکوري چه د بصيرت لـه مخې په آرام او طبيعي ګامونو د اېراوطي کړي . او بالاخره د دې ناسنجيده او نه خپل شوو لاره ويره وهلو کښې انساني قصابي وينې تويول ، د ازښتونو محو کول او د ارتکه نوري ګډوډۍ منځ ته راځي . او په نتيجه کښې هم دوی څپله د هغه فطرت لـه ګډونو لاندې محو کېږي چه دا دېشر په لاس جوړ شوي

غیر مدبرانه جهانونو او تشکیلات بیا د هغه په مخ کښې توان نلري ، او د نابودۍ په لور روانیږي !

اما اسلامي کړنلاره په ډېره آساني اونږي سره د فطرت سره څنګ په څنګ روانه ده ، چه لیري خوالانبوونو رنه کوي او له بلې خوا يي له بې لارتوب څخه راګرځوي . او کله چه کوم شي بیا يي سموي ، مګر سره لدې ، نږي ماتوي او نږي محو کوي او نږي کمزوري کوي ... دا کړنلاره د پوهې او بصیرت له مخې د فطرت پر اساس ولاړه ، او له خپل واقعي هدف څخه ښه ډاډه ده . پیدې لاره کښې که کوم شي په لمړي ځل سرته ونه رسیږي په دوهم ځل پای ته رسیږي ، او که په دوهم ځل بشپړ نشي نو په دریم ... لسم ... سلم ... یا زرم وار کښې خو خامخا تکمیلیږي ! اما کوم شي چه مطلوب او مهم دی هغه زیار او کوښښ ، او د دې لارې په وهلو کښې مخ په وړاندې تلل دي .

او لکه چه لوړه او بېړه ونه لمړي شنه کیږي ، او د خاورې په تل کښې ريښې ځغلوي ، او بیا خوږنږي او بزده او له یو بل سره تړیږي ... همدارنګه دا کړنلاره په نفسونو او ژوندانه کښې شنه کیږي ، او ورو ورو څرګنديږي ، او په آسانۍ

Marfat.com

سړي په دا ډول روده کوي ... او بيا لکه چه خداى (ج) غوښتي وي هماغسي کېږي ، پر مخ ځي او د بشر تيا پراو ته وهي .

اسلام د افرادو پر روزنو کښي خپلي داني غوره ځوي ، او پر کلکه يې خاره کوي ؛ او پداسي حال کښي چه له وړوکتي پړاو - نهايي هدف - تخه بنسټ دا پر دي ، پرېږدي يې چه په آرامه او طبيعي توګه خپله وده سرته ورسوي . او که هر څوک وړو والي يا کله کله پښاتک ور پېښ شي ، بيا هم دا د طبيعت او فطرت کار دي ... څکه چه پر کسښتونو کله کله شګه «ډېټ» او هټ ، او کله يې ځيني برخي چنجيان خوري ، کله يې تنده سوځي ، او کله يې اوبه لاندي کوي ، او کله کله هم په زرار آفتونو اخته کېږي ... خو د اخيرك بزګر پر دي پوهېږي چه دا د ودي او بقا کسټ دي ، او تر ټولو به يه دي او بڼ دي فاصلي کښي پر ټولو آفتونو بري ومومي ؛ نو بر خپله پوهه له لاسه ورکړي ، او نه به يې ... پر تنگ شي . او هيڅکله دا هڅه نکوي چه د طبيعي او فطري آرامو او اسانو وسائلو پر ترې په بلي ليارې ورسوي ... نو له همدې کبله لدې لارې سړ اسانى مله او مکلفيتونه يې سختي نه غواړي

هو بېنن وېځ دي تراپ نه يو چه د بشر په لي لارتياو ، او په کړاونو کښي چه د جاهلي قوانينو له سرسري نظره پيداشوي وغږېږو ، بلکه همدومره بس ده چه ويېنو په ختيځ او لويديځ کښي

Marfat.com

د شقاوت او بدبختۍ تورې پردې خیرې ، او د وینو سیلابونه روان دي . خود پوهې او ادراك خاوندان په هرځای کښې د خطر چیغې وهي ، او د دې ژوندکي وضعې د بدلون او د نوې دنیا د جوړولو په لوړ کلك کاموونه اخلي .

* * *

بالآخره ! د اهیځکله صحیح نده - لکه چه ځینې یې د مکر او خباثت او ځینې نورې یې د احساساتو او غیرت له مخې وایي چه : افسوس د غه کړنلاره داوړ دي مودې لپاره پاتې نشوه - ! ځکه هغه روحي ، اجتماعي او سیاسي بناء چه د هم دغه مسلك او ممتاز الهي قانون پر اساس ودر بده ، او جوړښت یې یو پړه نه ، بلکه نیمه پېړه وخت ونیو ؛ له تولو هغو آفاتو سره سره چه له هرې خوا ورته متوجه ؤ ، پر له پسې مقاومت وکړ ، او ټولی هغه دښمنې او ورځنی غلونه چه د زرګونو او بیا زیاتو کلونو په موده کښې پرې راغلل - ور عمل .

او دغه ویرونکي عوامل پر له پسې په جګړه او زور آزمایی کښې ورسره بوخت دي . او په داسې حال کښې چه د جاهلیت د زړه تولی قواوې یې ملاتړکوي ، په د پراصرار سره غواړي د دې دین اصولو ته په بیته کښې زیان ورسوي ... خوسره له هغه هم نشي کولای چه بیخی یې له منځه ویسي . د اعوامل ټل د زمانې له ملاتړ ، او له ټولو د ښمنو او مخالفتونو سره یوځای ، پر له پسې د دې کړنلارې خوځي او خنډې کننه وړي ، او یو پر بل پسې یې د انحراف په لوړ روانوي ، او له اساسي

اصولو څخه یې لرې کوي؛ چه همدا اوس او س یې ستومانه کړي او په کلکه سره یې له تهدید لاندې نیولي ده.....

خو له دغو ټولو خطرونو سره سره بیا هم ویشو کولای چه تر اوسه پورې یې نظري اصول سره ګډ وډ او په بله خوا واړوي. (۱) بلکه دا ثابت اصول لا اوس هم د دې قدرت لري چه د نوې نسل لپاره نوي ژوند په ټینګو او متینو بنسټونو ودروي. او په دې ویده عالم کښې بیا د انساني ژوند او حرکت ولولې وخوځوي.

د دې لپاره چه دا ناوړې حقیقت درک کړو، بنایي پوه شو چه د دې بناء تر هغه وخته چه د جاهلیت په اساس دره بدلې شي نه شي بدلیدای، او خه ناخبري ترکتنې لاندې ونیسو؛ چه هغه دروماني دولت له بناء څخه عبارت ده ... دا بناء تقریباً د نړۍ ټولو کلونو په موده کښې بشپړه شوه. خوړ او ستر د نقصان او علمي ضعف لاملونه د ذلت او سپکاوي له خیړو لاندې د دوی په نیمه په موده کښې یې له منځه ولاړه ... او هیڅکله به بیا په پښو ونه دریږي

---

(۱) د اسلام ټول عالي او کلك نظري او عملي اصول لکه چه خدای (ج) وایي: انا نحن نزلنا الذکر وانا له لحافظون - پښتو ژباړه: قرآن را لیږلی دی او موږ به یې ساتونکی یو. هماغسې سلیم باقي دي. او که د زماني باد او سیلي هر څومره طوفاني وي بیا هم د اصول د لوړې غرونو شان څای پرځای دي. خو دا باید هیر نه کړو چه تر اوسه د مسلمانانو سستي له یوې خوا او د استعمارګرو غارتګرۍ له بلې خوا باعث شول چه مسلمانان تر ډېره له اسلامي څینو اصولو څخه غافل کړي، او په دې لاره کښې خه ونه ایجاد کړي. خو لکه چه وینو نن په ټوله کښې بیا د اسلامي څپې فعالې دي چه د دغه فاصلې له منځه وړي. او نږدې ده چه بیا د اسلام څپې ورپه ړلي - ان شاء الله - مترجم.

Marfat.com

ځکه له اصولو څخه لري څه یاتې نشول ، ترڅو چه دهغو پراساس د دوهم
ځل لپاره بیا سره یو بهتر کړي . » او همدغه د الهي کړنلارې او د
بندګانو د تقنین ترمنځ اساسي فرق دی ! »

هو ! په رښتیا چه د دې کړنلارې - بلکه د ټول بشریت - د
تاریخ په لړکښې ، یوه انساني هسکه او لوړه دوره تېره شوې ، چه د
تل لپاره په ټول بشري تاریخ کښې د لوړې څوکې پشان ځلېږي ،
او همیشه د بشریت سترګې دهغې په لور کړېږي . او دې لاهماغسې
خپل لوړوالي ساتلی دی ... خو په حقیقت کښې د طلایي دورې
یوه لنډه موده وه .

دا دوره ټوله اسلامي موده نده ... بلکه هغه یوه ډېره ده
چه خدای تعالی درولې ده ؛ ترڅو بشریت ورته ځیر شي ، او هغې
ته د رسېدو په لار کښې هڅه وکړي ، او بیا خپلې زړې هیلې ،
دیر محتاط او اعتلاء په هکله نوې . ترڅو پدې لاره کښې به په تدریج
سره مخ په وړاندې کامونه واخلي . خدای (ج) له خپلې خوښې سره
سم دې ډېرې ته د خلوښینه په مختلفو اړخیو وښي . او بشریت به
تل دغې لارښوونکې ډېرې ته په ځیر ځیر ګورې ؛ او اړخ ګی به اړخ
پرې ونېږي .

حقیقة ! دا دوره دهغې معجزې څخه نده راپیدا شوې چه بیا
نشي تکرار ېدلی ، بلکه دا د لمړنو مسلمانانو د بشري زیار او

کوښښ ثمره ده ، او که چیرې بیا هغه اسې کوښښونه وشي نو بیا ممکنه ده چه هماغسې دوره مېنځ ته راشي ....

دا زیاړونه چه مخوا د بشر مختاري په لې ابستلي دي ، د راتلونکو نسلونو لپاره منتظر دي ، چه په دې لاره کښې یې وباسي . خو کله به نسل لپاره نه میسر کېږي . او کله بیا د الهي قدر له مخې پر یو نسل کښې بشر د انسانیت هغې لوړې او ممتازې څوکې ته رسوي . او دا ددې لپاره چه په واقعي توګه د اوسیې چه : یدې لار کښې هڅه ممکنه ده . او کېدلی شي چه خصائص یې په بشر توګه وپېژندل شي ... وروسته لدې بشریت یدې حقیقت پوهوي چه په راتلونکو نسلونو کښې دې ، دغې دورې ته د رسېدلو په لار کښې له سره هڅه شروع کړي ... سره لدې هم دغې کم نلارې له خپلې طلایي دورې نه وروسته په لویو ساحو کښې خپل رول لوبولی ، د بشري ژوندانه او په پرلپسې نسلونو کښې یې د بشر په تاریخ ، مفکوره او واقعیتونو کښې خپل تاثیر غوره څرلی . او د ټول بشر په ژوندانه کښې یې خپل آثار او فکري طوفاني څپې رة ، اېښې دي ... دا ژوندي څپې مونږ دې ته هیله مند کوي چه :

بشریت کولی شي هغه راهنګه انساني حرکت او هڅه له سره بیا شروع کړي . او د ورکلوی له مینې په که

Marfat.com

دنیا د الهی کړنلارې او تقنیـــن په اصولو

ودروی !

« إِنْ شَاءَ اللّٰهُ (ج) »

ذخیره

Marfat.com

# اغېزناکه او مؤثره لار

لکه څرنګه چه دغې روښانې دورې د هغه ارزښت او لوړوالي عظمت او کمال په اندازه چه لاس ته یې ورووست، دلښکرو ژوند په واقعیتونو کښې یې دائمي اغېزه وغورځوله. او د لښکر په تاریخي واقعیتونو کښې یې داسې ژوندي آثار او یادګارونه پرېښي دي چه کولای شي، او سني نسل د نورو هغو نسلونو په نسبت چه د لمړنیو ممتازو مسلمانانو «صدر اسلام» څخه وروسته تېر شوي دي، په ښه توګه د مبارزې لوړ ته راوبولي. او د هغو طوفاني څپو او انساني آثارو په مرسته چه په معکوسو او ارزښتونو کړنلارو او حالاتو کښې یې پرې ایښي، پردې باندې قادروي چه په کلکه سره جهاد وکړي.

موږ په دې فصل کښې ددې لنډ کتاب له اسلوب سره سم پر لنډه توګه د دې روښانې او ممتازې دورې د هغو آثارو په هکله خبرې وکړو چه زیوازې د اسلامي ټولنې په تاریخ کښې، بلکه د نړۍ په وسیع تاریخ کښې ئې منکاره تحولات پېښ کړي دي.

دغې دورې وکولی شو چه د لښکرې ژوند ته په واقعیتونو کښې داسې موږ ته او ممتاز شخصیتونه وروزي، چه په دې کښې

Marfat.com

لوړ انسانیت د لمر پښتان داسی برېښی چه نه ځکښی لیدل شوی او نه بروړوسته ولیدل شی ... هغه انسانیت چه د هغه له سیوری لاندی ټول هغه شخصیتونه چه په غیر اسلامی محیط کښی لوی شوی دی ، د وړوکځلو یا ټیمکړو موجود اتو ، او یا خو د غیر منظمو افراد و پښان ښکاری .

د غه مثالی او ممتاز شخصیتونه چه الهی کړنلاری - په دوم لنډه موده کښی - د ځکی پر سر وړوزل ، د لاس په کوتونښی شمیرید بلکه دوی هغه کښ اولوی جمعیت ؤ چه په رښتیا هر کتونکی حیرانوی که خوک د دی نامتوا و مؤثری کړنلاری له ژوندی کونکی روحیه او هغی اغېزی څخه ، چه د بشر په ظاهری او باطنی ادراکونو بی لری پونظر وکړی نو په رښتیا تعجب کوی چه څرنګه دا ټولنه ... په دوم لنډه موده کښی - په پوړه پوخوالی او لوړتیا د غه حیرانونکی مقام ته ورسیده ؟! او بالآخره د غه کسان په دوړه وسیع او ارت حرکات کښی ، په لوړی او عالی سویې ، او په دومره کثرت سره داسی ټولنی د منخ ته راتلو په وړوستنی تحلیل کښی کمزوری او بی سبکه کیږی . او د عجز په اعتراف بیا هم د تعجب کوی په غابن کوی .

خو له ټولو مهم داده چه پردې وپوهیږو چه د غه خلک د غه د لوړ انسانیت نمونې ، کوم چه انسانیت بی په هغه لوړ مقا

کښې د تل د پاره د بشریت سترګو ته د لمر په شان ځلیږي ، او تل ترتله به د پیړیو په تیریدو سره د دنیا نورې کړنلارې د هغه په مقابل کښې دوړه ونځلو ، او یا نیمګړو موجوداتو په څیر پریښي ...

هدا رنګه مهم دا ده چه و پوهیږو هغو نومیالیو خلکو چه اسلام یې پداسې عجیبه توګه پخپل ژوند کښې عملي کړی ؤ - نو لدې هم انسانان ؤ او له بشري طبیعت څخه نه ؤ وتلي . او له فطرت سره سم یې خپل انساني ژوند ته دوام ورکاوه . ودانونکی استعدادونه ئې نه زبندیه . اختناق ، کول ، او خپل ځانونه یې په مافوق طاقت کارونو نه کمارل ... دهر انساني حرکت او ولسنتوب ملاتړ به یې کاوه ، او له هغو سیچلولار وتجربو یې استفاده کوله چه ددوی له زماني او محیط سره برابري او مجازي وې ... کله به سهو کیدل ، او کله به یې د حق دروازې پرمخ پرانیستل کیدې . پرمخ ولاړل او علوم یې لاس ته راوړل . په ځینو وختو کښې - لکه چه هر بشر ته پیښیږي - کمزوریتیا وره پیښه شوې ، او په بل وخت کښې بیا به په ټولو مشکلاتو بریالی شوي دي . هر ځل رختنونه یې له بیخه وکښل او د انسانیت په هسکه څوکه کښېناستل ....

د هدې حقیقت پېژندنه ښتنه له اهمیت ډکه ده ، ځکه دا حقیقت بشریت ته د مبارزې د بیا شروع کولو په هکله لوړې او وبندي هیلې ورپه برخه کوي ، او پرې لازموي چه دوی دک

Marfat.com

انساني نوراني منزلت ته ځان ورسوي ، او دا حق ورکوي چه د تل د پاره دې لوړې خوځې ته د ختلو په هکله هڅه او مبارزه وکړي . د الوړ تاریخي صورت د بشر ولیسا . اقتصاد . پرخپل ځان، فطرت او پر هغو خوندي شویو استعدادونو باندي ډیا توی ، چه که چیرې کوم صالح نظام او پرې تلونکي کړنلاره منځ ته راځي ، نو بشریت بیا هغي انساني هسکې مرحلې ته رسوي چه د تاریخ په لړ کښي ئې لمړني انسانان په ډېر متانت او دا دسړه هغي ته رسولي و ... د انساني شاندار مقام د هغي خارق العاده معجزې په واسطه چه تکراریې ممکن ندی . لاس ته ندی راغلی . بلکه دا د هغي کړنلارې او الهي قانون د هدایاتو په رڼا کښي د لمړنیو مسلمانانو په نصیب شو ، چه طبیعتاً د بشري ژیاب او هڅې ، او د بشري استعدادونو په چوکاټ کښي عملي کېدلی شي .

د الوړ او کې ممتاز نسل د هغي وچې او شاړې بېدیا له تل نه راپورته شو ، چه د عائداتو له مخې فقیر ، او طبیعي اقتصادي او علمي امکانات یې ډېر محدود و ... نو بشریت - نن او سبا - د هغو عواملو او اسبابو په نسبت چه په هغي وچې صحراء کښي یې د حیرانونکي او لوړ تحول بنسټ کېښود ، کم توانه او عاجز ندی ، چه پیدا لاره کښي مخ په وړاندې قدم واخلي ، بلکه د دې قدرت لري چه په دې مبارزه کښي بسیا

Marfat.com

بریالی شي . خو یدې شرط چه د غه الهی تقنین د خپل ژوند اساس وګرزوي ، او ګام په ګام یې تعقیب کړي .

دا الهی قانون له هغو لوړو هغو وحشیانه زیږ غلونو ، دښمنیو او انحرافاتو سره مرسته چه د زمانی په اوږدو کښې ورسره مخامخ شوي دي د تل لپاره او په هره زمانه کښې د اسي نمونې او مثالی مېړونه لښکري تولنی ته وړاندې کوي چه د لمړنی ګڼ او عالی نسل « صدر اسلام » نبي اولولي یکښې لیدلی کېږي ، او کټ مټ ورته دي ... او د امثالو نه په بشري ژوندانه او تاریخي خط السیر باندې په پلسی اغېزې غورځوي ، او شاو خوا ته د اسي طوفاني ځپې او لوی حرکتونه پیدا کوي چه د ژوندانه کرغېړنه څېره بدلوي او حقیقي ړنګ ورکوي . او بېرسېرې مظلومانو له د ژرانه خوبه را پاڅوي . که د دې الهی کړنلارې د تطبیق ، او په بشري ژوندانه کښې یې د تېنګېدو په هکله کلکه مبارزه وشي ، دا کړنلاره قدرت لري چه په هر وخت کښې د هغو لوړو هغو د بنمنو قواوو او خنډونو سره ، سره چه په شاوخوا او مخ کښې یې پراته دي ، د اسي مېړونه وروزي چه د تل لپاره به د تاریخ د ویاړ لپاره را ښه او ځلېدونکې ستوري وي .

د دی کړنلارې د بریالیتوب راز له هغه سموون او توافق څخه عبارت دی چه له سلیم فطرت او د انسان له جوړښت سره یې لري او له دائمي ستړې خرانی څخه یې ګټه اخلی . هر کله چه د ا

کړنلاره ورسره مخامخ کېږي ، نوډ کامل توافق لرنکي بې دښمني او سخاوت ویالی روانی ، اودخوندی شوی ثروت چینې یې د کچ او بېرخېو راځي .

* * *

دغې موډې وکولی شو چه د بشري ژوند په واقعیتونو کښې داسی اصول او اندېښنې ، ارزښتونه او توازنات پرېږدي ، چه پر دوی وضاحت او ژورو توب ، پرتولوحیاتي ارخونو او استعداد ونو باندې - پر دوی شمول سره - د بشر په اوږده لرغونی تاریخ کښې نې هيڅ ساری نه لیدل کېږي . او همداړنکه په بل هیڅ نظام کښې پر دوی وضاحت ، ژوروتوب او پرتولوحیاتي ارخونو باندې پر دوی تسلط سره بیا هیڅکله داړنکه اصول ، او اندېښنې ارزښتونه او توازنات نه دی لیدل شوي ... او پېدې لاره کښې د دوی صدق او جدیت ، اخلاص او ژور حقیقي تجرد پښان چه ترټولو زیات اهمیت ورېړدی ، په بل هیڅ نظام کښې په نظر نه دی راغلی دغو اصولو او اندېښنو ، اودغو ارزښتونو او توازناتو دانساني ژوند دانه تول ارخونه ترنظرلاندی نیولي ، اودخدای ج په هکله اوله هغه سره د بشر دعلاقې په باب یې بشري اندېښنې ځېر لي

Marfat.com

اودکائناتو ، اوله کائناتو سره د بشر د علاقې ، او د انسانی وجود د وروستنی هدف ، مکلفیتونو او انسانی منزلت په هکله یې هم سلیم افکار طرح کړیدی ...

او لکه څرنګه چه د انسان د حقیقت ، حقوقو او واجباتو او مکلفیتونو په باب ، او د هغو ارزښتونو په باب یې چه د انسان حیات ، استعداد او منزلت پرې اندازه کیږی ، او د انسان علاقه له خدای ، خپلې کورنۍ ، نورو انسانانو ورونو ، کائناتو ، حیوانو او غیر حیه موجوداتو سره بښيي - سلیم تصورات او افکار یې ښنی دي ، همدارنګه سیاسی ، اجتماعی او اقتصادی حقوق او مکلفیتونه یې هم تنظیم کړیدی . اوداسی قوانین او روابط یې وضع کړیدی چه ټول مومن حقوق او مکلفیتونه ، او په عمومی توګه د انسانی ژوندانه مختلفې برخی په مختلفو صورتونو کښی - له ټولو اړخونو - په ښه او کامله توګه رهبری کوی .

او په دغو ټولو موارد و کښی یې هغه الهی حکم جاری کړیدی چه دا کړنلاره له نورو ټولو څخه بیلوی ، او ربانی ممتاز ماهیت ورښښی .

د الهی تقنین پداسی محلی د بنمن محیط کښی بشپړ شو چه ټول بیې د دغو انسانی اصولو او اندیښنو ، او د دغو عالی ارزښتونو او تو انا تو په ضد فعالیتونه کول . او ددی آزادی ښنونکی حرکت په مخ کښی بېرې خنډونه ایجادول ... او پداسی جهانی فاسد محیط کښی منځ ته راغی چه اساسایې له دغو اصولو ، اندیښنو ،

ارښښتونو او تو ازنا توسره دښمني کوله . داکړنلارې دهداسي سختو - محلي او جهاني - سیاسي ، اقتصادي ، اجتماعي ، فکري سیکولوژیکي ، روحي ، هغو شرائطو په منځ کښي پېښېږي ود ږیدچه ظاهري بڼه يې دلمړي ځل لپاره د دغو متولوجياتي لارښوونو او اصلاحاتو پرضد برېښېږي ، او ياخو يې اقلاً يدی آزادي ښودنکي حرکت کښي ترسته نه ورسره کوله . خودې کړنلارې دخپل برياليتوب په لار کښي - لهتولو مخه - دبشري فطرت په شتمني اتکاء درلوده پرهغې فطري شتمنۍ چه کولی شي دتل لپاره پر دی الهی کړنلارې - چه د ژونه له کومي توافق ورسره لري - تینګه ودرېږي . او د ژوندانه لارښوونکي يې وبولي ... البته دا ترهغه وخته پورې چه انحرافي او ګمراه کوونکو عواملو او هوس خواهيو او شهرت غوښتونو ترپښو لاندې کړې نه وي .

او همدارنګه اسلام « دغې الهي کړنلارې » پردې اتکاء درلوده چه انساني فطرت راوپاروي ، او له دراټو خوبرلي راپاڅوي ، او له هغو خيرو څخه يې پاک کړي چه د زماني پر اوږدو کښي دګناهونو ، انحرافاتو ، او ظلمونو له خوا پرې لوېدلي وُ ... داهغه لوېره شتمني ده چه کولی شي پرټولو هغو سطحي عواملو او غلطو اجتماعي رژيمونو ، چه ځيني کم فکره اولنډه نظره خلک يې د ژوندانه مثبتې لارې ګڼي برې ومومي ...

اسلام هيڅکله دغه مخرب او فاسدونکي عوامل ، او په بشري ژوندانه کښي

Marfat.com

د هغو منفي آثار له نظره نه غورځوي . او نشي کولی چه د دې وضعې
په مقابل کښې لاس تر زنې کښېني ، او د تسلیمېدلو په عنوان
ځان بې طرف وبولي ، او داسې ووايي چه : « دا وضعه خو راغلې
ده ، او نشو کولی چه اوس بدلون پکښې راولو » بلکه د الهي قانون
د بشري فطري دښمنې « انساني سوچ طبیعت » د آزادولو او
خلاصون او د ارزښتونو د ساتنې لپاره . د طبیعي قدرتونو په
راغونډولو او د بشریت په لارښوونه کښې کلک مخ په وړاندې
او آرام گامونه اخلي - او لکه چه په هر فصل کښې موږ گنډ کړه -
په سمه سینه ، ژور تفکر او تحلیل او په ډېر آرامۍ د لوی آرام
دښمنه دخپو په خپر د مقصود پر اوتر ځان رسوي . او د
تخلو خندونه او بې دوامه بندونه له منځه وړي ، او د هغې
تلک لارې پر اساس چه په لمړنۍ زینه دوره کښې یې د ماتولو
سختو شرائطو او محلي او جهاني دښمنو عواملو په مقابل کښې
نړیوالو او بشري عالم ته ترځر کېنده کړه بیا هم د وړ وړ گلوی
مینې او عاطفې د ټکه ماڅه آبادوي . او دا به نور نو هغه
وخت وي چه غیر انساني گامونه او حرکات بیا له تورو، وخاورو لاندې
په ابدي خوب ویده وي . لکه چه په عملي توگه یې عربي تابوونه
او له هغې د باندې هېوادونه د بشریت له دښمنانو او منفي افکارو
تخته پاکه او سوچه کړه .

Marfat.com

شاید نن ورځ د بشریت حال په ځینو راڅرګندو کښی د هغو شرائطو په نسبت د برېښه وی کوم چه د دغی کړنلارې د منځ ته راتلو په وخت کښی موجود ۋ، او په هغه وخت کښی چه اسلام د مځکی پرمخ لمړنی پل کښېښود، او په لنډه موده کښی یی په آسانی او اوآرامی، او مدبرانه حرکت سره ستر او وسیع انقلاب منځ ته راووست. او د بشریت په ژوند کښی یی د ننګځای ونیو؛ او شاید د هغو اسبابو لامځی چه په راتلونکی فصل کښی به یی - إن شاء الله - بیان کړو، له پخوانه زیات پر دی الهی کړنلارې عمل کولو ته چمتو وی.

او شاید نن ورځ د ډېر وخت په نسبت، د دی قدرت ولری چه د امکلفیت په اوږه واخلی. خصوصاً هغه وخت چه ګورو: د انسانی فطرت شتمنی، انسانی طبیعت، له ټولو هغو انحرافاتو شرونو او فسادونو سره سره چه له ګردولاندی یی پټه کړیده، او له ټولو هغو اقتصادی او فکری عواملو سره سره چه د دی فطری شتمنی د ماتولو او له منځه وړلو لپاره شپېر او ورځ زیار باسی - د دی قدرت لری چه بیا په جوش راشی، په خپوراشی، سرپورته شی او مخ پرو ړاندی حرکت وکړی. او د ابرهغه وخت وی چه الهی کړنلاره پر دی بریالی چه د افطری شتمنی له بندونو آزاده او سرپومو ټی کړی، لارښوونه ورته وکړی. او د انسان او موجوداتو له فطرت سره

Marfat.com

د توافق له مخې دا رنګ وهلې او له فساده ډکه دنيا نوي او د انسانانو اوږه ورکلوي په پاکو او بوپلي پرېنځي . او دغه فطرت کولی شي ـ د هغه اصالت ، ښورتيا او وسعت له مخې چه لري يې ـ تول هغه عوامل او کړنلارې سره بېلې او تشخيص کړي چه ځني کوتاه نظره کسان يې د واقعيتونو په لړکښي حسابوي . او اوس اوس يې عملي ځېره ځانته غوره کړېده ... په تېره بيا په داسې حال کښي چه ځيني دغه عوامل په يوه صف کښي ورسره ولاړ او ملا تړلې کوي . نو هغه اوس اوس د پرښه برياليکېدو نکي دی .

ځيني هغه کسان چه د دغې الهي کړنلارې له طبيعت څخه بنه خبرندي وايي چه : دغه انحرافي واقعيتونه اوکړه وړه ، دښمنی او تباهي چه د ځمکې پر مخ ليدلې کېږي . او ورمالې له خپل ځان سره راوړي دي . نشي کېدلی چه له منځه ولاړ شي او يا خو تغيير ومومي ، او د هغو په مقابل کښي د درېدو لاره هم نشته ... خو دا فکرلوي وهم او اوپرته له خيال ربل څه نه دي ؛ ځکه بشري فطرت هم په خپل ذات کښي يو . واقعيت ، دی ، او نشي کولی د دی ظاهري او له منځه تلونکو واقعيتونو په مقابل کښي چپ پاتې شي . کنه ، له ختيځه ترلويديځه پوري به بشريت د بد مرغي او شقاوت په سيند کښي ډوب او مضمحل شي . شايد کله چه دا فطرت له کومې وضعې سره مخامخ کړي لا په لمړي ځل کښي ماتې وخوري ، ځکه د دغو اوضاعو او رټمونو

ترښا مادي قواوي پرتې دي ، او په کلکه یې ملاتړ کوي .خو دا
یو منل شوی حقیقت دی چه : فطرت له دغو ټولو راپیښ شویو
اوضاعو نه زوروړ ، او پر ټولو هغو قواو چه د دې اوضاعو ملاتړ کوي
غښتلی دی . او خامخا به کامیابېږي ، په تېره بیا هغه وخت چه د الهی
کړنلاره یې رهبري وکړي ، کوم چه د نړۍ له کومې وړه سره موافق
او د دواړو طبیعتونه سره یو وي ، او د رهبرۍ کامل استعداد
ولري ... لکه چه دا حقیقت د بشر په تاریخ کښې یو ځل بنه ثابت کړی
شوی هم دی ؛ کوم وخت چه د الهي کړنلاره د عربو شبهې جزیرې
او د ټولې نړۍ له ، واقعیتونو ، سره مخامخ شوه ، بنکاره او ممتاز
ریالیتوب یې لاس ته راوړه . او د نورو واقعیتونو فکري
او عملي بنسټونه یې بدل او پر ځای یې نوي اساسات ټینګ کړل

داټول ریالیتوبونه د هغې خارق العاده معجزې په مرسته ندي
پېښ شوي ، کوم چه بیا نشي تکرار یدلی . بلکه دغه ټول
د الهي د الٰهي سنتو او تګلاره سره سم د بشري زیار او کوښښ
او د بشر توان په چوکاټ کښې د لمړنیو پښتینو مسلمانانو په
برخه شول . نو دا واقع شوی پر حقیقت راښیي چه دبره ممکنه
ده ، او کېدلی شي چه هغه لمړنۍ مرحله بیا تکرار شي .

په تېره بیا د هغو طوفاني څپو ، او هغو آثارو په مرسته چه
طلایي دوري کښې یې بشریت ته پرېښي ، او په تاریخي واقعیتونو

Marfat.com

کښې دځلیدونکې مثال په توګه دانسانانو نوځ ته برېښي - پدې لاره
کښې او سنۍ مبارزه د بل هر وخت په نسبت بنه بريالی کېدونکې ده .

* * *

دغې مثالي اوممتازي دورې وکولای شوچه دبشر په
ژوندانه کښې داسې عملي مثبت دودونه ، او واقعي حالات تېنګ
کړي چه دا تول مستقیماً د الهي کړنلارې اصولو ، ارزښتونو، تعادلاتو
او عمومي روحیې ته راجع کېږي ، او هیڅکله دنورو دورې
په تېرېدو سره له منځه تللای نشي . بلکه د طوفاني څپې پشان
يې دځکې کوټ کوټ ته ځان ورساوه ، او د پېړيو پېړيو لپاره ژوندي
پاتې شول . او بشري ژوندلي په مختلفو صورتونو کښې ترا غېزې
لاندې راوست ، او د ټول بشريت لپاره داسې نه تمامېدونکې
شتمنې شوچه په هر لوري ورکړه « اتفاق » کوي . او له زرو
کلونو څخه زیات په هر لوري بسپنې او امداد ونه کوي ، مفکورې
اصلاح کوي ، او تراغېزې لاندې يې راولي ، پرحالاتو او دودونو
تأثير غورځوي ، او د علوم او پوهنې ، اقتصاد او ابادۍ په لاره
کښې کلك ګامونه اخلي ، او د تمدن په مختلفو څانګو کښې -
داسې اغېزناك ګامونه او حرکتونه منځ ته راوړي چه دځکې په هر
ګوټ کښې د دوامداره مبارزو بنسټونه تشکیلوي ، او له ټولو

Marfat.com

هغو دښمنو قوا و سره سره چه د دغو طوفاني څپو ددغو وندیو او فعالو آثارو په مقابل کښی دریږی ، او له تولو هغو اجتماعی فعالیتونو سره چه په غربي نړی کښی د قدیمې یوناني او رومانی جاهلیت په لوره روان دی ، او په پرپو پرهیوي پر خلکو قدرت چلولی دی. بیا هم دا نه ورکېږد ونکي څپې د بشریت پر زړونو کښی غورځنګونه ایجادوی - او څه پر وړاندی یې د مقصود او بریالیتوب پر اوتله رسوی .

پر دغو واقعي تاثیراتو پسی وروسته د بشریت پر ژوند انه کښی مختلف اصول ، ارزښتونه ، نظریات او تحولات منځ ته راغلل چه شاید نن ورځ بشریت د هغو اصلی زیږنده ونه پیژنی ، او یا خو یې اصلی مصدر بلې غیر اسلامی کړنلارې ته منسوب کړي

خو مونږ په یقین سره ویلای شو ، او ثبوت ته یې رسوو چه د دغو تحولاتو او ارزښتونو لمری او حقیقی منبع اسلامی کړنلاره ده - چه ( إِنْ شَاءَ الله ) په راتلونکې فصل کښی به د عمي موضوع او څینو هغو اسلامي تګلارو او د هغو آثارو ته اشاره وکړو چه اوس اوس لی بشریت په ورین او پراخ تندی منی او د زړه له کومې یې تأییدوی . خو کله چه ۱٤ سوه کاله مخوا یې اسلام بنسټ کېښنود ، نو بشر په لمړیو شیبو کښی په تمام معنی مخالفت ورسره کاوه او منلو ته یې تیار نه و .

Marfat.com

اوشايدنن ورځ دبشريت پرڅونداند اواوسنيو اوضاعو کښې دغو وسيعو تګلارو دمنلو ائځاى پرځاى کېدلو لپاره چې څخه چه په لمړى مرحله کښې مخالفت ورسره کېدل دا راځرګندوئ چه :
نن ورځ بشريت په عمومى توګه د بل هر وخت په نسبت د دې الهى کړنلارې پېژندلو ته ډېر نږدى ، او د دې مکلفيت منلو ته ښه چمتو دى . خصوصاً په اوسنى زمانى کښې هغه علوم چه ، د اسلام لمړنيو بيدارونکو موجبو منځ ته راوړى هم د دغه هدف ملا تړکوى ، په داسى حال کښې چه د اسلام د منځ ته راتلو په وخت کښې دغه علوم او پوهې نوى چه د هغه په وړاندې تلو کښې مرسته ورسره وکړى .
همدارنګه د هغو ټولو قيمتدارو تجربو خزانه لې په لاس کښې ده چه : لدى کړنلارى څخه دسرغړولو ، تمرد او فساد د مرحلو په موده کښې يې ميندلى ده - او لکه چه مخکښې مو په لنډه توګه اشاره ورته وکړه - د دغو لارو ، فساد او تجربو نتيجو بشريت ستومانه کړې ، او لکه ونو سړيې مخامخ کړېدى . او د خلاصون د لارې په لټه کښې يې اچولى دى ... دغه ټول داسى عوامل دى چه د دى آزادونکى الهى کړنلارى په قبلولو ، او د بريالى توب په لوري د رسولو په لار کښې مرسته کوى ... او بالاخره به

Marfat.com

ـ کہ خدای کول - د اکرنلاړ دبشریت رهبری پہ لاس کښی اخلی ....

ددی مجملو اشاراتو دبیانولو پہ لړکښی بہ داښه وی چه پہ بشری ژوند اندکښی د نوموړو تنکلاړو آثار، دتاریخی واقعیتونو لہ مخی، لږ څہ مفصلاً وشیږو . او دتفصیل لہ مخی دفطرت هغہ خزانہ او شتمنی را وبلتوچہ دهغی پہ سبب اسلام پر بشری کړو اوضاعو بریالی شو، او څیل انسانی او فطری اصول یې پہ ډیر کلکوالی او متانت پہ پښو ودرول او مجوانی سخیف واقعیتونہ یې دنا بودی او فنا پہ لور روان کړل. او اسلامی ځلاندہ لمر یې پر انسانی سپین اُفق راوخیژاوہ . چہ د تل لپارہ بہ دا لمر پہ رڼو ښانہ

پہ انګوسړ دمحکی مخ

روښانہ کوی ..!

"إِنْ شَاءَ اللّٰهُ ج" ·

Marfat.com

# د فطرت زړه

کله چه د لمري ځل لپاره اسلام د مځکې پر مخ قدم کېښود، نو نړیوالو د عربي تاپو وزمې مخالف قدرتونه د ده پر مخ کېنې ودرېدل بلکه د نورې نړۍ ستر و قدرتونو، او د جاهلیت سترو واقعیتونو هم د اسلام مخې ته ودرېدل، او په نوموړي محیط کېنې فاسده ارزښتونو، شخصي ګټو، او د تعصبونو او ناصالحو مفکورو خښتنانو د اسلام د پراختیا په وړاندې خنډونه راپیدا کړل. له بلې خوا - په هغه وخت کېنې - د اسلامي تصور او د خلکو د ذهنیت ترمنځ ډېره زیاته فاصله موجوده وه، او هغه څه چه اسلام غوښتل بشري کاروان ورووسوي، ډېر لرې ښکارېده. او په هغه لړکېنې هغه شخصي رازراز ګټو چه استعماري قوتونو لې ملاتړ کاوه، د اسلام پرمخ کېنې یې صفونه تړلي وو، او د دغو نوي دین د پراختیا مخنیوی یې کاوه. د غه مخالف او د جاهلیت قدرتونه د داسې دین پراختیا پر مخ کېنې ودرېدل چه نړیوالو انحرافي مفکورې

Marfat.com

او عقیدی ، ارزښتونه او موازین ، ناوړه عادات او دودونه بداخلاقي او احساسات یې بدلول ... بلکه - په ډېر اصرار سره یې - نظامونه او اوضاع ، شرائع او قوانین ، او د مالونو د توزیع تګلارې ټولې بدلېدونکې ګرځولې . او همدا رنګه د غه دین په تمام قدرت سره کوښښ کوي چه د بشر رهبري او قیادت د ظالمانو او بشري خدایانو او د جاهلیت له لاسه وباسي ، خدای او اسلام ته یې بېرته ورو سپاري !

که چېرې په هغې زمانې کښې چا ترو یل شوي وای : د غه دین - چه د اوّل کوښښونه او مبارزې کوي ، او د دې لوی قدرت « جاهلي واقعیت » په مخ کښې ( چه د نړۍ د قدرتونو له خوا یې ملاتړ کېږي ) درېږي - ژر ده چه بېرې ومومي او له ټیمې پېړۍ څخه به له موده کښې اوّل د واقعیتونه بل شان او بدل کړي ، نو دا به یې ډېرو لرې ګڼلې وای چه : دا دین ؟ او بریالیتوب ..؟! دا قوتونه ؟ او ناکامي ..؟ دا غیر ممکن کار دی . او یې له استهزاء ، مسخرو او ملنډو څخه به یې خبره وه څخه او ربدل شوي نه و .

خو د غه ستر « جاهلي واقعیت » ژر څېلځای نوی ډلې ته

او نوی نظام ته پرېښود. او تر ټوله د غه بشري لارښوونکي او رهبر د بشر قيادت په لاس کښې ونيو؛ ترڅو وکولی شي چه بشريت د جاهليت له تورو تيارو څخه اسلامي رڼا ته راوبولي او بشريت بيا د اسلام تر بيرغ لاندې د الهي کړنلارې او شريعت په اساس رهبري کړي!

د غه موفقيت چه په اول کښې د ځينو په نظر کښې مستحيل او غيرممکن ښکاريده. څرنګه لاس ته راغی؟ هغوکسانو چه د عربو تاريخ، جاهلي واقعيتونو، په حيرت کښې غورځولي او د د غه دراندو بيټي لاندې ستومانه او کم توانه شوي وو؛ او د تردد په سترګه يې د اوضاع مطالعه کوله، دا کار يې ناممکن او مستحيل ګاڼه!

څرنګه يوسړي ... محمد بن عبدالله . صلی الله عليه وسلم - ...

وکولی شو په يوازې او تنها صورت د ټولې دنيا په مخ کښې ودريږي؟ او يا څنګه وتوانيد په لمړي مرحله کښې د عربي تاريخ مخ سته راپورته شي؟ او يا څنګه تر لاره د دعوت په لمړنيوشپيوکښې د عربو د بادارانو ، قريشو « په مخ کښې ودريږي؟ او د ټولو جاهلي عقائدو او مفکورو ، ارزښتونو او موازينو نظامونو

او اوضاعو، شخصي کمتو او تعصباتو پرمخ کښنی - پخپلو پخو اصولو او ټینګو قدمونو ودریږي؟ ... او بیا پر دغوټولو ګډوډیو او اوضاعو بریالی شي؟ او دغو ټولو امورو ته تغیرورکړي؟ او پرځای یې نوی نظام، پرنوی اساس او نوی مفکوري ودروي؟

دغه ستر شخصیت، او الهی استازي هیڅکله داو سنیو رهبرانو په څیر لهٔ مکر، درواغو او غولولو نه کار وانه خیست او ددوی دعقائدو او تصوراتو په وړاندې یې چاپلوسي او غوړه مالي ونه کړه، او په هیڅ شان یې ددوی داحساساتو او عواطفو تملق یې هم پرځان ونه مانه، او ددوی له تراشلو خدایانو سره یې په هیڅ صورت سازش ونکړ، او لاس په نامه وړته ونه دراېد ... او ترڅو چه بریالیتوب یې لاس ته رانغی آرام کښېناست ... دی په داسی حال کښنی چه په مکي کښنی دټولو هغو قواو ترمنځ رایسارڅ چه دده د له منځه وړلو په لار کښنی یې تل هځه کوله - مأمور وو چه له لمړیه وڅخه په داګه ورته ووایی چه:

"قل: یا أَیُّهَا الکافِرونَ، لاأَعبُدُ ماتَعبُدونَ، وَلاأَنتُم

Marfat.com

عَابِدُونَ مَا أَعْبُدُ . وَلَا أَنَا عَابِدٌ مَّا عَبَدْتُمْ، وَلَا أَنتُمْ عَابِدُونَ مَا أَعْبُدُ . لَكُمْ دِينُكُمْ، وَلِيَ دِينِ . » (۱)

(الكافرون: ۱ - ٦)

یوازې پر دې یې اکتفاء ونکړ چه د دوی له دین څخه خپل دین بېل، او خپل عبادت د دوی له عبادته جلا، او بېدې هکله خپل کامل نه پخلاکېدونکی مخالفت اعلان کړی. بلکه پر دې هم مأمور وو چه: سرکښان او پر جاهلیت ټینګ لاړ دې څخه مأیوس کړي چه دوی ته ویل: «د انه پخلا کېدونکي جلا والی به یو ورځ نه یو ورځ پخلا کېدو ته حاضر شي». نو ځکه یې تکراراً وروسته څرګند کړه چه: «وَلَا أَنَا عَابِدٌ مَّا عَبَدتُّمْ وَلَا أَنتُمْ عَابِدُونَ مَا أَعْبُدُ». او بیا دی ځای کښې د نه پخلاکېدونکي اختلاف د تأکید لپاره وایي: «لَكُمْ دِينُكُمْ وَلِيَ دِينِ».

---

(۱) (ای محمده!) ورته ووایه چه: ای کافرانو. هغه څه چه تاسي یې لمانځئ، عبادت کوئ، زه یې نه لمانځم. او نه تاسي د هغه چا لمانځونکي یئ چه زه یې لمانځم. او نه زه د هغه شي لمانځونکی یم چه تاسي یې لمانځئ. او نه تاسي د هغه چا لمانځونکي یئ، چه زه یې لمانځم. ستاسي خپل دین، او زما خپل.

Marfat.com

اوهمدارنګه، داادعا یې ونکړه چه: دئ غیربشري مزایاوې اوامتیازات لري. اونه یې دښمنې قواوې پر دې فریفته کړې چه: دئ (ص) پټ اوسري قدرت لري، او یدې توګه د دوی زړونه ولړزوي اوله مقابلې څخه یې وغورځوي بلکه پر دې مأمور ؤچه ورته ووایي:

«قُلْ: لَا أَقُولُ لَكُمْ عِندِي خَزَائِنُ اللَّهِ، وَلَا أَعْلَمُ الْغَيْبَ. وَلَا أَقُولُ لَكُمْ إِنِّي مَلَكٌ. إِنْ أَتَّبِعُ إِلَّا مَا يُوحَىٰ إِلَيَّ» (۱)

(الأنعام: ۵۰)

پیغمبر (ص) هیڅکله خپلو پیروانوته - دنورو خودخواهانو اوغولونکو زمامدارانو په څېر - د منصبونو اومالونو وعدې ورنکړې چه: کله چېرې زه بریالی شوم نوتاسې ته به دا... اوها... منصبونه، ځمکې اومالونه درکوم... ابن اسحاق ویلي دي:

---

(۱) «اې محمده!» ورته ووایه چه: زه نه درته وایم چه له ماسره دخدای خزانې دي. او نه په غیبو خبریم، اونه درته وایم چه زه ملکه (فرښته) یم. زه یوازې دخدای (ج) له وحې «لارښوونې» څخه متابعت کوم. پر بل شي بسې نه یم

• نبی کریم (ص) به دحج په موسم کښې قبائلو ته ورتی، او ورته ویل به یې: «یَا بَنِي فُلَانٍ إِنِّي رَسُولُ اللَّهِ إِلَيْكُمْ يَأْمُرُكُمْ أَنْ تَعْبُدُوهُ وَلَا تُشْرِكُوا بِهِ شَيْئًا، وَأَنْ تَخْلَعُوا مَا تَعْبُدُونَ مِنْ دُونِهِ مِنْ هَذِهِ الْأَنْدَادِ، وَأَنْ تُؤْمِنُوا بِي وَتُصَدِّقُوا بِي، وَتَمْنَعُونِي حَتَّى أُبَيِّنَ عَنِ اللَّهِ مَا بَعَثَنِي بِهِ» (۱)

ابن اسحاق وایی: «زهری ماته وویل چه: پیغمبر (ص) بنی عامر بن صعصعه ته راغی، او دخدای لوری ته یې را وبلل، او خپل ځان یې ورو ښود. نو ددوی له ډلې څخه یوه سړي چه دبیحره بن فراس په نامه یادېده، وویل: والله که چېری دا د قریشو ځلمی له ځان سره اخیستی وای، نو عرب به می پرې خوړلی وای. بیا یې پیغمبر (ص) ته وویل: ووایه! که مونږ دې په کار مو مبایعت «ملاتړ» درسره وکړ، او بیا خدای (ج) پر دښمنانو بریالی کړې، آیا له تا نه وروسته به دا کار «رهبري» زمونږ

(۱) ای د فلانی زامنو! زه دخدای له لوري تاسی ته استول شوی یم. پرتاسی امر کوي چه دده (الله) عبادت وکړی، او هیڅ شی ورسره شریک ونه بولی. او دغه (تراشلی) سیالان «بتان» چه پې له خدایه د هغو عبادت کوی، له ځانه وغورځوی. او پر ما ایمان راوړی. او پیغمبری می تصدیق کړی. او دمعاهدې پراساس می د دښمنو له تیري څخه حمایت وکړی، ترڅو د خدای له لوري چه مې د څه دپاره استولی یم هغه څرګند کړم چه خدای د هغو په تبلیغ مامور کړی یم.

Marfat.com

په لاس کښې وي ؟ پيغمبر (ص) ورته وويل : « الأَمْرُ لِلّٰهِ يَضَعُهُ حَيْثُ يَشَاءُ - دا د خداى كار دى هرچاته يې چه غوښتى وى ، ورکوى يې » . زهرى وايي چه نوموړى سړى ورته وويل : آيا نوغواړې چه زمونږ غاړې د عربو توره وته برابرې کړې ، او کله چه خداى (ج) ، کامياب کړې ، رهبرى به د نورو په لاس کښې وي ؟ مونږ ستا دين ته هيڅ اړه نلرو . او په دې توګه يې له پيغمبر (ص) څخه ډډه وکړه » ....

نو دا بريالیتوب څرنګه لاس ته راغى ؟ او څرنګه دا يوسړى د هغه سترجاهلى « واقعيت » پرټولو قوتونو بريالى اوغالب شو ؟

پيغمبر (ص) ، د هغې معجزې په مرسته بريالى نشو چه بيا نشي تکرار بدلاى ، بلکه په دې اکه يې اعلان وکړ چه د رسالت په دې ډګر کښې له خارق العاده معجزو څخه استفاده نکوم ؛ او يوځلې يې هم د معجزې سنکارولو په باب د دوي غوښتنه ونه منله ... هو ! پيغمبر (ص) معجزې درلودې ، خو دښمن د ماتې لپاره يې ميڅکله له هغو څخه کار وانخيست . بلکه دا بريالیتوب د هغه د اتې ژوندى فطرت له مخې د پيغمبر (ص) په برخه شو ، چه که په هره زمانه کښې خولك منکولې پرې ولګوى

Marfat.com

اوله هغه سره موافق حرکت وکړي ، خوځله تکراربري ، او ددې سپیڅلي لارې مبارزین د مقصود پړاو ته رسوي .

دا الهي کړنلاره ځکه بریالۍ شوه چه د دغه ظاهري بې بنیاده « جاهلي واقعیت » ترشا یې د فطرت له پټې زېرمې سره خپل توافق وښود ، او بیدې اصیل حرکت کښې یې لویه کچه وړخه را اخیستله . دغه زېرمه ـ لکه چه مخکښې مو وویل ـ لویه اوبې ساري ځېرمه ده . هیڅکله به دا ظاهري خېرې تیاوی او انحرافات پرې برنشي ـ په داسې وخت کښې چه د خلاصون د روڼ ای یې پرمخ پرانیستل کېږي ، او د اصیل الهي نظام په رهبرۍ سره یوځای او یو موټی کېږي ، او بیا د کېښنود شوي متین بنسټ د پاسه په حرکت راځي ، او د رڼا په لور روانېږي .

★ ★ ★

هغه وخت چه فاسدو او بدل شویو عقائدو پر بشري ضمیر د شقاوت زنګونه اودوړې غوړځولې . او لکه چه ناچلو اوتراشلو خدایانو ، د خلکو مفکورې ، عقلونه او نړوونه پر تنګ کړي و ، همدا رنګه یې د کعبې شا وخوا په شدید ازدحام سره ډکه کړې وه . او قبیلوی او اقتصادي مصالح او کتی د غو

ناچلو خدایانو پر اوبز و پرتې وي . او د دغو پراخ کښې کوډکرې او بادارې هم د خلکو پر منځ کښې مزې ښغلولې ؤ . او د اسې کارونه او اوضاع د خلکو پر ژوندانه کښې خپاره وو ، چه د بشریت خیره یې بیخي بد له کړې وه . چه دغو ټولو جاهلي واقعاتو له نو او نو خورو څخه سرچینه اخیستله ؛ هغه او بو خوره چه الهي خصائص یې د بند ګانو تر منځ وېشلي ، کوډګرو او نورو روتې د تقنین حق ور کړې ، او د کهنلارو د کښېنو د امتیاز یې ور بښلي ؤ !

اسلام راغی او د « لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ » پر اساس د دغو واقعیتو نو پر مخ کښې ودرېد . او انساني سلیم فطرت ترې - چه بې له یوه خدای څخه بل خدای نه پېژني - خپل خطا بو نه متوجه کړل . او خلکو ترې له ټولو هغو دوړو او تورو پردو سره سره ، چه پر انسانیت او بشري فطرت پرتې وې ، حقیقي خدای او د هغه خصائص او صفات په اصلي توګه ور وپېژاندل .

« قُلْ : أَغَيْرَ اللّٰهِ أَتَّخِذُ وَلِيًّا فَاطِرِ السَّمٰوَاتِ وَالْأَرْضِ ، وَهُوَ يُطْعِمُ وَلَا يُطْعَمُ ، قُلْ : إِنِّي أُمِرْتُ أَنْ أَكُونَ أَوَّلَ مَنْ أَسْلَمَ ، وَلَا تَكُونَنَّ مِنَ الْمُشْرِكِينَ . قُلْ إِنِّي أَخَافُ

Marfat.com

إنْ عَصَيْتُ رَبِّي عَذَابَ يَوْمٍ عَظِيمٍ . مَنْ يُصْرَفْ عَنْهُ يَوْمَئِذٍ فَقَدْ رَحِمَهُ ، وَذَلِكَ الْفَوْزُ الْمُبِينُ . وَإِنْ يَمْسَسْكَ اللَّهُ بِضُرٍّ فَلَا كَاشِفَ لَهُ إِلَّا هُوَ ، وَإِنْ يَمْسَسْكَ بِخَيْرٍ فَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ . وَهُوَ الْقَاهِرُ فَوْقَ عِبَادِهِ ، وَهُوَ الْحَكِيمُ الْخَبِيرُ . قُلْ : أَيُّ شَيْءٍ أَكْبَرُ شَهَادَةً ؟ قُلِ اللَّهُ شَهِيدٌ بَيْنِي وَبَيْنَكُمْ ، وَأُوحِيَ إِلَيَّ هَذَا الْقُرْآنُ لِأُنْذِرَكُمْ بِهِ وَمَنْ بَلَغَ ، أَئِنَّكُمْ لَتَشْهَدُونَ أَنَّ مَعَ اللَّهِ آلِهَةً أُخْرَى ؟ قُلْ لَا أَشْهَدُ ، قُلْ إِنَّمَا هُوَ إِلَهٌ وَاحِدٌ ، وَإِنَّنِي بَرِيءٌ مِمَّا تُشْرِكُونَ » .

( الأنعام : ١٤ – ١٩ )

« قُلْ : إِنِّي نُهِيتُ أَنْ أَعْبُدَ الَّذِينَ تَدْعُونَ مِنْ دُونِ اللَّهِ : قُلْ : لَا أَتَّبِعُ أَهْوَاءَكُمْ ، قَدْ ضَلَلْتُ إِذًا وَمَا أَنَا مِنَ الْمُهْتَدِينَ . قُلْ : إِنِّي عَلَى بَيِّنَةٍ مِنْ رَبِّي - وَكَذَّبْتُمْ بِهِ - مَا عِنْدِي مَا تَسْتَعْجِلُونَ بِهِ ، إِنِ الْحُكْمُ إِلَّا لِلَّهِ ، يَقُصُّ الْحَقَّ وَهُوَ خَيْرُ الْفَاصِلِينَ . قُلْ : لَوْ أَنَّ عِنْدِي مَا تَسْتَعْجِلُونَ بِهِ لَقُضِيَ الْأَمْرُ بَيْنِي وَبَيْنَكُمْ ، وَاللَّهُ أَعْلَمُ بِالظَّالِمِينَ . وَعِنْدَهُ

Marfat.com

مَفَاتِحُ الْغَيْبِ لَا يَعْلَمُهَا إِلَّا هُوَ ، وَيَعْلَمُ مَا فِى الْبَرِّ وَالْبَحْرِ
وَمَا تَسْقُطُ مِنْ وَرَقَةٍ إِلَّا يَعْلَمُهَا ، وَلَا حَبَّةٍ فِى ظُلُمَاتِ
الْأَرْضِ ، وَلَا رَطْبٍ وَلَا يَابِسٍ إِلَّا فِى كِتَابٍ مُبِينٍ . وَهُوَ
الَّذِى يَتَوَفَّاكُم بِاللَّيْلِ ، وَيَعْلَمُ مَا جَرَحْتُم بِالنَّهَارِ ، ثُمَّ
يَبْعَثُكُمْ فِيهِ لِيُقْضَى أَجَلٌ مُسَمًّى ، ثُمَّ إِلَيْهِ مَرْجِعُكُمْ ، ثُمَّ
يُنَبِّئُكُم بِمَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ . وَهُوَ الْقَاهِرُ فَوْقَ عِبَادِهِ ،
وَيُرْسِلُ عَلَيْكُمْ حَفَظَةً ، حَتَّىٰ إِذَا جَاءَ أَحَدَكُمُ الْمَوْتُ
تَوَفَّتْهُ رُسُلُنَا وَهُمْ لَا يُفَرِّطُونَ . ثُمَّ رُدُّوا إِلَى اللَّهِ
مَوْلَاهُمُ الْحَقِّ ، أَلَا لَهُ الْحُكْمُ ، وَهُوَ أَسْرَعُ الْحَاسِبِينَ .
قُلْ : مَن يُنَجِّيكُم مِّن ظُلُمَاتِ الْبَرِّ وَالْبَحْرِ ، تَدْعُونَهُ تَضَرُّعًا
وَخُفْيَةً : لَئِنْ أَنجَانَا مِنْ هَٰذِهِ لَنَكُونَنَّ مِنَ الشَّاكِرِينَ . قُلْ : اللَّهُ
يُنَجِّيكُم مِّنْهَا وَمِن كُلِّ كَرْبٍ ، ثُمَّ أَنتُمْ تُشْرِكُونَ . قُلْ هُوَ الْقَادِرُ عَلَىٰ
أَن يَبْعَثَ عَلَيْكُمْ عَذَابًا مِّن فَوْقِكُمْ أَوْ مِن تَحْتِ أَرْجُلِكُمْ ، أَوْ يَلْبِسَكُمْ
شِيَعًا وَيُذِيقَ بَعْضَكُم بَأْسَ بَعْضٍ ، انظُرْ كَيْفَ نُصَرِّفُ الْآيَاتِ
لَعَلَّهُمْ يَفْقَهُونَ » .....(١)

( الأنعام : ٥٦ - ٦٥ )

Marfat.com

- - - - - - - - - - - - - - - - - - - - - - - - - - - - -

(۱) - (ای محمده) ورته ووایه : آیا بې له خدایه - چه آسمانونه او ځمکه یې پیدا کړي دي، نور ونه دوستان ونیسم چه ټولو ته روزي ورکوي، او خپله روزي نه خوري؟ ووایه : زه مامور شوی یم چه لمړنی مسلمان واوسم، (ای پیغمبره) هیڅکله د مشرکانو له ډلې څخه مه کېږه . ووایه : که د خدای له امر څخه یې سرغړاوه، نو د (قیامت) د لویې ورځې له عذاب څخه ډېر وېرېږم . څوک که په هغه ورځ کښې پرېښودل شي، نو خدای رحم پرې کړی دی، او دا ښکاره بریالیتوب دی . که خدای ضرر درورسوی هیڅوک یې بې له خدایه د ده څخه لرې کولی نشي، او که خیر در په برخه کړي نو په ټولو شیانو برلاسی دی . دی پر خپلو بندګانو زورور او بشپړ پوه او له هر څه خبر دی . ورته ووایه څوک لوی شاهد دی؟ ووایه : خدای زموږ او ستاسې ترمنځ لوی شاهد دی؛ ما ته دغه قرآن د دې لپاره وحی (رالېږل) شوی چه تاسې، او هر هغه څوک چه دغه (قرآن) ورته ورسېږي، د خپلو اعمالو له ناوړه عاقبت څخه وو یروم . آیا تاسې شاهدي وایئ چه له خدای سره نور خدایان هم شته؟ ورته ووایه : زه خو هیڅکله دا شاهدي نه وایم . ووایه : خدای یو دی، او زه ستاسې له شرک څخه بېزاریم .

(انعام : ۱۴ - ۱۹)

(ای پیغمبره !) ووایه : زه منع شوی یم چه ستاسې د خدایانو (بتانو) عبادت وکړم ورته ووایه : زه ستاسې په هوسونو پسې نه ځم . (که نه !) نو بیا لاره به ورکه شي، او د هدایت موندونکو له ډلې څخه به نه وم . ووایه : زه د خدای له لوري ښکاره دلیل لرم، خو تاسې دروغ وګڼه (او زما د رب څخه مو انکار وکړ)، زما سره هغه شیان نشته چه تاسې یې ژر تر ژره غواړئ، حکم د خدای په لاس کښې دی . (۱) احد انسیي چه تشریع او قانون ګذاري یوازې او یوازې د خدای عزوجل حق دی او د خدای حکم ته د ټولو

- - - - - - - - - - - - - -

---

کښې نافـذ دی او بس . مترجم ) - خدای - حق وایي . او همدی بنه فیصله کوونکی دی . وړاندې وایې : که زما سره هغه شی وای چه تاسی یې ژر غوښتنه کوئ ، نو زما او ستاسی تر منځ به کار تمام شوی وای ، یعنې آرزو به مو سرته رسیدلې وای . خدای ظالمان ښه پیژني . دغیب کلی کلاپي له ده ( خدای ) سره دی ، بې له ده څوک پری خبر ندي ، د لوئي وچې او بحرونو له موجوداتو څخه خبر دی . هیڅ پاڼه یې دده له علمه نه لویږي ، او د ځمکې په تیارو کښې کومه وړه دانه ، دده له علم څخه وتلې ده ، داسې کومه وچ او لوند شی نشته چه په ښکاره کونکی کتاب « لوح محفوظ » کښې نه وي . خدای تاسی دشپې له خوا وژني « مرګ درباندی راولي » او ستاسی په ورځنیو ګناهو ښه پوهیږي ، بیا مو په « ورځ » کښې راپورته کوی ( او راپاڅوی مو ) تر څو چه ټاکل شوی اجل « موده » سرته ورسیږي . بیا خدای ته ورستنیږي او په خپلو عملونو به مو خبروي . دی په خپلو بندګانو بر دی ، او تاسی ته ساتونکي ( او څارونکي ملائکې ) درلیږي ، او کله چه کوم یوه ته مو مرګ « موده » راشي ، نو زموږ استازی ( ملائکې ) یې وژني او ( زموږ په حکم کښې ) کمی نه کوي . بیا نو خدای لورته بیول کیږي ، چه ددوی حقیقي او رښتنی معبود دی ، خبر اوسئ ! چه حکم یوازې دخدای په لاس کښې دی ، او همدی تر ټولو چټک محاسبه کوونکی دی . ووایه : څوک دی چه دلویو وچو او بحرونو له تیارو څخه مو خلاصوي ؟ په داسې حال کښې چه په ډېره تضرع او عاجزۍ سره یې په پټه کښې یادوئ ، او وایئ : که چیرې خدای مولږ په دې څخه خلاص کړي ، نو خامخا به دده شکر وکړو . وړاندې ووایه : خدای دی چه لدې فلاکت ، او له ټولو سختیو څخه مو خلاصوي ، خو بیا هم تاسی دشرک لاره غوره کوئ . وړاندې ووایه : خدای کولی شي چه له پاسه یا کښته تر پښو لاندې . له هری خوا . پر تاسی عذاب راولي ، او یا مو په ( جنګ کښې په ) ډلو ډلو وویشي او ځینو تر مو دځینو نورو له خوا عذاب درو وڅکي ؛ وګوره ! چه ( موږ ) څرنګه خپل آیتونه او د قدرت نښانې بیانوو ، تر څو چه دوی پوه شي !

( انعام : ۵۶ - ۶۵ )

Marfat.com

ویده فطرت بخوالی غبرګ ته په دقت سره غوږ ونیو، هغه غږ ته چه پدی وسیع محیط کښی پې د بدمرغۍ د واقعیتونو له تورو پردو لاندی شوی فطرت ته خطاب کاوه، او د خلاصون ناري یې ورو هلی. دخدای (ج) په لوري یې لاره ومینده او په واحد خدای یې ایمان راووړ؛ او بیدی توکه یې نوی دعوت پر ناهو درانږ. واقعیت . بریالی شو . حق پر ځای ودرید او باطل کډه وکړه .

* * *

کله چه خلك دیوه خدای لوري ته راوګرځېدل، نود ایي ونشو غملی چه خلك دخلکو عبادت وکړي . او یوکومه ورځ چه دټولو سرونو یوه مقتدر خدای ته په تعظیم سرکښته شول ، دټولو سرونه - دیوا وبل په ورانډې - لوړ او هسك شول ؛ او خپله انسانی آزادی یې تر لاسه کړه . او بیدی توګه د وینو او نسب د امتیاز دروغجی بخوالی قصی پای ته ورسیدی . دقومونو امتیاز له منځه ولاړ او داشرافیت او تبعیضی حاکمیت میرانی بنسټونه له بیخه ونړېدل شول ....

Marfat.com

خودا برياليتوبونه څرنګه لاس ته راغلل ؟

هلته يوه اجتماعي «كړغېړن واقعيت» وجود درلود، چه ترشا پاتي طبقات او نژادي، مادي او معنوي كمتي پرتې وې. هغه واقعيت چه په عربي ټاپووزمې نه، بلكه په ټولي نړۍ باندې د اقتدار خاوندو؛ د اسې واقعيت چه د هيچا د اعتراض مورد نه ؤ، څکه استعمارګرو كومه ستوماني نه حس كوله او په طفيلي توګه يې حپلې عياشتي ته دوام وركاوه. او له لاس لاندي خلك - د جهالت له مخې - په خپل انساني منزلت نه ؤ پوه، او دا وضعه يې طبيعي وضعه ګڼله!

قريشو به خپل ځانونه «حمس» يعني كلك، زړه ور او ديني مشران - بلل. او د ځان لپاره به يې داسې امتيازات تاكل چه نور عرب تري محروم او بې برخې وو. د حج په وخت كښي به هغه وخت په مزدلفه د ربدل چه نور خلك به ټول په عرفات ولاړ ؤ. او د دې امتيازاتو په اساس به يې هغه اقتصادي كمتي لاس ته راوستلې چه په نورو عربو يې فرض كړې وې. داېې پرې لازمه كړې وه: كله چه غواړي د خداى د كوټې طواف وكړي، بايد له قريشو څخه كالي راونيسي

او کرچا نشو کولی چه کالی راونیسی ، نو لوئ دی طواف وکړي

دعربی شبه جزیری شاوخوا ته نوله مخکه د تفرقی او اختلافونو ، او د نژادی او نسبی امتیازونو له لاسه په ملا کړه وه ....

« ایرانی تولنی پر نسبی او حرفوی امتیازاتو ولاړه وه . او د طبقاتو ترمنځ داسی لوړی اوږوری فاصلې موجودې وې چه هیڅکله یې پرسره د توافق او یووالی پُل نشو جوړیدلی ، او هیڅ ترمیمونکی د غه تبعیضی دړی نشوای سره نښلولای . حکومتونو به په کلکه ممانعت کاوه چه هیڅوك نشی کولی د امیر او یاکوم بل ستر مشر مځکه یا کور پر بیع واخلی . د ساسانی دوری د سیاست له مخې ، هرڅوك مجبور و پر خپل هغه مقام قناعت وکړی ، کوم چه د نسب پر اساس ورکړلی دی . او نشی کولی لهٔ خپلی رتبی نه پورته مقام ته ورسیږی ، او د هغه د لاس ته راوستو په لټه کښی شی . او هیڅوك نشی کولی بی له هغی حرفی او وظیفی نه چه خدای ورکړه ، بل کسب ځان ته غوره کړی . د ایران پاچاهانو به خپل رعیت په دولتی چارو نه گمارو . او همدارنگه عام خلك

هم په مختلفو اورانو طبقو وېشل شوي وو. او هرې طبقې په ټولنه کښې ځان ځانته مقامونه درلودل. څنې به په آسمان کښې، او ځنې نورې به ترخاورو لاندې وې. او اشرافیت او خانخانی په تام اقتدار خپلې ریښې ټینګې کړې وې"[1]

اکاسره «خسروان» د فارس پاچاهانو دا ادعاء کوله چه زموږ په رګونو کښې الٰهي وینه بهېږي. او فارسیانو به هم دخدای پرسته که ورته کتل. او دا عقیده یې درلوده چه د دوی په طبیعت کښې یو علوي مقدس شي پروت دی. نو دوی ته به یې دګناهونو کفارې ورکولې، او د دوی دخدایي په هکله به یې سندرې بللې او دوی به یې له قانون څخه جلا ګڼل. او په دوی یې انتقاد کول کفر بالل، او له ټول بشر نه به یې هسک ګڼل. د دوی نوم به یې په ژبه نه اخیست، او په مجلسونو کښې به یې هیڅوک کښېناستلی نشو. او په دې عقیده وُ چه دوی په هر انسان حق لري، او د هیچا په دوی کوم حق نشته. او کوم شي چه له اضافي مالونو او

---

[1] «ماذا خسر العالم بانحطاط المسلمین - د مسلمانو د بېرته پاتې کېدو په سبب نړۍ څومره زیانمنه شوه؟» د سید ابوالحسن ندوي لیکنه، چه نوموړي د پروفیسور آرتهرسین له کتاب «ایران د ساسانیانو په دوره کښې» څخه استفاده کړېده.

Marfat.com

د دسترخوان له خخوړو څخه چاپېر ورکوي ، دا محض احسان او صدقه ده . بې له دې چه څوك کوم حق پرې ولري . او معتقد وُچه . د دوی په مقابل کښې خلك بې له منې او اطاعت څخه د بل شی حق نه لري . او خاص دکیانې کورنۍ ېې په قداست سره پېژندله . او معتقد وُچه بې له دوی څخه بل څوك د تاج د پرسر کولو او خراج

او مالیاتو د راغونډولو حق نه لري . او د غه حق به

دغېانو او اشرافو په منځ کښې يو پر بل پسې د یو بل

په برخه کېده ، زوی تر به له پلاره ، او

پلار تر به له نیکه دا حق ور پاتې کېده ،

کرچا به پدې هکله مخالفت او نزاع

کوله ظالم گڼل کېده . او که چا به سیالي

ورسره کوله هغه ته به يې کم

اصل او بد طينت ويل (۱)

(۱) ماذا خسر العالم بانحطاط المسلمين ـ (مسلمانو د پرېوتو له امله به نړۍ څه له لاسه ورکړل ، ...) د ابو الحسن الندوي ليکنه

په هندکښې طبقاتي نظام ترټولو ظالمانه اوجابرانه وو . او

يوانسان بربل انسان ته چاري وي چه نه بريې کولی !

" له ميلاده دري پېړۍ دمخه په هندکښې برهمني تمدن

منځ ته راغی ، او په هغه کښې د هندی ټولنې لپاره کړنلاره کښودل

شوه ؛ چه په هغې کښې مدنې سياسي قانون تأليف ، او دريسمي

قانون . او ديني مرجع په توګه د هېواد پېژوندانه او مدنيت کښې

وپېژندل شو . او اوس د " منوشاستر " په نامه سره يادېږي ...

دغه قانون د هېواد اوسېدونکي په لاندينيو څلورو متمايزو

طبقو تقسيموي :

۱- برهمنيان ؛ يعنې مذهبي اشخاص او کاهنان ، غيب ويونکي او دخدا

نماينده ګان " .

۲- شتري ؛ يعنې جنګياليان او حربي اشخاص .

۳- ويش ؛ يعنې بزګران او تاجران .

٤- شودر ؛ يعنې چوپړان " خدمتګاران او کارګران " .

د دې قانون مؤلف " منو " وايي :

" د مطلق قدرت خښتن ، دعالم د مصلحت لپاره برهمنيان

له خپلې خولې څخه خلق کړل . او شتري يې له مټو ، او ويش

يې له ورنو ، او شودر يې له پښو څخه پيدا کړيدي . او دعالم

Marfat.com

د مصلحت لپاره یې پر دوی مختلفې وظیفې وویشلې :

برهمنیانو ته یې د « وید » (١) ښوونه او تعلیم ، خدایانو ته د نذرونو وړاندې کول ، او د صدقاتو اخیستل ټاکلي . او پر شتریانو یې د خلکو حراست او ساتنه ، صدقات او نذرونه ورکول ، او د « وید » زده کول ، او له شهواتو څخه ځان ساتل فرض کړي . او ویشیانو ته یې د څاروېو پوول او د ځمکو کرل او خدمت کول ، او د « وید » تلاوت ، تجارت او کرهنه ورپه غاړه کړېده . او شودرانو ته یې لدې پرته د نورو درېو طبقو چوپړ او خدمت وکړي بل کار نشي کولی !

دغه قانون د برهمنیانو طبقې ته ټکه مته د خدای په څېر امتیازات او حقوق ورکړي ، او بېدې توګه یې د خدای سره په یوه صف کښې دروولي دي . قانون وایي : برهمنیان د خدای عزیز او برګزیده ګان دي . دوی د خلکو پاچاهان ، او څه چه په دنیا کښې دي . د اصول د دوی مال او ملکیت دي . ځکه دوی له مخلوقاتو څخه افضل او د ځمکې پر مخ باداران دي . دوی کولای شي چه د خپلو غلامانو « شودرانو » مالونه یې له پوښتنې څخه خوره

(١) د دوي مقدس کتاب دی .

Marfat.com

چه وغواړي واخلي . حُکم غلام د هیڅ شي خاوند ندی ، او ټول مال یې د بادار دی . او هغه برهمني چه « رګ وید » (مقدس کتاب) یې حفظ کړیدی ، که څه هم د ریواړ جهانزېي له ګناهو څخه ډك وي ، بسل شوی کسان دی . پاچاحق نلري چه حتی په سختو او اضطراری حالاتو او وچکالی کښي له برهمنیانو څخه مالیه او یا رشوت واخلي . او روا نده چه کوم برهمني څپل وطن کښي له لوږې مړ شي . که چیرې کوم برهمني د قتل مستحق وګرزی او په اعدام محکوم شي ، حاکم یا قاضي بې لدې چه سر یې پرې وخړیي ، کوم بل حکم نشي پرې کولی . اما غیر برهمني که په اعدام محکوم شو باید ووژل شي .

اما شتری که څه هم د ویش او شودر له دو طبقو څخه پورتر دی ، خو بیا هم له برهمنیانو څخه ډېر ټیټ دی . نو « منو » وایي : هغه برهمني چه لس کلن دی ، له هغه شتری څخه چه سل کلن دی ـ لکه پلار چه په زوی لوړ والی لري ـ هم ډیر افضل او لوړ دی .

اما شودر ـ خوار او ذلیل طبقه ـ د هم دغه قانوني نص په اساس ، پر هندی ټولنه کښي د ختار ویو له طبقي څخه هم ډېر ټیټ دی ، او له سپیو څخه ډېر ذلیل . قانون وایي :

Marfat.com

شودریان به د برهنکمرغوري چه د برهمنیانو په خدمت بریالی شي ؛ اولی لدې څخه دوی دهیڅ اجراوثواب مستحق نشی کرزیدلی . دوی نشی کولی چه مالونه لاس ته راوړی اویاخزانه ځان ته زیرمه کړی ؛ ځکه دا کار برهمنیان ځوروي. اوکه چاله دغی رټل شوی اولی برخی طبقی څخه . دبرهمنی په لوري لاس یالکړه اوږده کړه ، باید لاس یی پری شی . اوکه له غصی یی کوم برهمنی په لته کښی وواهه نو پښه دې ورغوڅه شی . اوکه کوم رټل شوی شودر له برهمنی سره کښیناست ، باچا ته لازمه ده چه دهغه کښیناستځی "مقعد" ورداغ کړی . اویایی له وطنه وشړي ، اوله ټولو حیاتی چارو څخه یی محروم کړی . اوکه په کوم برهمنی یی لاس ووهه اویایی کنځلی ورته وکړی ، ژبه دې له بیخه وېستله شی . اوکه ادعا یی وکړه چه برهمنی ته څه وربښیی ، نوسره شوی تیل دی په ستونی کښی ورتوی کړل شی . دسپی ، پیشی ، چنګښی ، وږغ ، کاغی ، کونګ او دتیتی اورټل شوی طبقی ، شودر ، څخه دیوه فرد دوژلو تاوانونه ټول سره برابر دي ".(۱)

---

(۱) له پخوانی ماخذ څخه .

Marfat.com

اما د روم مشهور تمدن د همغي عیاشي په اساس ولاړ وُ چه
د هیواد د ري ربعو "۳/۴" اوسېدونکو (غلامانو) بر یاتي ربعي
(اشرافو) ته برابروله. او د بادار او غلام، شریفي طبقي او ټیټي رتبي
شوي طبقي ترمنځ به د تفرقي پر اساس روحاني قانوني نصوص
ترتیب کېدل:

د جوستنیان په مشهورې قانوني لیکنې کښې داسي راغلي:
"که چا پر کوندې او یا پېغلې تجاوز وکړ، او په بدوسترګه یې
لاس وروړ، نو جزا یې پدې ډول ده: که د شریفي کورنۍ څخه
وي، نو نیمایي مال دي مصادره شي. او که د ټیټي کم اصلي کورنۍ
څخه وي، نو جزا یې په ذرو وهل او له وطنه شړل دي." (۱)

په هغه وخت کښې چه د غه ظالمانه وحشیانه او جاهلانه
"واقعیت" په محکمه کښې باداري چلوله. اسلام په تام متانت
او حقیقي عدالت سره د جاهلیت او استبداد له تورو او ضحیموپردو
لاندي شوي. انساني فطرت ته ورغبرګ کړل؛ هغه فطرت ته چه
د اتول ظالمانه رژیمونه غندي او پر کرکه ورته کوري. همغه وُ چه
فطرت په پوره مینه د اسلام غږ ته هر کلي ووېلي، او دغه دړانه
او تریخ واقعیت ته یې شا کړه. فطرت د خدای د غي ندا،
ته چه خلکو ته یې کړي په پوره مینه غوږ ونیو:

(۱) د عبد العزیز فهمي له ترجمې څخه. ص ۲۱۷

Marfat.com

"یا أیها الناس إنا خلقناکم من ذکر وأنثی، وجعلناکم شعوبا وقبائل لتعارفوا. إن أکرمکم عند الله أتقاکم"(1)...

(الحجرات : ۱۳)

او په دین رغبت لې دخدای (ج) هغه خطاب ترغوږ کېښود چه خاصه قریشو ته متوجه دی. هغو قریشو ته چه ځان ته حتی دحج په مراسمو کښې په خاص منزلت قایل وو:

"ثم أفیضوا من حیث أفاض الناس"(2)...

(البقرة : ۱۹۹)

او همدا رنګه فطرت، انسانی اصیل جوهرت، دپیغمبر - صلی الله علیه وسلم - دی وینا ترغوږ وینو، چه ټولو خلکوته یې ویل: "أیها الناس! إن ربکم واحد، وإن أباکم واحد، کلکم لآدم وآدم من تراب. إن أکرمکم عند الله أتقاکم. ولیس

---

(1) ای خلکو! په حقیقت کې موږ تاسو له یوه نر او ښځې څخه پیدا کړي یئ او بیا قومونو او قبیلو مو ددې لپاره وویشلئ چې سره وپیژنئ، (او دا ... د افضلیت اساس نه ګڼل کیږي) په حقیقت کې دخدای په وړاندې ستاسو په منځ کې تر ټولو دېر عزتمند ... دی.

(2) وروسته بیا تاسو له هغه ځایه حرکت وکړئ چه نورخلک ... (... اسیا ... عوام ...)

لعربي على عجمي، ولا لعجمي على عربي. ولا لأحمر على أبيض ولا لأبيض على أحمر فضل إلا بالتقوى »..(١)

او همدا رنګه دغې لارښوونې ته بنه څېر او غوږ ږدئ، چه خاصه په قريشو ته وېل :

« يا معشر قريش : اشتروا أنفسكم، لا أغني عنكم من الله شيئاً. ويا بني عبد مناف لا أغني عنكم من الله شيئاً يا عباس بن عبد المطلب، ما أغني عنك من الله شيئاً. يا فاطمة بنت محمد (ص) : سليني ما شئت من مالي، لا أغني عنك من الله شيئاً »...(٢)    (متفق عليه)

---

(١) اى خلكو خداى مو يو او پلار مو هم يو دى. ټول له آدم (ع) څخه پيدا شوى يئ، او آدم له خاورې څخه پيدا دى. په رښتيا چه د خداى په نزد ستاسې د پرهيزګارى پر عزتمند دى. نه عربي پر عجمي، او نه عجمي پر عربي. نه سور پوستى پر سپين پوستى، او نه سپين پوستى پر سور پوستى کوم فضيلت لوړ والى لري مګر په تقوى «ښو اعمالو» سره.

(٢) اى قريشو! ځيل ځانونه مو «د خداى له عذابه» وساتئ! زه له تاسې څخه د خدا عذاب نشم لرې کولى. اى د عبد مناف زامنو! زه له تاسې څخه د خداى عذاب نشم ايستلاى. اى (زما تره) عباس د عبد المطلب زويه! زه له تا څخه د خداى عذاب نشم لرې کولى. اى فاطمې د محمد (ص) لورې! زما له مال څخه د خرڅه زه غواړې، را څخه يې غواړه. زه د خداى (عذاب) نشم درڅخه ګرځولى.

Marfat.com

فطرت دې قبلېدونکې نداء ته بسه غوږ ونيو : او دجاهلې واقعيت پټول تور پېڅولونه اوګرد ونه يې له خپل سيځلې نخ نخه لرې کړل . او له الهي کړنلارې سره يوځای د انسانيت په لور روان شو... او بيا د الهي پوخيل ستنو او تګلارو سره سم ، څه چه بايد واقع شوي وای ، هغه واقع شول . اسلام عزت او جهل ذليل شو . او تل به داعزت د اسلام په برخه وي ، خو بيدې شرط چه لاس او پښې حرکت وکړي !

* * *

په عربي ټاپو وزمې کښې د سودخورې نظام يو مقتدر او خپور نظام ؤ . او په همدې اساس يې اقتصادي چارې ولاړې وې . ځوک دې داګمان ونکړي چه دا هغه فردي معاملات وو چه په تنګ چوکاټ کښې د افرادو ترمنځ اجراء کېدل . بلکه قريشو له شام سره د اوړي په کاروانونو ، او له يمن سره د ژمي په کاروانونو کښې لوی او پې سارې تجارت درلود . او په دې تجارت کښې د قريشو مالونه پکار لوېدل . دلته بايد دا هېر نکړو چه : د ابوسفيان هغه قافله ـ چه مسلمانانو يې د بدر له غزا نه مخکښې مخه نيولې وه ، او بيا په

Marfat.com

بلد لاړ نړی وتښتېده ، چه وروسته بیا خدای (تعالی) د
بدر په غزا کښی د دوی ترمنځ پر غنیمت سره وویشلو - د قریشو
لنورو تجارتی کاروانونو څخه زیات نوه . د غی قافلی زراوښ
پر مالونو بار درلودل ! که څېری سودخوړل «ربا» تنها
فردی معاملی وای ، او د اقتصادی ژوند انو لپاره - په
هغی زمانی کښی - یوشامل او خپور نظام نوای ، نو هیڅکله
به د خدای له لوری پر قرآن کښی د غه څو واره تکرارشوی
شدیده اولهړونکی غندنه ، پر دی هکله نوای راغلی . او
نه به پیغمبر (ص) له خوا د ده احادیثو کښی - د قرآن پر پیروی
دا نظام محکوم شوی وای !

دغه مالونه ، دغه تجارتی حرکتونه ، او دغه اقتصا د
چه د تجارت پر ستنی ولاړ ؤ ، د اټول د سودخوړی نظام
پر بنسټ هسک شوی وو . او پدی نظام کښی تقریباً له
بعثت نه لږ څه مخکښی د هیوادونو اقتصادیات ټول راټول شو
ؤ . او په مدینی کښی هم اقتصادی ژوند په همدی توګه جریان
درلود . او د اقتصاد ښېښتنان لی یوازی یهودان ؤ ؛ پدا سی
حال کښی چه سودخوړل هم د یهودانو اقتصادی اساس
دی .

Marfat.com

داهغه اقتصادی «واقعیت» دی، چه دجاهلیت په موده کښې دهېوادونو ژوند پرې اتکاء درلوده.

لدې نه وروسته اسلام راغی ... او دا ظالمانه او حیوانی نظام یې په کلکه سره وغانده. او دهغه پرځای یې دزکاة قرض حسنی، بې کټې قرض، تعاون، او اجتماعی تکافل اوتضامن انسانی سلیم اساسات کېښودل.

• الَّذِينَ يُنفِقُونَ أَموالَهُم بِاللَّيلِ وَالنَّهارِ سِرًّا وَعَلانِيَةً فَلَهُم أَجرُهُم عِندَ رَبِّهِم، وَلا خَوفٌ عَلَيهِم، وَلا هُم يَحزَنونَ. الَّذِينَ يَأكُلونَ الرِّبا لا يَقومونَ إِلّا كَما يَقومُ الَّذي يَتَخَبَّطُهُ الشَّيطانُ مِنَ المَسِّ، ذٰلِكَ بِأَنَّهُم قالوا: إِنَّمَا البَيعُ مِثلُ الرِّبا. وَأَحَلَّ اللَّهُ البَيعَ وَحَرَّمَ الرِّبا. فَمَن جاءَهُ مَوعِظَةٌ مِن رَبِّهِ فَانتَهىٰ فَلَهُ ما سَلَفَ، وَأَمرُهُ إِلَى اللَّهِ. وَمَن عادَ فَأُولٰئِكَ أَصحابُ النّارِ هُم فيها خالِدونَ. يَمحَقُ اللَّهُ الرِّبا وَيُربِي الصَّدَقاتِ، وَاللَّهُ لا يُحِبُّ كُلَّ كَفّارٍ أَثيمٍ

إِنَّ الَّذينَ آمَنوا وَعَمِلُوا الصّالِحاتِ، وَأَقامُوا الصَّلاةَ وَآتَوُا الزَّكاةَ، لَهُم أَجرُهُم عِندَ رَبِّهِم، وَلا خَوفٌ عَلَيهِم

Marfat.com

وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ . يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اتَّقُوا اللَّهَ وَذَرُوا مَا بَقِيَ مِنَ الرِّبَا إِنْ كُنْتُمْ مُؤْمِنِينَ . فَإِنْ لَمْ تَفْعَلُوا فَأْذَنُوا بِحَرْبٍ مِنَ اللَّهِ وَرَسُولِهِ ، وَإِنْ تُبْتُمْ فَلَكُمْ رُؤُوسُ أَمْوَالِكُمْ لَا تَظْلِمُونَ وَلَا تُظْلَمُونَ . وَإِنْ كَانَ ذُو عُسْرَةٍ فَنَظِرَةٌ إِلَى مَيْسَرَةٍ وَأَنْ تَصَدَّقُوا خَيْرٌ لَكُمْ إِنْ كُنْتُمْ تَعْلَمُونَ . وَاتَّقُوا يَوْمًا تُرْجَعُونَ فِيهِ إِلَى اللَّهِ ، ثُمَّ تُوَفَّى كُلُّ نَفْسٍ مَا كَسَبَتْ وَهُمْ لَا يُظْلَمُونَ . » (١)

( البقرة : ٢٧٤ - ٢٨١ )

---

(١) هغه کسان چه خپل مالونه په شپه او ورځ کښي ، پټ او ښکاره » د خدای په لاره کښي ، ښندي . نو د دوی لپاره له خدای سره د ښه اجر دی ، پر دوی نه وېره شته ، او نه خواشيني کېږي . هغه کسان چه ګټه ( سود ) خوري ، ( د قيامت په ورځ ) به نه را ولاړېږي ، مګر ( پاڅېږي به ) لکه هغه څوك چه پېريانو يې د اثر له مخي حواس ورخراب کړي وي . دا ځکه چه دوی به ويل سوداګري « بيع » خو هم لکه ګټه ( سود ) غوندي ده . پداسي حال کښي چه خدای سوداګري روا ، او ګټه يې ناروا کړېده . نو چا ته چه د خدای له لوري لارښوونه راغله ، او له ګټې نه يې لاس واخيست . نو تېره شوې ګټه ( د دې آيت له نازلېدو څخه مخکښي ) د ده ده ؛ او د ښني کار يې د خدای په لاس کښي دی . او که څوك بېرته يې ګټې » را وکړ زيد ؛ نو دوی د اور خښتنان ، او د تل د پاره به يې کښي اوسي . خدای د ګټې د ( مالونو برکت ) له منځه وړي ؛ او د صدقاتو ( ثواب څو څو واره ) زياتوي ؛ خدای هيڅ سخت کافر او ګنهګار نه خوښوي . هغو کسانو چه ايمان راوړی ، او ښه ( عملونه ) کوي ، لمونځونه

انساني فطرت دا حقیقت درک کړه چه الهي دعوت له ټولو هغو مدرغیو څخه چه اوس اوس پرې اختر دی بنه، غوره او خلاصونکې دی. او له هغو ټولو سختو څخه کرکه راغله چه د ربا "سودخورۍ" ظالمانه او ملامتونکي نظام پرې ولاړ وو. او له ټولو هغو مشکلاتو سره چه له دغې وضعې څخه - چه د خلکو د ژوندانه اساس بلل کېده - د راکړې ورکړې په هکله موجود ؤ، بیا هم د انسان فطرت وکولی شو چه په ډېر قوت، مېړانې او متانت سره الهي دعوت ته غوږ ونیسي. او هغه

---

← کوي، او زکاتونه ورکوي، دوی د خدای له لوري ښه اجر مومي، پر دوی نه ویره شته او نه خواشیني کېږي. ای مؤمنانو! له خدایه ووېرېږئ او باقي شوې ګټه مو پرېږدئ، که رښتیا مؤمنان یئ. که چېرې مو دا کار ونکړ - ګټه مو پرې نښوده - نو د خدای (ج) او د ده د رسول (لوی) جګړې ته تیار شئ. او که توبه مو وویستله (او ګټه مو پرېښوده)، نو یوازې رأس المال - اصلي پانګه - ستاسې ده، او بس "یعنې ګټه مه غواړئ". مه پر بل ظلم کوئ، او نه دې پر تاسې ظلم وشي. او که کوم پوروړی تنګ لاسی (او بې ماله) وي، نو د شتمنۍ تر وخته ورته وګورئ. او که هغه پور وروبښئ، نو دا کار - که پوهېږئ - ستاسې د پاره ډېر بښه دی. او له هغې ورځې څخه ووېرېږئ چه پر ته خدای (ج) ته بېول کېږئ. بیا به له خپل عمل سره سم هر چا ته پوره جزا، (که خیر وي او که شر) ورکول کېږي. او پر دوي به ظلم ونشي.

Marfat.com

لوی او ډار ونکی جاهلی « واقعیت » تر شا کېږي . او پدې توګه اسلامی ټولنه د جاهلیت له ټولو پلیتیو او خیرنتیا وڅخه پاکه او سپېڅلې شوه . او بیا هغه څه بنا یې واقع شی ، او بشري ټولنه د هلاکت لدې ګرداب راو باسي ، د الهی سنتو سره سم - چه د تل دپاره د تکرار بډ و وړ دی ، هغه واقع شول . او فطرت لدې ملا ماتونکی ظالمانه نظام څخه راووت ؛ چه د تل دپاره بر ځی د لاری له مجاهدینو سره مل او هم د هر شل وی !

* * *

په دې فصل کښې همدومره بس دی چه دا درې مثالو نه مو د فطرت د غالبېدو او بریالیتوبونو په هکله ، چه له څو انی « واقعیت » سره د محاذ کېدو څخه وروسته لاس ته ور غلل څرګند کړل ، او لدې ملا ماتونکی ظالمانه نظامونو څخه خلاص ، او د جاهلیت په ټولو خارجی « واقعیتونو » بریالی شو ... او پردې موفق شو چه د جاهلیت د عقیدې او مفکورې واقعیت ، د اوضاعو او دودونو واقعیت ، او بالآخره د اقتصاد او سوداګرۍ واقعیتونه ټیټی بدل کړي . د غه جاهلی خارجی واقعیتونه د هغو کسانو په نظر کښې چه د عقیدې او فطري واقعیت

Marfat.com

قوت نشي درك كولى ، ترټولو ډېر قوي او پياوړي سنگاري . او داسي ور ته ريښتي چه گواكي هيڅكله " فطرت او عقيده " نشي كولى د دغو واقعيتونو په مخ كښي ودريږي .

خو اسلام د دغو ټولو واقعيتونو په مخ كښي لاس تړلي ونه دريږي او هيڅكله ورته تسليم نشو . بلكه دا واقعيت يي له بيخه لغو او بې شانه كړه . او د هغه پرځاي يي هسك او ممتاز نظام برلكلو بنسټونو ودراوه ، او دا حقيقت يي وښود چه د عقيدې او فطرت واقعيت ترټولو قوي او پياوړي دئ ، او نهايي بريا هم د همدې فطرت او عقيدې په برخه دئ .

لوكوم شي چه پوځل واقع شي ، كيدلى شي چه بيا هم منځ ته راشي . او دا واقعيت او بري د الهي جاري سنتو او تگلارو په اساس منځ ته راغي ، نه د خارق العاده معجزې په اساس . دغه الهي كړنلاره " اسلام " د فطرت د هغې خوندي شوي زېرمې پر بنسټ ودريده ، چه د تل لپاره او په هره زمانه كښي د هغه ځا ملاتړ كوي ، كوم چه غواړي دغه فطرت له كړاونو خلاص ، او بيرته يو موټى او متحد يي كړي . او په سمه لاره يي روان ، او انساني پراوتر د رسيدو په هكله يي سنه هيري كړي

Marfat.com

او شاید بشریت نن ورځ د هټولو وختونو په نسبت په
ډېر رهبري کښې ترهر چا پیاوړی او قادر وی؛ څکه چه پخپل
ارغونی او اوږده تاریخ اوږد وړاندې کښې یې د لمرنځه طلایی
دورې ، داسې ښکاره او اصیل آثار پاتې دی ، چه بشریت
د تل د پاره رهبری کولی شی ، او پیدی هکله یې
د بریالیتوب لوړ ته ښه وړانزدې کوي؛
د هغې دورې آثار چه مېړونې له ټولو
انحرافاتو سره په کلکه مبارزه وکړه.
برې یې وموند ، او پخپلې لاره هم
سیخ روان شول. او پیدې لمر
کښې یې زوړ او ځلانده آثار
او د مبارزې تکلارې
راتلونکو نسلونو ته
په سوغات
پرېښودلې

★

Marfat.com

# د تجربې زېرمه

کله چه اسلام د لمړي ځل دپاره لرشريت سره مخامخ شو،
يوازي د فطرت د زېرمي په ملاتړ يې د امقابله شروع کړه. د انساني
فطرت زېرمه د ټولو هغو ورځو نسلونو سره چه د جاهليت د
دورې د کثيفو واقعيتونو، تناقضاتو او غير انساني اوضاعو
د خاورو وايرو لاندې لې کلونه تېر کړي ؤ - بيا هم
د دې دين په لور، او ملګري ئې ؤ. د فطرت طوفان او ولسونو
له ټولو د غو خپرو اوضاعو او نورو پردو او ګرد و نه چه په
فطرت لوېدلي ؤ، په قوي دي. او د فطرت مدد د دې
لپاره بس کافي و چه ځواني ناولتوب او خيرې لري، او د
اسلام د خيرولې لپاره لاره خلاصه کړي.
د غه عجيبه دوره، او د غه هسکه او د ټکه انساني خوځه،
او د غه ګن خپور او لوړ نسل. او د غه ورېنا ... نه ده - لکه چه
محکښې موو ويل - دا ټول د خداي د قضاء او قدر او سنجول
تدبير پر اساس منځ ته راغلل. تر څو د غه مټار موېت د بشري

ترونداره په واقعیتونو کښې داسې ویښې چه : کید لای شي
همغه دوره لدې نه وروسته بیا هم د ژوندانه په ټولو اړخونو
کښې په واقعي توګه تکرار شي . او په دې هکله بشري مبارزې
د زمانې په اوږدوکښې د بشر له وسې سره سم دوام میندلای شي ،
او د تل لپاره به داغه پوره ته وي .

دا د همغه وخت د محیط طبیعي تمړه نه وه . بلکه د فطرت
د هغې خوندي شوې او یوځای شوې زېرمې تمړه وه ، کوم وخت
چه داسې کامله کړنلاره ، رهبري ، روزنه او هغه حرکت چه
ولید چه دا زېرمه سره یو موټې ، او په کلکه سره یې مخ په وړاندې
بیایې ، نو د هغې بلنې ترې هر کلي وویلي او ټول متراکم خنډونه
یې لرې وابستل .

خو افسوس چه له هغه نه وروسته بشریت په عمومي توګه
د پېرې مودې لپاره د دې هسک منزلت ساتلو ته بېرته چمتو والې
ونه ښود . هغه هسک انساني منزلت ، چه لمړنۍ مختارې او ممتازې
دلې - د خدای پرمرسته - لاس ته وروړې ؤ ... یو کله چه اسلام
د مځکې په ختیځ او لویدیځ کښې پخپل داسې عجیب سرعت سره ،
چه په تاریخ کښې یې ساری نه لیدل کېږي ، خپور شو
او یدې الهي مختار او عالي دین کښې ډلې ډلې خلک داخل

Marfat.com

شول . او د اسلامي کمې او وسيعې ټولنې هغه پوازنۍ او ممتازه ژوره او آرامه روزنه چه لمړنۍ اسلامي جمعيت اخيستې وه په نصيب نشوه .....

کله چه داټول شيان واقع شول . د جاهليت پاتې شونو " بقاياؤ " د بېرته راژوندي کولو په لړ کښې د توروداغونو په غوړځولو شروع وکړه ، او له هغې فريدې او ممتازې هسکې ځوکې څخه لې خلک څه په کښته تورو خاورو ته را کښول . هغه خلک چه نوموړې هسکې انساني ترې لي لږ قوي غوړځنګ او هغې مبارزې څخه ، چه لمړنيو مسلمانانو د ممتازې ، ټوړې او آرامې روزنې پواسطه را تلونکي نسل ته وړ ونبوده ؛ بل شي نشي ږو لې او لې له هغې مبارزې څخه چه د فطرت خزانې سره يو موټې کړه او څه په وړاندې لي د لرې هدف په لور وتوغوله ؛ بيا هم بل شي نشي کولی چه هغه انساني هسک مقام ته ځې ورسوي !

نو له هغې کبله اسلامي ټولنه - تر ډېر زر کاله - نه په هغې هسکې او نوراني سويې ، بلکه په مختلفو سويو پاتې شوله . چه بيا هم په عمومي توګه د ټولو نورو ټولنو په نسبت چه د دنيا په ګوټ ګوټ کښې او سيد لې ، هسکه

اوپرمخ تللی وه ... اولکه چه انصافگر تاریخ ـ سره لدې چه ډیرکم دی ـ څرګندوی چه دغو متولو ، سره لدې چه له همدغی انسانی هسکی اوځلاندی ډبوی څخه بې برخې غوښتل ، بیا هم د اسلامی متولو سویې ته نشوای رسیدلی.

* * *

هغه لوی او ممتاز غورځنګ ـ چه په تاریخ کښې یې ساری نه لیدل کیږی ـ ، او د لویو سویو د غزرونکی تمدن ، هیڅکله خوشی نه دی تیر شوی . او په بشری ژوندانه کښې یې اغیزې له منځه ندی تللی . اوله ځانه وروسته یې بشریت پداسی وضعی پرې نښود ، لکه چه مخکښې د جاهلیت په اوږدو کښې په راز راز آفتو ککړ و .

نه ! هیڅکله نه ! الهی خوځونکی تکلاره ، او خداوندی جریان ، هیڅکله خلک بې خبره او خوشی نه پرېږدی . څکه چه بشریت بچپله د زمانی په دوران کښې سره تړلی او متماسک وجود دی . همدا راز د غه بشریت ، یو داسی ژوندی جسم دی چه په هر ـ بخت کښې د تجربو له لارې او حاصل څخه متبسمه ګټه اخلی ، او د معرفت

خوری له ځان سره ساتي . اوکه هرڅومره د جاهلیت لړې وربانډې پرېوزي ـ لکه چه همدا اوس یې په مرتدانو توکه بشریت راګیر کړیدی ـ او یا د پرهنډوالی او انحراف رنګونه پرې ولوېږي . خو بیا هم د غه بشري سالم فطرت همغسې خوندي دی . او په عمومي توګه یې د هر انسان د زړه په تل کښې ځای نیولی دی .

کله چه اسلامي دعوت په لمړي ځل کښې یې له فطرت ځخه انحراف ځخه بل څه ونه مینل ، چه دهغه په مرسته د بشریت د جاهلي واقعیت په مخ کښې ودرېږي . " دلته بنیادي هم لکه چه پدې وخت کښې د یوځواکي هغو رسالتونو ضعیفي او کمزوري ورانګې هم موجودې وې ، چه د بېلو بېلو تېروتنو لپاره یې راتلل ـ نه لکه اسلام چه د ټول بشریت لپاره روښانونکی د یوه ده . » اما نن ورځ د فطرت د خوندي شوي رېړې په اړخ کښې د ټول لسته پرته وندانو کښې ـ مسلمانان ،و ، او هغه کسان چه د اسلام تر حکم لاندې اوسیدل ، او که هغه کسان چه له لرې د اسلام د ویجو او پراخو اصولو او تګلارو تر اغېزې لاندې راغلي ـ د دې لپاره کېږي نلارې د لمړني څپې ، صدر اسلام . د لارښوونو خزانه

Marfat.com

ملګرې ده . او همدارنګه د بشریت د ترخو تجربو حاصل يې هم پرلاس کښې نيولې دی . هغه ترخې تجربې چه د جاهليت په موده کښې يې له کړاو ونوسره رغملي ، په کوم وخت کښې چه له خدايه لرې شو ، نو د ژوند تريخوالی يې وڅاکه اوله ډېرې سختې تخنه له خپله ځانه هم بېزاره شو

هغه اصول او تصورات ، ارزښتونه او موازين ، کړنلارې او اوضاع ، چه د هغو په اساس اسلام له بشريت سره په داسې حال کښې مخامخ شو چه بې د فطرت له ډېرې تخنه يې بل ملګرې نه درلود . او خلکو ښکاره يې د مخالفت او انکار ورسره اعلا نه او په کلکه يې مقاومت ورسره وکړ . ځکه په هغه وخت کښې په تمام معنی ورسره نا آشنا ، او په ډېرې وسيعې اولرې فاصلې ورڅخه واقع وو ....

همدغه اصول او تصورات ، ارزښتونه او موازين ، کړنلارې او اوضاع د بشريت ديوه ټولګی په ژوند انړکښی کلک او مستقر شول ، چه په يوې خاصې مودې کښې په کامل صورت او وروسته بيا په اسلامي پراخې نړۍ کښې په بېلو بېلو سويو دا وږدې مودې لپاره استقرار وموند .

Marfat.com

اوورو وسته د ۱۳۹۱ ، کلونو پرموده کښې نژدې د ټول بشریت پرژوندانه کښې وپېژاندل شول ... که څه هم د عمل او تطبیق له مخې معرفي نشول ، خو بیا هم لږ تر لږه د مطالعې ، کتنې او پلټنې له مخې د ټولو څخه تر په اصلي بڼه څرګند شول .

نو له همدې کبله بشریت د دغو اصولو او که ټولو ته پرهکله ، لکه چه د اسلام د راتلو په وخت کښې و ، ناپېژندونکی او ناآشنا نشي ګڼل کېدلای . او نشي کېدلای چه بشریت او س او س په ادراک او پېژندنه کښې - د پخوا پشان - پدې مورد کښې ناګاره یا منکر وبولو ...!

رښتیا چه بشریت د هغې مختارې او سپېڅلې ټولنې په شان چه په لمړنۍ طلایي او فریدې دورې کښې تېره شوه ، د دې دین خوند نه دی څکلی . او په رښتیا چه یې وغوښتل د دغو اصولو څخه یوه برخه په متفاوتو زمانو او او سني عصر کښې تطبیق کړي ، د هغو روحیه یې سره درک نشوای کړای . او د اصلي روحیې په اساس یې هم تطبیق نکړل . او رښتیا چه بشریت - تر همدې شیبې پورې - تل هغې لوړې انساني خوګې ته چه لمړنی مسلمانه ټولنه ورورسېدلې وه ، په خیر خیر کورې ، او د خپلو

په هکلې ستر ګی په لار، او پدی موږ د کښی ندی جاج په وړاندی ګامونه اخلی ....

دا ټول یو څرګند حقیقت دی، خو په عمومی توګه بشریت د تفکر او تصور لپاره، شاید د هغه وخت په نسبت چه د لمړی ځل لپاره دا اصول ور پیژاندل کیدل، او څیره یی نا آشنا ښکاری ندی برلسیږه . د دی دین د طبیعت پیژندنی ته ور نژدی وی، او د دی قدرت ولری چه د انسانی رسالت په اوږو واخلی . او د عمل په ډګر کښی ښکمرغه استفاده ورڅخه وکړی .

* * *

څو محدود مثالونه کولی شی د غه حقیقت څرګند او روښانه کړی . دلته په مونږ د څو مثالونو په راوړلو اکتفاء وکړو . او دا د دوو مهمو سببو لپاره:

۱ - د دی کتاب د کوچنی حجم ، لنډ او مختصر اسلوب په اساس چه د اشاری په توګه د دی کتاب « هَذَا الدِّينُ » عمومي موضوعات بیانوی . نشو کولی ټول مثالونه دلته راوړو .

۲ - هغه پراخې تګلارې چه د اسلامي کرنلارې ژوندیو څېړو د راتلونکو نسلونو لپاره د بشریت پېژندنې، او د نړۍ په ګوټ ګوټ

کبنې پرېښي دی ، له دېنه زېښتی دېرې ، او زېښتي اغېزه ناکې ، او ډېرې نېتې او براخې دي ؛ چه پولیکونکي پرېوه مبحث ، او په یوه عصر کبنې سره راغونډېږي او څرګندې کړي . څکه د آثار د ټولو بشریت په ژوندانه کبنې له همغې لمرېه او بېردې زماني راهیسې باقي ، او په ارت چوکاټ کبنې د بشریت په ژوندانه راچاپېر شوېدي او د اسې حیاتي اړخونه لې تراغېزې لاندې راوستلي ، چه شاید ټول بېړې بېنه بنکاره نوي . او شاید ټول بېړې کتونکو او څېړونکو نوې ثبت کړي . نو بیا هم نشو کولی ټول اسلامي آثار ذکر کړو .

دلته په اجمالي توګه ویلای شو چه : د کائناتو د غرو ونبانه د یوه چه دمځکې پر کرې باندې وځلېده ، او وړانګې یې پرې خپرې او د بشر په ژوندانه کبنې بشپړه شوه ... دا د دې دین ځلاند د یوه ده ... چه له لمرې نېتې څخه تراوسه پورې یې هېڅکله د بشری ژوندانه داسې کوم اړخ نه دی پرېښی چه خپلې وړانګې به یې نوی پرې خپرې کړي . او په مختلفو سویو به یې اغېزې نوی پرې غوړځولي . دا یو منل شوې حقیقت دی ، چه د لوی تاریخ هر حرکت په مستقیم او یا غیر مستقیم توګه د دې لوې جهاني پېښې او سترې کائناتي د یوې څخه په مختلفو حیاتي ډګرو کبنې مرسته غوښتې او کومې لې ورڅخه اخیستې ده .

Marfat.com

* * *

د مذهبي اصلاحاتو حرکت چه د «مارتن لوتر» او «کالفن» له خوا په اروپا کښې منځ ته راغی، او د ویښتوب «رنسانس» هغه حرکت چه تر اوسه پورې اروپا له هغه څخه د ترونډ چارې برابروي. او په اروپا کښې د فیوډالي نظام د له منځه وړلو، او د اشرافو له قدرت څخه د خان ژغورلو حرکت. او د مساوات او د انسان د حقوقو د اعلان حرکت، چه د انګلستان په «ماجنا کارتا» کښې خپور شو. او په فرانسه کښې د فرانسې د لوی انقلاب منځ ته راتلل، او د تجربوي مذهب حرکت چه د اروپا د علمي لوړتیا اساس وګرزید، او له هغه څخه په اوسني عصر کښې علمي لوی او لوی ساري فتوحات لاس ته راغلل ... او د دې پشان نور لوی حرکتونه، چه ځینې بې خبره کسان یې د تاریخي بدلون او تکامل اساس ګڼي ... د غوښتلو حرکتونو له اسلامي ژوندیو ځپو او پر لحق تګلارو څخه سر غوښتنې، او استفاده کړېده. او په اساسي توګه یې تر تأثیر لاندې راغلي دي ....

د «ضُحَی الإِسلام» په کتاب کښې چه دکتور

احمد امین لیکلی دی ، راغلی :

" د مسیحیانو پر منځ کښې داسې فکری جنبشونه او حرکات منځ ته راغلل چه د اسلام اغېزې له لرې پکښې برېښي ، چه له هغو څخه : په اتمې میلادي پېړۍ ( ۲ او ۳ هجري پېړۍ ) کښې په سپیتمانیا . Septmania "(۱) کښې یو حرکت منځ ته راغی چه په هغه کښې د کشیش په مخ کښې پر گناه اعتراف کول وغندل شول ، او داېې څرګنده کړه چه کشیش نور د دې کار حق نلري . بلکه بنایي انسان یوازې خدای ته سر ټیټ ، او د گناه د بښنه ورڅخه وغواړي . اما په اسلام کښې نه کشیش شته او نه رهبان " ترسا " ، نه احبار لري او نه د هغو په څېر څکني خدایان . نو بښکاره ده چه د بنده پر مخکښې پر گناه اعتراف ، او له هغه څخه بښنه غوښتل خو هیڅکله په اسلام کښې نشته ، بلکه تل یې غندنه کوي ، او له منځه یې وړي .

- او همدارنگه یو بل حرکت منځ ته راغی چه په هغه کښې د تصویرونو او مذهبي مجسمو . Iconoclasts . د محو

(۱) په سپیتي امدیترانیي بحیرې کښې د فرانسې یو والۍ مستعمره .

Marfat.com

کولو او لہ منځه وړلو غوښتنه وشوه ؛ دا رنګه چه : پراتمی او نهمی میلادي پېړۍ ( ۳ او ۴ هجري پېړۍ ) کښی یو مسیحي مذهب راپیدا شوچه د تصویرونو او مجسمو لمانځنې او غندلو او له منځه لی نوئلو . او همدا سبب وچه امپراطور « درېم لیو » په کال « ۷۲۶ » م کښی امر صادر کړچه د تصویرونو او مجسمو - لمانځنه دې په ټولګه حرامه وګڼله . او بل امر یې په کال « ۷۳۰ » م کښی خپور کړ ، او څرګنده یې کړه چه دغه کار عین بت پرستي ګڼله کېږي . او همدا رنګه « پنځم قسطنطین » او « څلورم لیو » هم په دې حال کښی چه لوی پاپ « دوهم او درېم ګریګوری » او « جرمانیوس » د قسطنطنیې بطریرک ، او امپراطور « ایرینی » دوی نوالو ، د تصویرونو د لمانځنې او عبادت په رواج لو ګټه ملاتړ کاوه ، دا کار غاندلو . او بیدې توګه د دوی ترمنځ سخت مخالفت پیښ شو - چه دا ځای د هغه د تفصیل سبک نلری - خو توم شی چه مونږ غواړو د لته یې ووایو هغه دادی چه : ځینی مؤرخین څرګندوی چه د تصویرونو او مجسمو « بتانو » د محوکولو غوښتنه په ښکاره توګه د اسلام تر اغېزې لاندې وه . او وایی چه

«کلودیوس - *Cloudius* » د تورین اسقف (چه په ۸۲۸ م او د ۲۱۳ هـ کال په شاوخوا کښې تعین شو» او تل به یې صوبرته او صلیبونه سوځل، او بخیل اسقفي کښې به یې خلک د هغو له لمانځې او عبادت څخه اړول، په اسلامي محیط «اندلس» کښې زیږېدلی او تربیه شوی و».

.. «هدارنګه یوه ډله مسیحیان پیدا شول چه د «لمس» د دریو خدایانو» عقیدې یې داسې شرح او بیان کړه چه «وحدا» ترې څخه نږدې ده، او بیا یې تونګه یې د مسیح د الوهیت څخه انکار وکړ»[۱].

* * *

کله چه د صلیبیانو وحشي او غارتګري لښکرې د یوولسمې میلادي پیړۍ کښې له شرقي اسلامي دولتونو څخه پر تیری وکړ، نو ددوی لښکرانو د اسلامي ټولنې ډېرو ښارونو ته ننوتل او ورسره ... او له هغو لومړیو ... سره ... پيدا شول، بیا هم د وحشي او غارتګر تولګي د صلیبیانو په ... بیا یې ټولنه کښې د اسلام ښکاره او ممتازه ... هغه واحد

[۱] له «ضحی الإسلام - د اسلام غرمه» څخه، د دوکتور احمد امین اثر
ص ۱۶۴ - ۱۶۵

Marfat.com

شریعت ممتازه بهنه چه حاکم او محکوم ، آمر او مأمور دواړه د تعلیم
سرور تر تیسوی . او همځکه یی د اشرافو له ارادی ، او هوس
خواهانو فیودالانو له خود خواهی څخه - د ارو پا پښان - تر
نده عوسنتی ، او نه پړ توکه منځ ته راغلی ده ، د شخصی آزادی
هغه بهنه چه د هغی تر سیوری لاندی هرڅوك کولی شی
هر نوع عمل خوبن ، او هر چیری چه وغواړی واوسیږی
د فردی ملکیت او د خپل لاس له تنها کو څخه د گټی او منفعت
اخیستلو ممتازه بهنه ، او هغه ممتازه خبره چه هلته بیا میراثی
شوی طبقات له منځه ځی ، او هرڅوك کولی شی په هر وخت
کښی چه وغواړی د خپل کوښښ ، جدیت او عمل په اساس
پر مخ تللی کښی ځان د منزلت او مقام مطلوبی اولوړی نقطی ته
ورسوی . د غه متولی ممتازی خبری او حقائق د عدالت او
یوړنگوالی داسی څلیدونکی لمردی چه د هغه اروپایی سترگی
بریښوی کوم چه د فیودالی نظام لاندی څپل کیده ، د مځکی غلام
او د بادار اراده یی رسمی قانون و . او پیژندل شوی طبقی یی
ابدی او همځکه د بدلون وړ نه و . ځکه هلته شرف ، میراثی
او طبقاتی و .

Marfat.com

نو دي اسبابو - او د اروپايي تولنو په ترقي وند انز کښې
د نورو اقتصادي عواملو - له مخې هلته داسې جيفي پوه ترشوي
چه د افيوډ الي « اقطاعي » نظام يې په تدريج سره له منځه يووړ؛
او ډېر کوله غلامي ځينو يې د خلکو آزادي ، اعلام کړه .که څه هم
د غلامۍ له متولو غړو ونديو ځينې يې آزاد نکړل ، او په هيڅ صورت
يې اروپائي تولنه د اسلامي تولنې سويې ته ونشواى رسولى!
خو بيا هم د اخوښ بې تأثيره نه ؤ .

* * *

د اندلس له پوهنتونونو ، او په شرق کښې د اسلامي تمدن
له اغېزو ځينو چه وروسته وروسته بيا په جهاني تمدن بدل
شو ، او له اروپائي ترجمو ځينو چه له اسلامي ثقافت نه يې کړي
وې ، په خوا لسم او له هغه نه وروسته په پيړو کښې د اروپا
د ترقي وندي کولو او بيدارى حرکت منځ ته راغي . او همدا رنګه
هغه نوى علمي حرکت منځ ته راغى کوم چه د تجربوى اصولو په
اساس ولاړ دى .

« بريفولت » د « بناء الانسانية » *Making of Humanity* « کتاب ليکونکي وايي :

Marfat.com

"یوله هغو ارزښتناکو او ملموسو موادو څخه چه عربي تمدن(۱) نوی جهان ته راوړي "پوهه" ده . خو مونږ یې ډېرې ورو ورو پېژنو ، او مونږ ته ورو وروسته را ورسیږي ... هغه قهرماني حرکت او نو میالیستوب چه د عربو ثقافت په اسپانیه کښې منځ ته راوړ ، په لمړني مرحله کښې ښکاره نشو ؛ بلکه ډېره موده وروسته کوم وخت چه هغه لمړني لاره ښوونکي تمدن د توره وو ویڅو ته شا پټ شو ، د نړیوالو سترګو ته وځلېد . او یوازې علم نه چه اروپا ته یې بیا نوی ژوند ور و باښه ، بلکه د اسلامي تمدن

(۱) لیدل کېږي چه غربي لیکوالان - د خباثت او مکر له مخې - د اسلامي تحقیقاتو او لیکنو په ترځ کښې ، هڅه کوي چه اسلامي تمدن د عربي تمدن په نامه یاد کړي . او اسلامي تمدن ته عربي جامه ور واغوندي ځکه د اسلام کلمه د دوی په ژبو ډېره درنده او ثقیله ده . او پدې توګه غواړي اسلام په عربو کښې منحصر کړي . په داسې حال کښې چه اسلام لدې واړه او تنګ چوکاټ څخه ډېر لوی او ارزښت پراخ دی . او همدا رنګه غواړي د اسلامي ټولنو ترمنځ هغه نژادي او ژبني کرغېړن تعصبونه بېرته راژوندي کړي ، کوم چه اسلام یې ځلي وژلي او له منځه وړي دي . او دا ټول هغه مکرجن خبیث او غولونکي اغراض دي چه د انسانیت دښمنان یې ، د مسلمانانو له غفلت او بې خبرۍ څخه په استفاده سره ، د اسلامي رغلین مزی د شلېدو په منظور ، هرې خواته خپروي . او دا آرزو لري چه بیا بیا د اسلامي ټولني د ویجاړولو لپاره د تعصب مکروبونه - په هر رسم او شکل چه وي - د مسلمانانو په سلیم بدن کښې تزریق کړي .

Marfat.com

دغږوندي کوونکو حرکتونو اغېزې ، د دی سبب شوې چه داړپا او دغږوندانو لمرنۍ ډبوړه بلله کړې . سربېره لدې چه په اروپايي پرمختلګ کښې دا سې اېچ لښتترچه د هغه بنسټ بريه قاطع دول سره د اسلامي تمدن او ثقافت له اغېزو لاندې نوي راغلی . بلکه د غه اغېزې او مؤثرات په ډېره ښکاره توګه ، او د مهم عامل په حيث د اوسنی حيرانونکی ماشينی قدرت د منځ ته راتلو په هکله توليو ته څرګندې دي . اولومړۍ عواملو دغې نوي نړۍ ته ممتان اولوی قدرت ورو بانسه . او د زيا پرمختګ زېږونده : يعنی طبيعی علوم او د علمی بحث روحيه يې ورو بښلد له » .

لومړی ليکوال خپلی ليکنی ته ادامه ورکوی او وايی :

« هغه شی چه زموږ پوهنې د عربو ديوهی او ثقافت پوروړې کړې ولې ده . نړيوالې هغه ښکرانه نظريات او حيرانونکی اکتشافات دي چه موږ ته لې راسو ولې ، بلکه لدې څخه لا هم زيات اوډېر دی : زموږ پوهنه تخيله د عربو ديوهی پوروړي ده . څکه چه خواله نړی ـ لدې چه تحکني موڅرګنده کړه ـ له يوهی څخه تښتن اولی نه پری وه . اما کوم

علوم چه په یونان کښې وو ، لکه نجوم او ریاضیات ، هغه تول پردی او اجنبی علوم ؤ ، چه له هیواده د باندې ملکونو او نورو کسانو څخه یې لاس ته راوړي ؤ ؛ او بیا هم هیڅکله د یرې مودې لپاره هلته یاتی نشول ، او په هیڅ صورت یې له یونانی ثقافت سره د کلی امتزاج او اختلاط فرصت ونه موند . یونانیانو فلسفی مذاهب منظم کړل او احکامو ته یې وسعت ورکړ ، او مختلف نظریات یې وړاندې کړل . خو دقیق او آرام بحث لاره ، او د مثبتو معلوماتو راغونډول او یو ځای کول ، او د علومو تفصیلی کړنلاره ، ژوری او پرلپسی کتنی ، او تجربوی بحثونه ... د اټول له یونانی طبیعت سره نا آشنا او ډیر وروسته لري ؤ . اما هغه څه چه موږ « علم » ورته وایو ، هغه پیدا ښت په اروپا کښې د هغو نویو بحثونو ، دقیقو څېړنو ، تجربوی کتنو او په ریاضیاتو کښې د هغه تطور او تکامل نتیجه او محصول دی چه یونانیان ور سره آشنا نه وو . بلکه د غه علمی تګلاره یوازې عربو اروپا ته راوړي دي » . (۱)

---

(۱) « تجدید التفکیر الدینی فی الاسلام - په اسلام کښې د دینی تفکیر نوی کول » د فیلسوف محمد اقبال لیکنه او د استاذ عباس محمود عقاد ترجمه . ص ۱٤٩ - ۱٥۰

Marfat.com

همدغه لیکوال لدې تحقیق څخه داسې وایي:

" راجر بیکون (په اروپا کښې د نوې فلسفې بنسټ ایښودونکي) داکسفورډ په مدرسه کښې عربي ژبه او عربي علوم د اندلس د عربي استاذانو له شاګردانو او جانشینانو څخه زده کړل. او هیڅکله راجر بیکون، او له ده نه وروسته د ده همنامي، فرنسیس بیکون، د دې حق نلري چه دوی ته د تجربوي تګلارې د ابتکار امتیاز منسوب کړل شي. بلکه، راجر بیکون، مسیحي اروپاته، د اسلامي علمي تګلارې یوازې مبلغ او رسوونکی ؤ. او هیڅکله لدې څخه ستومانه نشو چه په داکه څیلو وطنوالو ته ووایي چه: د رښتنې پوهې او حقیقي معرفت لاره یوازې د عربي ژبې او عربي علومو زده کول ده اوبس. هغه مناقشې چه د تجربوي تګلارې د لمړیو کښېنودونکو د پېژندګلوۍ په باب لیدل کېږي، د هغو سترو تحریفاتو او دروغو یوه څنډه ده، چه د اروپائې مدنیت په هکله خپاره شوې دي. ځکه د رښتنې تاریخ په شهادت داو پښتو ب یوازې د عربو د لارښوونې نتیجه ده اوبس. د بیکون په زمانه کښې عربي علمي تګلاره زیاته پراختیا وموندله، او د اروپا په ګوټ ګوټ کښې خلک په خاصه علاقه او مینه پرې مشغول

شول ! دلته باید یو بسنتنه وشی چه :

" رو جربیکون " له کومه ځایه دغه علوم زده کړل ؟ او له کومو کودرو نه یې د ښو ندانه او بره وخښلی ؟ په ځواب کښې :

" په اندلس کښې له اسلامي پوهنتونو نه ... څکه د ده د کتاب " Opus Majus " پنځمه برخه چه د بصریاتو لپاره ټاکل شوی ده ، په حقیقت کښې د " ابن الهیثم " د کتاب " المناظر " یوه نسخه ده " . (۱)

" درېپر " د نیویارک د پوهنتون استاذ پخپل کتاب : " النّزاع بین العلمِ والدّینِ " کښې لیکي :

" اسلامی پوهانو درک کړه چه عقلي نظري اسلوب هیڅکله د پرمختګ سبب نشي کېدلای ، او لازمه ده چه د حقیقت د پیدا کولو هیله پخپله د پېښو او حوادثو په کتنه کښې نغښتې وي . نو له همدې کبله د دوی په بحثونو او پلټنو کښې تجربوي اسلوب او عملي حسي تګلارې سنې او واضحې برېښي . "

(۱) د عباس محمود عقاد له پخوانۍ ژباړې نه . ص ۱۴۸

Marfat.com

، ددې عملي حرکت نتائج په رو سبا نو توګه د دوی د عصر
د صنائعو په پرمختګ کښي ښکاره کېدلی شي . موږ د دوی
په تألیفاتو کښي هغه علمي نظریات حیرانوی ، کوم چه هیڅ ګمان
نه کېده چه په هغه عصر کښي به د تجربوی علومو له نتائجو څخه وګڼل
شي . د نورو نظریاتو څخه یو هم د عضوی موجوداتو د تکامل
او ارتقاء نظریات دي ، چه اوس اوس هم نوئی مذهب بلل کېږي ،
د دوی په مدرسو کښي لوستل کېدل . او پدې هکله له هغی
مرحلې څخه هم ډېر وړاندې تللي ، کومی ته چه نن ورځ موږ ورسېدلی
یو . حکماء هغوی حتی په جامداتو او فلزاتو باندې دا نظریات
تطبیق کړیدی ....(۱) د کیمیا علم یې په طب کښي پکار واچاوه .
او په میخانیکي علومو کښي تر دې حده پوري ورسېدل چه د اجسامو
د سقوط او لوېدلو قوانین یې تعریف او وپېژاندل . او په تمامه
معنی د حرکت او خوځېدو په علم سنه پوه ؤ . او د نورو اولیدلې

(۱) دلته لازمه ده ، چه دا خبره هم چه غربې لیکونکي یې د اسلام او اسلامی
تفکیر په هکله د انصاف په ډګر کښي غوږ څری ، په کلکه سره څرګنده وکړو .
حکماء د تکامل او ارتقاء هغه مذهب چه "داروین" او د ده ملګري والاس
منځ ته راوستلی دی ، په تمامه معنی د مسلمانانو له علمی ایمانی ←

د نظریاتو په هکله تردې اندازې پورې ولاړل چه یونانی نظریه یې بیخې له منځه یووړله، چه ویل یې: «یوشی هغه وخت لیدل کیږي چه له سترګو څخه شعاع خارج او پر نوموړي مرئي جسم ولوېږي. او دوی لکه چه اوس تجربې ثابته کړېده پر عکس د دې نظریې قایل شول. او همدارنګه د شعاع د انعکاس او انکسار پر نظریاتو سنه پوهېدل، لکه چه «حسن بن الهیثم» په فضاکښې د شعاع منحنی شکله حرکت کشف، او د اې ثابته کړه چه سپوږمۍ او لمر ـ ځکښې له د بنه چه په افق کښې په حقیقتي توګه را وخېژي ـ په سترګو وینو. او همدارنګه وروسترلدې چه ولوېږي هم د لمر موډې لپاره لیدل کیږي.»[1]

← بحث څخه لیرې دی. ځکه اسلامی نظریه له کلیسا کانو څخه د تبښتېدلو له خباثت، او په غربي نړۍ کښې د کلیسا له خدای څخه د انکار له پلیتیو څخه بیخي پاک او سوچه ده. مسلمانانو د مخلوقاتو تر منځ تدریجي مرتبې د خپرولو کتنې لاندې ونیولې. د جامدې مادې له صفاتو څخه یې شروع وکړه، او ویې لیدل چه د اتبي د نباتي ژوندانه په لمړنۍ بسیطه مرتبه کښې پای ته رسیږي. او همدارنګه ویې لیدل چه د نباتي ژوند د غیر مرتبې د حیواني ژوند په لمړنۍ بسیطه مرتبه کښې سرته رسیږي. او وروسترلدې بیا ژوندیځ په وړاندې ځي. خو دوی د اټول شیان د الله ـ تعالی ـ قدرت، فاعلیت او تقدیر ته راجع کوي.

مګر دا ورین دوه هغه کړېده چه پیدی هکله تولې غیبي خارجي اغیزي نفي ←

[1] . الاسلام دین خالد ـ اسلام ابدي دین دی. د استاذ محمد فرید وجدي لیکنه، ص ۲۲۳

Marfat.com

- - - - - - - - - - - - - - - -

---

كړي. ځكه دى له كليسا او د كليسا له هغه خداير (ج) تښتېده، چه د هغه په نامه به علم او علمي بحثونه له فشار لاندې راتلل ... خو د اسلامي پلټنو او بحثونو ته په هيڅ صورت د انسان د تحقير ولو، او له روحي اړخ ځخه د اړسټلو او حيواني عنصر پورې د نښلولو فاسد ونظر يانو، او پلټنو لاره ورنه ميندله. بلكه اسلامي نظريه په ډاګه وايي چه: انسان ځانګړى او مستقل مخلوق دى. كه څه هم د عضوي تركيب، او عقلي او روحي استعداد له مخې د حيه موجوداتو په لړ كښې، په ځكر ځوكه ناسته دى. خو خداى (ج) ابتداءً پيدا كړى دى. لكه چه ټول مخلوقات يې هم په هغو رنګ كښې كښېښولي، چه ابتداءً يې ورته پاكلي دي.

څرګنده شوه چه د اصلي نظرې په هكله، په علمي بحث كښي مسلمانانو ترمنځو د ځينو او دارويايي او اسلامي نظريې ترمنځ اساسي فرق موجود دى.

( مؤلف )

* له دغه لنډ بحث سره سم، دا څرګنده شوه چه داروين پخپله يو خداى پېژندونكى انسان، او خداى پرست بيالوژي دان وو. ده به تل ويل: د تكامل په هكله دا زما يوه نظريه ده. خو هيڅ ممكنه نه چه دا الوى او له اسرارو او عجائبو ډك جهان دې خالق و نه لري. بلكه خداى شته، او ټول كائنات د ده تر ارادې لاندې دي.

اما ماده پرستانو د خپلې جاهلانه عقيدې د تائيد لپاره د داروين نظر دليل وګاڼه، او پدې توګه يې وغوښتل، چه آسماني كتابونو چه د ابوالبشر آدم په هكله عقيده ښندلي ده، ملنډې ورو وهي. او خپلې ماده پرستۍ ته ترڅه نلته علمي رنګ وركړي. خو دا خبر نه دي چه علم هيڅ په ورځ خداى پرستي تائيدوي، او داروين پخپله هم خداى پرست و.

Marfat.com

* * *

دلته د بشریت په تاریخ او په جهاني لویو حرکتونو کښې د اسلامي کړنلارې، او اسلامي ژوندانه د واقعي آثارو په هم‌دې مثالونو اکتفاء کوو. ځکه چه دا مثالونه هغه لوی او پراخ حقیقت ته، چه د بحث په دې ځای کې هر یوه یې یوازې اشاره کول دی، نو هم‌دلته یې بس کوو؛ او وایو: کله چه د دې لوی او ځلانده تمدن ماڼۍ ویسو، نو د ساده توب او بې خبرۍ له مخې، راته برېښي چه پدې کښې څوموږ هیڅ برخه نلرو؛ او د مخه تر اتلو پرهکلې ژوند له خوا کوم اثر نه لیدل کېږي، او دا ماڼۍ څو له موږ او ژوند له هغه تاریخ څخه - چه متأسفانه تري خبر نه یو - زموږ تر لوې اوپراخه ده. او دا خبرې د هغو د نیمګړو له خولو څخه او ر وچه، بې لدې څخه چه ژوند ژوند د اسلامي کړنلارې په هکله له یأس او نا امیدۍ څخه ډک کړي، بل مقصد نلري. دا مکار ګیدړان د نا امیدۍ په خپرولو کښې د لویې ګټې څښتنان دي. ځکه دا کار دوی ته دومره کوي چه د دوی هم ځل لپاره په دوی باندې ځوک قدرت نشي میندلی.

Marfat.com

اوپر نړیوالو د زمامدارۍ او قیادت واکې څولک نشي ورځخه اخیستلای ... نو زموږ پر څه حال وې چه له دوې څخه د طوطیانو او بیزو کانو پر خبر خبرې زده کوو، او څه چه والی هغه منو؟

په هر صورت! اوس دا زموږ موضوع نه ده چه ولې څېړو. کړد اشاره د بلې هغې اشارې لپاره سر بېره کړه وو، چه د اسلامي لمرځه پر اختیا هغه وسیعي او ارځې تکلاري موږ ته رابنيي کومې چه لا بجوالي بشریت ته ورپېژندلې وی. نو څکه ویلای شو چه بشریت نن ورځ د بل هر وخت نه نسبت د نوموړو تکلارو د معرفت او تصور په هکله سره قدرت لري. چه دا هم هغه نوی حرکت دی، چه د فطرت د بحوالېه زړې کي منځ ته ځای

سپدې لاره ابنی د بشریت

ملاتړ کوی، او د

نوموړو تکلارو د

تطبیق زمینه

برابروي

*

* *

Marfat.com

# نړورکېدونکې او نخې تګلارې

کله چه د اسلامي عالي پراختیاچې د محکې پرمخ څه ناڅه ستوماند، او ځای پرځای شوې. او جاهلیت - د مشرتوب اوزمامدارۍ هغه واګې چه اسلام ورڅخه اخیستي ؤ، بیرته لاس ته ورورې. او هغه وخت چه شیطان - پداسې حال کښې چه د جګړې ګردونړۍ له خپلې اوږې څخه څنډل - بیرته راوګرزید، او له بنو ئیدوور وستنه را پاڅېد، او د خپل هغه ګوند. حزب. لیاره یې - چه بیرته د قیادت واګې په لاس کښې اخلې - شعارونه ورکړل!

کله چه د اتول واقع شول، بیا هم بشري زوند بیرته همغې وضعې ته ستون نه شو، کوم چه لمړنی جاهلیت ورته پرېښې و.. اسلام سره لدې چه د صدارت او مشرتوب له ځای څخه کښته کېد خو بیا هم ژوندی ؤ. او ترشا یې داسې پراخې تګلارې او لوی او پاخه اصول پرېښودل، چه د بشریت پرژوند انوکښې د تل لپاره پاتې شول. او له بشریت سره داسې معرفې شول چه هغه

نا آشنایي او نه پېژندنه يې بچې له منځه ولاړې، کومه چه د لمړي
حل لپاره د اسلام د راتلك په وخت کښې موجوده وه ....

پدې فصل کښې مونږ غواړو چه د اجمال په توګه د غو پراخو
تګلارو، لويو او بچو اصولو ته دخو لږو مثالو په ضمن کښې،
اشاره وکړو.

* * *

## ګډ انسانيت :

د قومي، قبيلوي او کورنيو تعصبونو له کبله، چه پر ټولې
عربي شبهي جزيرې مسلط ؤ ... او د سمت، وطن، هېواد
رنګ او نژاد تعصبونو له کبله چه د مخکي مخ یې نيولی ؤ ...

د دغو ټولو - بې ارزښته او وړو - تعصبونو د محوکولو
لپاره، چه بشريت په هغه زمانه کښې يې له هغوی څخه بل څه
نه پېژاندل، اسلام راغی؛ او انسانان يې وپوهول چه:
انسانيت ئې ګډ، مشترك، او واحد دی، ټول يوه اصل ته راجع
کېږي، او د يوه خدای په لور مخ اړوي. د نژادونو او رنګونو
اختلاف، د استو ګنځي «سمت» او هيوادونو اختلاف، او د
قبيلو او پلرونو اختلاف ... دا ټول اختلافونه هيڅکله نشي کولی

Marfat.com

چه بشریت سره بیل او دیو بل دښمنان کړي. یو پر بل باندی او ر بو ز جلك کړي، او خانخانی ژوند اختیار کړي، او نسبونه د امتیاز او افتخار بنسټ وبولي. بلکه دا اختلافونه دي لپاره دی چه یو بل سره وپیژنی. الفت سره ولری، او د دوی تر منځ په محکمه کښي د خلافت او فعالیت په هکله وظیفی و وېشلی شی، او لدې وروسته بیا د هغه خدای لوری ته ستانه شی، چه پیدا کړی، او په محکمه کښي یې دوی ته خلافت ورکړی دی. او په قرآن کریم یې ور ته ویلی دي :

« یا أیها الناس إنا خلقناکم من ذکر وأنثی، وجعلناکم شعوبا وقبائل لتعارفوا، إن أکرمکم عند الله أتقاکم. إن الله علیم خبیر » ...... (١)
( الحجرات : ١٣ )

« یا أیها الناس اتقوا ربکم الذی خلقکم من نفس واحدة، وخلق منها زوجها، وبث منهما رجالا کثیرا ونساء. واتقوا الله الذی تساءلون به والأرحام،

---

(١) په (١٠٩) مخ کښې ژباړل شویدی.

Marfat.com

إِنَّ اللهَ كَانَ عَلَيكُمْ رَقِيبًا » (١)... (النِّسَآء : ١)

وَمِنْ آيَاتِهِ خَلْقُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ، وَاخْتِلَافُ أَلْسِنَتِكُمْ وَأَلْوَانِكُمْ، إِنَّ فِي ذٰلِكَ لَآيَاتٍ لِّلْعَالِمِينَ » ... (٢)

(الرُّوم : ٢٢)

دغه خبرې کندونې یوازې نظري اصول او مبادي نه، بلکه عملي اوضاع او تګلارې وې ... اسلام د مخکې پر یوه لویه برخه کښي خپور شو؛ چه تقریبا ټول نژادونه او قومونه یې سره راغونډ، او د اسلامي نظام تر سیورې لاندې یې یو موټی او سره یو ځای ذوب کړل، او پر ټولو یې یوه سکه ووهله. د ژبې

---

(١) اې خلکو! (تل) له خپل رب څخه ووېرېږی! چه تاسې یې له یوه نفس (آدم) څخه پیدا کړي یې. او له ده څخه یې د ده جوړه (حوا) پیدا کړه. او له دوی دواړو څخه یې ډېر سړي او ښځې خپرې کړې. له هغه خدای ووېرېږی چه د هغه په نامه یو له بله سؤال کوی. (او) د هغه ارتباط ووېرېږی له پرېکولو (د خپلوۍ څخه). بېشکه چه خدای پر تاسې پرڅارونکی دی.

(٢) د خدای (د قدرت له نښانو) څخه د اسمانونو او ځمکې پیدا یښت، او ستاسې د ژبو او رنګونو (څېرو) اختلاف دی. چه په دې کې د پوهانو لپاره د خدای (د قدرت) بشکاره نښانې او (دلائل) دي.

Marfat.com

جنس، طبقې او کورنۍ د وراثت پنسټ یې رنګ، او د
ورور ګلوۍ د ژوند اړخ بنسټ لرې کېښودله. او هر فرد ته یې
د ده له شخصي استعداد سره سم، او د ده د انسانې صفت په
اساس مقام او منزلت ورو باښه.

د غه پراخه تګلاره د ځکې په کوټ کوټ کې - سره له دې
چه په لمړۍ مرحله کې په تمام معنی نا آشنا او بیګانه ښکارېده
بیا هم د استقرار ځاې ونه موند، او هرې خوا ته خپره شوه ... حتی
ور وسته لدې چه د اسلامې پراختیا خپه ستومانه او خړه
ناخړه ودربده، بیا هم بشریت ونشو کولی چه په کرکه ورته
وګوري، او یا خو یې نا آشنا او نا پېژندونکې وبولي.

رښتیا: چه بشریت ونشو کولی د مسلمانې تولنې پشان
د غه تګلاره عملي او تطبیق کړي. او همدارنګه، لکه چه په
اسلامي تولنه کې یې استقرار وموند، بل هیڅ چېرې دا سې
ټینګه او ثابته نشوه.

او رښتیا: چه په امریکا او جنوبي افریقا کې تور پوستی
لا ښکاره او درد ونکو سختو مشکلاتو سره مخامخ دي. لکه
چه په هندې توکه مشکلات په لوله اروپا کې هم موجود

دي ، خوځنا ځنرم او له پردې لاندې .

او رښتیا : چه اوس اوس هم لاځنی واړه او لوی
اړزښته تعصبونه وجود لري ، لکه د استوګنځیو او هیوادونو
تعصب ، د نژادونو او قومونو تعصب ، او د رنګ او ژبې
تعصب ؛ چه لا په شلمه پېړۍ کښې هم د غه جاهلانه دښمن،
تبعیضي افکار هری خوا تر سترګو دي .

اما د یوه او ګه انسانیت منګوره تر اوسه پورې هغه
پراخه او وسیعه تکلاره ده چه نن ورځ د ټولو بشریت عمده
شعار تشکیلوي ، او تر اوسه پورې د غه تکلاره چه اسلام
ایښې ده د نظر له مخې د بشري تفکیر اصل او بنسټ دی .
امادا واړه او لوی اړزښته تعصبونه پرلیسي کله سکاره او
کله پټیږي ، ځکه په هیڅ صورت اصالت او کلکوالی نلري
او بنسټ یې خام دی !

هغې لمړنۍ اسلامي څپې چه د فطرت دښتنې په ملا تړلې
دغه اره تر او وسیعه تکلاره کښنوده ، خپله لمن را ټوله کړه ،
خو د را تلونکي څپې "موج" لپاره یې د فطرت ، او خپله
ذاتي خزانه پرېښوده ؛ تر څو چه را تلونکې حرکت او اسلامي
انقلاب له هغې څخه ګټه واخلي . او همدا رنګه اوس بشریت

Marfat.com

له هر څه د مخه د دی ځینې په هکله ، د پېړادراك او زښت استعداد خاوند دی . او هغه د هشت او وړه یې هم له منځه تللې ده ، کومه چه د دی نوی تګلارې د لمړنی محاځ کېدو په وخت کښی بشریت ورسره لاس په ګریوان وو !!

* * *

## انسانی کرامت :

په اسی حال کښی چه انسانی کرامت په معینو طبقاتو خاصو کورنیو ، او په ټولنه شویو مقاماتو پوری تړلې ؤ ـ د اسلام لمر په خاورینی کُرې راوخوت . په دې وخت کښی وسیع ملتونه او خپری ټولنې د اوبو پر سر ځك وې ... هو ! د اوبو ځك ! چه نه یې وزن درلود او نه ارزښت ، نه یې کرامت درلود او نه منزلت . بلکه د ابو د سر ځك وې !!

اسلام خپله جهانی وسیعه کلمه اعلان کړه چه : د انسان کرامت پخپله د ده د « انسانیت » پورې اړه لری ، نه د کوم عارضی شی پورې ؛ لکه : نژاد ، رنګ ، طبقه ، شتمنی او منصب .

Marfat.com

او هداسی نور لرمنځه تلونکی عوارض ... او همدارنګه د انسان اصلی حقوق لرهمدغه « انسانیت » څخه ، چه پر ترڅیل یوه اصل ته راجع کیږی ، استنباط شویدی .

خدای (ج) پخپل پاک کتاب کښی داسی ورته ویلی :

« وَلَقَدْ كَرَّمْنَا بَنِي آدَمَ ، وَحَمَلْنَاهُمْ فِي الْبَرِّ وَالْبَحْرِ ، وَرَزَقْنَاهُمْ مِنَ الطَّيِّبَاتِ ، وَفَضَّلْنَاهُمْ عَلَى كَثِيرٍ مِمَّنْ خَلَقْنَا تَفْضِيلًا » (۱) (الإسراء : ۷۰)

« وَإِذْ قَالَ رَبُّكَ لِلْمَلَائِكَةِ : إِنِّي جَاعِلٌ فِي الْأَرْضِ خَلِيفَةً » (۲)

(البقرة : ۳۰)

« وَإِذْ قُلْنَا لِلْمَلَائِكَةِ : اسْجُدُوا لِآدَمَ ! فَسَجَدُوا إِلَّا إِبْلِيسَ ، أَبَى وَاسْتَكْبَرَ وَكَانَ مِنَ الْكَافِرِينَ » (۳)

(البقرة : ۳٤)

« وَسَخَّرَ لَكُمْ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ جَمِيعًا مِنْهُ » (۴) (الجاثية : ۱۳)

---

* ددې آیتونو ترجمه دې په راتلونکي مخ کښی وکتل شي .

Marfat.com

خلك له همغې ورځې راهيسې وپوهېدل چه دخدای په نزد خيله انسان دعزت او كرامت خښتن دی . او همدا كرامت يې اصلي او ذاتي خاصه ده . نه نژاد پسې ځي ، او نه رنك پسې . نه په هېواد پورې تړلې ، او نه په قوم ، قبيلې او كورنۍ پورې . او دهيڅ ډول له مخه تلونكو ، او بې ارزښتو عوارضو تر اغېزې لاندې نشي راتلای . بلكه يخپله انسان سړی ، دهغه انسانيت له كبله ځي ، كوم چه لوی خدای (ج) ورښلی دی . او پدی توګه يې دكرامت خښتن بللی دی .

دا مبادي او اصول يوازې نظري او ذهني اصول نه ؤ . بلكه هغه عملي واقعيتونه ؤ چه داسلامي ټولنې په ژوندانه كښې څرګند شول . او دخلكو كوټ كوټ ته ورسېدل . خلكو ترې ورو پېژاندل ، او ددوی په حياتي اوضاعو كښې يې ټينګ او ثابت كړل . او عامو خلكو ترې دا وروښودل چه دغه دا وبوځك « انسان » ! ... يو كريم او عزتمن موجود

(۱) په رښتيا چه د آدم (ع) ، زامن مې عزتمند كړل . او په وچې او بحرونو كښې مې پر مركوبانو ، سپاره كړل . او له پاكو شيانو څخه مو روزی وركړه . او پر ډېرو مخلوقاتو مو دوی ته خاص فضيلت ورپه برخه كړ .

او د انسانی حقوقو خاوند دی . او کولی شی چه خپل حکام او آمران وپوښتی او محاسبه ورسره وکړی . او بر دی لازم دی چه : پر هیڅ صورت ذلت ، خواری او بې پتی په غاړه وانخلی . او حکام او آمران یې پر دې یوه کړل چه پر نوړ وعامو خلکو کوم لوړ والی نلري ، او له دوی څخه زیات حقوق څاښته نشی ثابتولای .
او هیڅکله نشی کولی چه د بل چا ـ چه نه آمر او نه حاکم دی ـ سپکاوی وکړی ، او کرامت یې تر پښو لاندې کړي .

داد « انسان » یوه نوې زېږېدنه . او نوی تلین ؤ . . .
هغه تلین چه له حسی تلین څخه خوځښو واړه لوی دی . . . نو انسان

---

← (۲) ـ ( ای محمده یاد کړه ) هغه وخت چه ستا رب ملائکو ته وویل : حتماً زه پر ځمکه کښې دیوه خلیفه ( نماینده ) پیدا کوونکی یم .

(۳) ـ ( ای محمده یادکړه ) هغه وخت چه ملائکو ته مو وویل : آدم ته سجده ( تعظیم ) وکړئ ! نو بې له ابلیس ( شیطان ) څخه نورو ټولو سجده وکړه ، ( شیطان ) ډډه وکړه او لوبي يې اختیار کړه ، او دی ( لا پخوا د خدای تعالی په علم کښې ) د کافرانو له ډلې څخه ؤ .

(٤) نامې ته مو د ځمکې او آسمانو ټول موجودات مسخر ( او تر لاس ) کړي دي .

بېرهغه وخت کښې چه د ده انساني حقوق او انساني کرامت ور څخه واخيستل شي، څه شي وي؟ او کله چه دغه حقوق يځيله د ده په ځان او هغه حقيقت پوري چه په هيڅ ډول ور څخه بېلېدای نشي، اړه ولري، نو دا به څرنګه انسان وي؟

ابوبکر - رضي الله عنه - خپله وعده او خلافت يځيلې دغې وينا شروع کړه:

« لَقد وُلِّيتُ عليكم - ولستُ بخيرِكُم. فإنْ أحسنتُ فأعينوني، وإنْ أسأتُ فقوِّموني. أطيعوني ما أطعتُ اللهَ ورسولَه. فإنْ عصيتُه فلا طاعةَ لي عليكم

عمر - رضي الله عنه - پداسې حال کښې چه خلکو ته يې دخپلو واليانو په وړاندې د دوی حقوق ور ښوول - داسې وويل:

« يا أيُّها الناسُ! إنّي واللهِ ما أُرسِلُ عليكم عمّالاً

(١) پر تاسې مشر مقرر شوم، او له تاسې څخه ښه نه يم. که ښه مې وکړل له ما سره مرسته وکړئ؛ او که بد را څخه پېښ شول نو سم مې کړئ. ترڅو چه دخدای او د ده د استازي پېښمبر اطاعت کوم له ما سره ولاړ شئ، او که دخدای له لاري کوږ شوم (او عصيان مې وکړ)، نو بيا پر تاسې زما اطاعت نشته!

Marfat.com

لِيَضْرِبُوا أَبْشَارَكُمْ ، وَلَا لِيَأْخُذُوا مِنْ أَمْوَالِكُمْ. وَلَكِنِّي أُرْسِلُهُمْ إِلَيْكُمْ لِيُعَلِّمُوكُمْ دِينَكُمْ وَسُنَّتَكُمْ. فَمَنْ فُعِلَ بِهِ شَيْءٌ مِنْ ذَٰلِكَ فَلْيَرْفَعْهُ إِلَيَّ ؛ فَوَالَّذِي نَفْسُ عُمَرَ بِيَدِهِ لَأُقِصَّنَّهُ مِنْهُ ... » (١)

نو پدې وخت کښې عمرو بن العاص پاڅېد او وې ويل :

« يَا أَمِيرَ الْمُؤْمِنِينَ ! أَرَأَيْتَكَ إِنْ كَانَ رَجُلٌ مِنْ أُمَرَاءِ الْمُسْلِمِينَ عَلَى رَعِيَّتِهِ ، فَأَدَّبَ بَعْضَ رَعِيَّتِهِ ، إِنَّكَ لَتُقِصُّ مِنْهُ؟ » (٢)

عمر (رض) پې په ځواب کښې داسې وويل :

« إِي وَالَّذِي نَفْسُ عُمَرَ بِيَدِهِ ، إِذًا لَأُقِصَّنَّهُ مِنْهُ . وَكَيْفَ لَا أُقِصُّ مِنْهُ - وَقَدْ رَأَيْتُ رَسُولَ اللّٰهِ (ص) يُقِصُّ مِنْ نَفْسِهِ - أَلَا لَا تَضْرِبُوا النَّاسَ فَتُذِلُّوهُمْ ، وَلَا تُجَمِّرُوهُمْ فَتَفْتِنُوهُمْ ، وَلَا تَمْنَعُوهُمْ حُقُوقَهُمْ فَتُكَفِّرُوهُمْ » . (٣)

---

(١) اې خلکو ! په خداى زه قسم » چه : زه خپل و اليان ددې لپاره نه درلېږم چه تاسې ووهي . او ياستاسې مالونه واخلي . بلکه ددې لپاره يې درلېږم چه تاسې ته موستاسې دين او بنوي تګلارې بسنت . درو ښيي . نو که پرچا کوم تېرى شوى وي ، ما ته دې ووايي ١ زه ادې په هغه خداى قسم وى چه دعمر سا ده په لاس کښې ده ، چه له هغه څخه به يې بخ أخلم ...

←

عثمان (رضي الله عنه)، ټولو ښاروته ليکونه واستول چه
پرهغوکښې يې ويلي ؤ :

" إنّي آخذ عمّالي بموافاتي كلّ موسم، وقد سلّطت الأمّة على الأمر بالمعروف والنّهي عن المنكر، فلا يرفع عليّ شيء ولا على أحد من عمّالي إلّا أعطيته. وليس لي ولا لعمّالي حقّ قبل الرّعية لا متروك لهم. وقد رفع إليّ أهل المدينة أنّ أقواما يشتمون ويضربون. فمن ادّعى شيئاً من ذلك فليواف الموسم، يأخذ حقّه حيث كان، منّي أو من عمّالي. أو تصدّقوا.

---

← (٢) اي دمؤمنانومشره ! که د مسلمانانو له اميرانوڅخه کوم يو پر خپل رعيت وتپا کلشي . اوبيا د رعيت ځينو غړی تأديب کړی ، نو آيا تر به يې ور څخه اخلې ؟

(٣) عمر - رضي الله عنه - وويل : هو ! پر هغه خدای باندې قسم چه د عمر ساه ده پرلاس کښې ده چه زه به يې ور څخه قصاص . ور څخه اخلم . او ولې به يې نه ور څخه اخلم - پداسې حال کښې چه رسول الله (ص) می ليده چه له ځان څخه يې قصاص اخيست ؟ خبراوسۍ ! خلك ددې لپاره مه وهئ چه ذليل او د ځان تابع يې وګرځوئ . او له خپل کوراو کهول څخه يې د دې لپاره مه لېرې کوئ ، چه په فتنه او فساد به يې اخته کړئ او د دوی حقوق مه ور څخه منع کوئ چه د کفر سبب به يې وګرځئ .

إِنَّ اللَّهَ يَجْزِي الْمُتَصَدِّقِينَ » (۱)

خو لکه چه وویل شو- مهمه داده چه وپوهېږو چه د ا اصول یوازې نظري مبادي او دخولې خبرې نوې . بلکه په واقعي توګه تطبیق ، او دخلکو او ملتونو په منځ کښې ثبت او خپاره شول ، ترڅو چه یې وکولی شو دعلمي او عملي تګلارو او اوضاعو قواعد تشکیل، او په پښو ودروي .

چه یدې مورد کښې د قبطي د زوی داستان د اسلامي عدالت او مساوات په هکله یو مشهور داستان دی ، یدې دول چه : یوه ورځ د قبطي د عمرو بن العاص - د مصر د فاتح او والي - له زوی سره داس د سپرلۍ مسابقه وکړه، چه په نتیجه کښې ورڅخه د مخه شو . کله چه د عمرو بن العاص

---

(۱) زه له خپلو والیانو سره د حج په هر موسم کښې پوره محاسبه کوم . او ملت ته می ددې توان ورکړی چه په پښو ام وکړي . او له بدو تجه خلک منع کړي . که هر چا په زما او یا زما په والي د کوم حق غوښتنه وکړه ، نو هر وړ لې ورکوم . او زما او یا زما د والیانو له خوا په رعیت کوم حق نشته چه دوی ... ، تر به توي ورکړه شوی . د مدینې خلکو ما ته شکایت وړاندې کړ چه:

لہ زوی څخہ یې دمسابقې جایزہ وغوښتہ . نو هغہ ترې زور ورکړ ، او دی یې وواهہ ، او ورتہ وې ویل : ترما پېژنې ؟ زہ ستا د باداړ عمرو بن العاص - دمصر د والي - زوی یم. نو قبطي لہ مصر څخہ مدینې تہ راغی او عمر بن الخطاب تہ یې شکایت وړاندې کړ ، چہ عمر - رضی اللہ عنہ - بیا د ټولو خلکو پہ مخکښې ، دحج پہ موسم کښې ، د عمرو بن العاص لہ زوی څخہ د قبطي د زوی پخ ، قصاص ، واخیست . او ورتہ وې ویل : ووهہ ! داد باداړ زوی دې ووهہ ! مونږ باداران او چاکران نہ پېژنو !!

ځنې لیکونکي عادت لري چہ پدې داستان کښې دعمر(رض) د عدالت تہ پراو پوره ځان ورسوی ، او بیا هلتہ درېږي..

---

← ځنې خلک وهل او کنځل کوي . نو کہ څوک دا ډلہ غوښتنہ او دعوی لري دحج پہ موسم کښې دې دعوې تہ حاضر شي . کہ هر څېری وی خپل حق دې لہ ما او یا زہ مالہ والیانو څخہ واخلي . او کہ بښنہ وکړي ، نو شک نشتہ چہ خدای (تعالی) بښنہ نہ کوا و - عفو کونکو تہ بښنہ او پوره اجر ورکوي

* * *

Marfat.com

خو د اداستان له دېنه لا هم په پېره وسیعه او پراخه معنی او پرهغو آزادی ښنو نکو خپو، چه اسلام دخلکو په زړونو او ژوندانه کښې پرېښې دی ښکاره دلالت کوی....

مصر پرهغه وخت کښې یوفتح شوی ملک ؤ، چه دفتحې نې ډیر وخت نه ؤ تیر شوی، او د اسلام سره نوی آشنا شوی ؤ. او دغه قبطی ترهغې وخته پورې لا همغه قبطی ؤ، چه پرخپل دین ولاړ، او دفتح شوی هیواد له عامو خلکو څخه یو عادي فرد ؤ. او عمرو بن العاص" دنوموړي هیواد فاتح "له پلوه والی ؤ چه د اسلام له خوا پرهغه هیواد مقرر شوی ؤ... او د اسلام له فتحې څخه دمخه هغو رومانی حاکمانو پرمصر حکومت کاوه، چه ډیرې پرلاس، او دمستعمرو او مستبدو نکي برخې پرې وهل! او شاید دغه قبطی به هم ترهغې وخته پورې د رومانیانو ډیری او لښتی پرشا منلې وې!

خو هغې آزادی ښونکې څپې - چه اسلام دمخکې کوټ کوټ ترو ږسولې - لدې قبطی څخه د رومانیانو لښتې او ډیرې هېرې، او هغه پومبنی ذلت یې ورڅخه لرې کړ، چه رومانیانو پرې راوستلی ؤ. آزاد عزتمن او دکرامت

ښتن یې وکړ ا وه ؛ چه هېڅکله پر خپل زوی باندې د حاکم د زوی وهل نشی زغملای . او ددی لپاره چه د زوی د پښتو لاندی شوی کرامت بېرته لاس ته ور وړی ، له مصر څخه د مدینې په لور روانېږی ، چه پدی وخت کښې یې له یوه او بل څخه ، چه یه د ډیری سختۍ سره یې خو میاشتی منزل پری وواهه . نه طیاره و ، او نه موټر ؛ نه بیړه وه ، او نه ریل . د اټول کړاو و نړې ددی لپاره وګالل چه د مسلمانانو هغه خلیفه ته خپل شکایت وړاندې کړي ، چه ده ترې په همغه ورځ آزادی ورکړه ، کوم چه د اسلام تر بیرغ لاندې یې دده هېواد فتح کړ ... هغه خلیفه ته چه ده ترې خپل هغه کرامت بیا ور وپېژاند ، کوم چه رومانیانو د زور په زور له دوی څخه هېر کړی ؤ !

او بیا هم موږ ترښایی چه پوه شو ، او د اسلام د آزادی پښتو نکوښیو ژوند والی درك کړو . ځکه یوازې دا نه دی منظور چه عمر عادل ؤ . او دا چه عدالت ترې په هیڅ وخت کښې څوك نشی ور رسید لای . بلکه ، منظور دادی چه د عمر ـ رضی الله عنه ـ عدالت چه د اسلام

Marfat.com

له تګلارې او نظام څخه يې رده کړې ؤ ؛ په څکه کښې د آزادۍ موج ، او انسان ته د "انسانيت" له مخې ، د کرامت ورښونکې زوروري ځپې په خبر شاوخوا ته وځغاست او خپور شو ؛ چه تل تر تله به د بشريت د لارې ډيوه وي ....

دا صحيح خبره ده چه تراوسه پورې دغې هسکې سويې ته بشريت هيڅکله ونه رسيد ... خو د غه يلې او ارتې تګلارې چه اسلام د انسان د کرامت ، آزادۍ او د حاکمانو په وړاندې د ده د حقوقو په هکله پرېښې ، شک نشته چه د بشر په ژوندانه کښې يې پراخې اغېزې غورځولې دي . چه يو له معنو څخه هم ، هغه آثار دي چه اوس اوس يې لشريت پر دې کمارلې چه " د انسان حقوق " په ډاګه سره اعلان کړي ....

رښتيا چه دغه اعلان د بشر په ژوندانه کښې خپله واقعي ځاره ونه نيوله . او رښتيا چه " انسان " لا تراوسه پورې ځکې په مختلفو کوټونو کښې له سپکاوي ، ذلت ، ربړونو محروميتونو سره مخامخ دي . او په رښتيا چه ځنې رژيمونه د کړنلارې لاشته چه د انسان مقام او منزلت د کار له

Marfat.com

آزادتو او حیا داتو څخه هم راپیتهوي ، او دانسان آزادي ، کرامت ، او عالي او هسك خصائص دتولیداتو او پانګي دریاتو الي ، او په بازارونو کښي دمخکښیتوب پرلاره کښي وژلي او له پښو لاندي کوي !

دا قول صحیح دي ، خو دغه اسلامي تګلاره لا تر اوسه نوري د بشر په تصوراتو او عقائدو کښي ټینګه او ثابته ولاړه ده . او هیڅکله دهغي ورځي پیشان چه اسلام نوي ، دنیا ته راوړي وه ، له خلکو سره نا آشنا نه بریښي . بلکه نن ورځ دپخوا په نسبت زیات قدرت لري ، چه در اتلونکي اسلامي حرکت او انقلاب په لړکښي دا کړنلاره سنه درك او د تطبیق لپاره یي ملا وتړي . (بِإِذنِ اللهِ)

* * *

## یو ملت :

اسلام راغی ، او کوري چه خلك د نسب پر اساس ، یا د نژاد او استوګنې " سمت " په اساس ، او یا خود نژدې مشترکو ګټو په اساس ، سره راټول شویدي ... چه دا ټول

Marfat.com

هغه نقصبونه ؤ، چه له انساني جوهر سره يې هيڅ علاقه او لاره نه درلوده. بلکه دا هسې عارضي تخلې وې، چه د انسان پر باکرامته جوهر پرتې وې.

نو پدې وخت کښې اسلام د دې مهمې موضوع په هکله خپله پرېکونکې (قاطع) وينا، چه د وروستني ځل د پاره د خلکو ترمنځ انساني رابطې او علائق ټينګوي. داسې څرګنده کړه:

هيڅکله رنګ، نژاد، رلټ «نسب»، استوګنځي سمت، او مشترکې ګټې او منافع نشي کولی چه بشري ټولنې سره يو ځای او يا يو له بله بېلې کړي ... بلکه عقيده ... همدا عقيده ده چه د دوی او خدای ترمنځ، او بالآخره په خپلو کښې يو له بله سره د دوی رابطې ټينګوي. او له خدای سره د دوی همدا رابطه ده، چه دوی ته يې خپل انسانيت وربښلی دی. نو له همدې کبله همدغه رابطه ده چه د دنيا او آخرت تګلارې او حرکات په مساوي توګه تنظيموي او ټاکي. همدغه ژوندي کونکی روح دی چه د خدای (ج) له لورې بشر ته راغلی، او له انسان څخه يې «انسان» جوړ کړ. او همدا ژونديکونکی ساه «روح» ده چه انسان ته يې کرامت ورکړ. او د ګکې

او آسمانو موجودات یې ورته مسخر او په لاس ورکړل . نو
د همدې حقیقت په اساس خلک یوله بل سره یوځای او بیا
سره بېلېږي ، نه د کوم بل عارضي عامل په اساس ، چه
دلته په حقیقت پورې هیڅ ډول اړه نلري .

په یقیني توګه د ټولنو دیوځای کېدو بنسټ یوازې
او یوازې عقیده ده . ځکه د انساني روح تر ټولو عزتمن
او شرافتمن خاصیت همدا عقیده ده . اما کله چه د امزې
وشلېږي نو بیا نه اساس شته ، او نه یوځای توب ، نه
موجودیت شته ، او نه کوم ارتباط !

لازمه ده چه انسانیت په خپل عزتمند او شریف اساس
سره راټول شي ، نه لکه څاروي او بوټګان چه په وښو او څم
ځایونو ، او یا په زور او وهلو سره یوځای کېږي !

د ټولې ځمکې پرسر یوازې دوه ګوندونه وجود لري
د خدای (ج) ګوند ، او د شیطان ګوند . د خدای
ګوند « حزب » د خدای تر بیرغ لاندې دریږي ، او بیر
او بیرغ وړي . او د شیطان ګوند « حزب » ټول هغه
ملتونه ، ډلې ، قومونه ، نژادونه او افراد چه د خدای

Marfat.com

له بیرغ لاندی نه درېږي ، دځان په لوړ را کښوي .

ملت هغه راغونډ شوی خلك دي ، چه دعقیدې بنسټ يي یوله بله سره تړي ؛ چه هدغه يي نژاد دی . که نه ملت هیڅ موجودیت نلري . ځکه کوم بنسټ نښترچه سره راغونډ يي کړي ، او تاتوبي «سمت » نژاد ، ژبه ، رنګ « نسب » او مادي نږدي او مشترکي ګټي او منافع ، دا يو هم ( نه په انفرادي ، او نه په مجموعي توګه ) کولی شي چه يو ملت جوړ کړي مګر عقیده کولی شي چه دخلکو تر منځ ديوالی او اتحاد منځ ته راوړي وځلوی .

دارتباط بنسټ هغه مفکوره ده چه ژوند اوعقل ودانوي او هغه تصور دی چه موجودات او ژوندون په کامله توګه تحلیل او تفسیروي ... او د هغه خدای سره رابطه ټینګوي ، چه دده له لوري دژوندي کونکی سا « روح » په را تللو انسان ، انسان » شو . له ځاروبو او وحشي ځناورو بولا نو « حیوانا تو » څخه بیل ، او تولنه يي دهغوی له غونډي څخه جلا شوله .

او دخدای له لوري يي دکرامت امتیاز لاس ته راووړ .

خداي ( ج ) مؤمنانو ته په هرځای او هر نسل ، په هر قوم

اوهر، پله کبنی چه وي ، اوکه دهر نژاد او رنګ وي ، د پېرېو په لړ کښی ، د نوح - علیه السلام - له زمانی څخه تر محمد - صلی الله علیه وسلم - پورې ، او له هغه وروسته د زمانی تر پایه پورې دغه جامع کلام اوروی :

« إِنَّ هَـٰذِهِ أُمَّتُكُمْ أُمَّةً وَاحِدَةً ، وَأَنَا رَبُّكُمْ فَاعْبُدُونِ[1]

( الأنبياء : ٩٢ )

او دخلکو ترمنځ یې یوازې دعقیدې پر اساس ، فضیلت قائم کړیدی . که څه هم ددوی ترمنځ د رنګ ، نسب ، رابطی او د نژاد او یا توبی « سمت » . غږوندي هم موجود وي ، او داسې یې فرمایلی دي :

« لَا تَجِدُ قَوْمًا يُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ ، يُوَادُّونَ مَنْ حَادَّ اللَّهَ وَرَسُولَهُ ، وَلَوْ كَانُوا آبَاءَهُمْ أَوْ أَبْنَاءَهُمْ ، أَوْ إِخْوَانَهُمْ أَوْ عَشِيرَتَهُمْ . أُولَـٰئِكَ كَتَبَ فِي قُلُوبِهِمُ الْإِيمَانَ ، وَأَيَّدَهُم بِرُوحٍ مِّنْهُ ، وَيُدْخِلُهُمْ جَنَّاتٍ تَجْرِي مِن تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ - خَالِدِينَ فِيهَا - رَضِيَ اللَّهُ

---

(١) دغه اسلام ستاسی واحد ( اوګډ ) ملت « دین » دی . او زه ستاسی پالونکی ( رب ) یم . نو زما بالعانځنه ( او عبادت ) وکړی !

عَنْهُمْ وَرَضُوا عَنْهُ. أُولَٰئِكَ حِزْبُ اللَّهِ. أَلَا إِنَّ حِزْبَ اللَّهِ هُمُ الْمُفْلِحُونَ. (۱) «المجادلة: ۲۲»

او د جګړې او شخړې لپاره یې - کوم وخت کښې چه لازم وګڼل شي - یو سبب ټاکلی؛ چه هغه د خدای په لار کښې مبارزه او جهاد دی. او د مؤمنانو او غیر مؤمنانو هدفونه او ورپسې پړاوونه یې ښه ښودلي او په داګه یې په قاطعې توګې سره تشخیص کړي دي:

«اَلَّذِیْنَ اٰمَنُوْا یُقَاتِلُوْنَ فِیْ سَبِیْلِ اللّٰهِ، وَالَّذِیْنَ کَفَرُوْا

---

(۱) (ای محمده!) داسې قوم نشې موندلای چه پر خدای او د آخرت پر ورځ ایمان ولري. (او دوی بیا) له هغه چا سره مینه او دوستي کوي چه له خدای او د ده له استازي پیغمبر سره جګړې (او مخالفت کوي). که څه هم (دغه مخالفان)، د دوی پلرونه، یا زامن، یا وروڼه او یا نږدې خپلوان وي. د همدغو کسانو (مسلمانانو) په زړونو کښې خدای ایمان لیکلی، او د خپل روح «قرآن، یا جبریل او یا معنوي نصرت» په واسطه یې د دوی تایید او ورسره ورسره کړې دی. او ژر به یې هغو جنتونو ته داخل کړي چه (له ماینو) لاندې یې ویالې بهیږي، او تل تر تله به پکښې اوسي. خدای له دوی څخه او دوی له خدایه خوښ دي. دوی د خدای ګوند «حزب» دي، یقین دی چه یوازې د خدای ګوند بریالی (او د حساب د ورځې له کړاونو) خلاص دی.

Marfat.com

يُقَاتِلُونَ فِي سَبِيلِ الطَّاغُوتِ . فَقَاتِلُوا أَوْلِيَاءَ الشَّيْطَانِ إِنَّ كَيْدَ الشَّيْطَانِ كَانَ ضَعِيفاً » (١) ... ( النساء : ٧٦ )

په هغه وخت کښې چه ټول بشريت تړ ، دا نا آشنا او عجيبه بريښنېده چه خلك به ديوې عقيدې په شا وخوا سره راټولېږي ، او د ټاټوبی ، نژاد ، رنگ ، سوداګرۍ ، او د بل هيڅ دول د ميځنۍ تلونکي سبب په اساس سره به راغونډ نشي .

د اوسني عصر په اصطلاح ، د غه « مذهب بالنسر » په هغه ورځ چه اسلام مخ ته راوړلو ، ډېره عجيبه او نا آشنا مسأله ښکارېده ... خو هغه اوس اوس يې بشريت خوند څکلی او خوښه کړې يې ده . چه وطنونه اوقومونه ، ژبې او رنگونه او بېل بېل نژادونه ... به په همدغه مذهب سره راټولېږي . او يو بل ته به دوروره لاسونه ورکوي ؟

---

(١) « مؤمنان د خدای په لاره کښې جنگېږي ، او کافران د طغيانګر شيطان ، په لاره کښې جنګ کوي . نو د شيطان ملګري ووژنئ . شك نشته چه د شيطان مكر ( اوتوطئه ) ډېره بې سبکه ( او ماتېدونکې ) ده ...! »

*

Marfat.com

دا رښتیا ده چه بشریت پر خدای باندې د عقیدې لرلو په اساس نه دي سره راټول شوي . بلکه د اقتصادي مذهب ، او د ټولنې د ضرورتونو له کبله د مختلفو سیاسي مرامونو په اساس سره راغونډ شوي دي ... دا ځکه چه بشریت مخ په کښته او پستۍ روان دی . لنډه او له منځه ټلونکې منافع ، له ... لوی حقیقت څخه عزتمند او پورته بولي . مګر هر ډول چه ... ی بیا هم په دې پوهېږي چه : کیدلای شي دا رابطه د عقیدې په اساس ټینګه شي . او کیدلای شي چه دا رابطه ... وي . او ممکنه ده چه دا معنوي رابطه وي !

په هر صورت ! دا هم پر ځای دي .

خو دومره یا ده چه بشریت هسک شي ؛ او هغې نقطې ته ځان ورورسوي چه ، له ټولو عزتمنه او لوړه ده . او هغې لوړې څوکې ته مخ په پورته تدریجي اړکې ووهي . او دا هغه وخت دی چه اسلام بیا د هغه راتلونکې اسلامي حرکت او انقلاب په موده کښې راوبولي ، کوم چه د فطرت د بچوانه خرابې نو بنسه ورسره ده . او همدارنګه د دې نوې

Marfat.com

شتمنه " دتجربی ، او بحو تنکلارو شتمنی ، له ملا تړ تحنه هم
بنسه ډاډی ! « باذن الله »

* * *

## ذمه ترون ، او اخلاق :

... خو کله چه اسلام ټول خلك دعقیدی په اساس سره راغونډه کړل ؛ او عقیده یې دنوځای توب او بیلتون بنسټ وګرزوله . دعقیدی دمنلو په هکله یې ددی دین دپر محتلك او یاله نورو سره دتعامل لپاره دزور زیاتی بنسټ په هیڅ توګه پدې دین کښې کښینبنود . اود هغوکسانو دعلاقو دتنظیم او اداری لپاره یې چه داعقیده نه منی ، اونه ددی عقیدې په اساس سره راټولیږی ؛ هیڅکله دځنګل او دارهلو قانونه ندی ایښی .

خدای پر مؤمنانو جهاد فرض کړیدی ، نه ددې لپاره چه خلك پر اسلام منلو مجبوره کړی . بلکه ددی لپاره چه په ځمکه کښې خپل هسك عادل او متین نظام په پښو ودروی ؛ او هر څوك وکولی شی ددی شامل نظام تر سیوری

Marfat.com

لا ندې - چه له کامل عدالت سره پر مسلمان او غیرمسلمان تطبیق کېږي - هره عقیده یې چه غوښتې وي، خوښه او ښکاره غوره ونه کړي.

"لَا إِكْرَاهَ فِي الدِّينِ قَدْ تَبَيَّنَ الرُّشْدُ مِنَ الْغَيِّ فَمَنْ يَكْفُرْ بِالطَّاغُوتِ وَيُؤْمِنْ بِاللَّهِ فَقَدِ اسْتَمْسَكَ بِالْعُرْوَةِ الْوُثْقَىٰ لَا انْفِصَامَ لَهَا. وَاللَّهُ سَمِيعٌ عَلِيمٌ" (۱)

( البقرة : ۲۵۶ )

هغه محکمه چه د اسلام تر لاس لاندې، او اسلامي شریعت یې اداره کوي د "دار الإسلام، یا اسلامي هیواد" په نامه یادېږي. که څه هم ټول اوسېدونکي یې مسلمان او یا ځنې یې د نورو عقیدو خاوندان وي ... او هغه محکمه چه د اسلام تر لاس لاندې نده، او نه یې اسلامي شریعت اداره کوي - هر ځای چه وي - "دار الحرب، یا غیر اسلامي هیواد" بلل کېږي.

(۱) - (د اسلام) په دین کښې هیڅ ډول زور زیاتی نشته، حق او باطل سره بېل (او ښکاره) شویدي، نو که چا په خدای ایمان راووړ او د شیطان لاره یې پرېښوده، نو په رښتیا چه په ټینګه او نه بېلېدونکي لاستي یې منګولې ولګولې، لوی څښتن - تعالی - ښه اورېدونکی، او (پر ټولو) ښه خبر دی.

Marfat.com

اسلام د « دارالاسلام » او « دارالحرب » ترمنځ علایق ، د ځنګل دا ډول قانون تر ندی پر یښی ، بلکه هغه یې په ډوره کتنه د اخلاقو ، پاکوالی او استقامت پر اساس خیرلي او تنظیم کړیدی !

۱- دارالاسلام به له دارالحرب سره یا عهد او تړون لری ، چه باید مراعات او کلك وساتل شی ، او دهغه پر اساس ، نه تړون مات کړی او نه خیانت وکړی ، نه غدی ، ښخون « پړی وړ وړی ، او نه ناخاپه یرغل . مګر په هغه وخت کښی چه د تړون موده تېره ، او یا پخپله دارالحرب د غه تړون مات کړی .

۲ - او یا به د دوی ترمنځ دائمی اوربند وی ، یې لدې چه کوم موقتی تړون وجود ولری ؛ نو پدې وخت کښی اوربند قائم دی . مګر په هغه وخت کښی چه د مقابل لوری له خیانت څخه ووېرېږی ، او له هدې کبله له دښمن سره په نښسته اخته شی . او مقابل لوری دد ائمی اوربند د سر ته رسېدو اعلان وکړی

۳ - او یا به د دوی ترمنځ جګړه وی .. چه پدی مورد

Marfat.com

کښې د ښښتې لپاره خاص قیود او ضمانتونه یا کل شوېدي:

الف: که چیرې یې صلح وغوښته معاهده او جزیه یې قبوله، او د عقیدې په خوښه لوکښې د یوه آزادي له لرلو سره یې د اسلامي نظام تر سیوري لاندې ژوند وماننه؛ نو پر مسلمانانو واجبه ده چې ور سره ویې مني:

«إِنَّ شَرَّ الدَّوَابِّ عِنْدَ اللهِ الَّذِينَ كَفَرُوا فَهُمْ لَا يُؤْمِنُونَ . الَّذِينَ عَاهَدْتَ مِنْهُمْ ثُمَّ يَنْقُضُونَ عَهْدَهُمْ فِي كُلِّ مَرَّةٍ ، وَهُمْ لَا يَتَّقُونَ . فَإِمَّا تَثْقَفَنَّهُمْ فِي الْحَرْبِ فَشَرِّدْ بِهِمْ مَنْ خَلْفَهُمْ لَعَلَّهُمْ يَذَّكَّرُونَ . وَإِمَّا تَخَافَنَّ مِنْ قَوْمٍ خِيَانَةً فَانْبِذْ إِلَيْهِمْ عَلَى سَوَاءٍ ، إِنَّ اللهَ لَا يُحِبُّ الْخَائِنِينَ . وَلَا يَحْسَبَنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا سَبَقُوا إِنَّهُمْ لَا يُعْجِزُونَ . وَأَعِدُّوا لَهُمْ مَا اسْتَطَعْتُمْ مِنْ قُوَّةٍ وَمِنْ رِبَاطِ الْخَيْلِ ، تُرْهِبُونَ بِهِ عَدُوَّ اللهِ وَعَدُوَّكُمْ وَآخَرِينَ مِنْ دُونِهِمْ لَا تَعْلَمُونَهُمْ . اللهُ يَعْلَمُهُمْ وَمَا تُنْفِقُوا مِنْ شَيْءٍ فِي سَبِيلِ اللهِ يُوَفَّ إِلَيْكُمْ ، وَأَنْتُمْ

Marfat.com

لَا تُظْلَمُونَ . وَإِنْ جَنَحُوا لِلسَّلْمِ فَاجْنَحْ لَهَا وَتَوَكَّلْ عَلَى اللّٰهِ ، إِنَّهُ هُوَ السَّمِيعُ الْعَلِيمُ » (۱)

( الانفال : ۵۵-۶۱ )

په تړون باندې د دړ بدو په هکله يې ټينګار کړی او د هيواد د منافعو د ساتلو » حجت يې باطل کړيدی . او

(۱) بې شکه چه د خدای په نزد ترټولو خوځيدونکو (حيواناتو) څخه بدترغه او شرير هغه کسان دي چه کفر يې اختيار کړی ، نو دوی ايمان نه راوړي . دوی هغه کسان دي چه تا تړون ورسره وکړ ، بيا دوی خپل تړون په هر ځلې ماتوی . او دوی د لدې عهد ماتولو څخه ) نه ويريږي . نو که پر جنګ کښې يې ومومې ، نو دوی سره تيت که او پديې توګه لدوی نه پاتې کسان (کافران) ووېروه . د دې لپاره چه (دغه پاتې کسان) پند واخلي . او که ( له عهد ورو وسته ) د کوم قوم له خيانته ويريږی نو بيرته شان تاسی هم ( دغه تړون ) ورو غورځوی ، ځکه چه خدای (ج) خائنان نه خوښوی . کافران دی دا ګمان ونه کړي چه ( د خدای له عذابه ) به وتښتي ، دوی هيڅکله ( لوی ځښتن ) نشي مغلوبولی . خو چه موتوان وی دوی ( کافرانو ) ته د قوت « د جنګ د اسبابو » او وسائل شويو آسانو تيارۍ ونيسی [ د دې ايت څخه راڅرګنديږي چه مسلمانان د هر عصر له مقتضاسره سم جنګي اسباب تهيه او چمتو شي - مترجم ] ( د دې لپاره چه ) د خدای او ستاسی ( ګډ ) دښمنان ، او له دوی نه پرته نور هغه کسان « منافقان » پرې ووېروی ، چه تاسی يې نه پېژنئ ، خو خدای يې پېژني ؛ خو شي چه د خدای په لاره کښې بښندی ، اجر يې پوره درکول کيږی ، او پر تاسی ظلم نه کيږی . او که ( کفار و ) صلحې ته ميل وکړ نو ورسره ودې منه ، او پر خدای (ج) ولېسا د توکل ، ولره ! ځکه هغه ډی سنه اوريدونکی او پوه دی .

خرګندوی چه د امنافع د تړون ماتولو سبب نشی کیدلی:

" وَأَوْفُوا بِعَهْدِ اللَّهِ إِذَا عَاهَدْتُمْ ، وَلَا تَنقُضُوا الْأَيْمَانَ بَعْدَ تَوْكِيدِهَا وَقَدْ جَعَلْتُمُ اللَّهَ عَلَيْكُمْ كَفِيلًا ، إِنَّ اللَّهَ يَعْلَمُ مَا تَفْعَلُونَ . وَلَا تَكُونُوا كَالَّتِي نَقَضَتْ غَزْلَهَا مِنْ بَعْدِ قُوَّةٍ أَنكَاثًا ، تَتَّخِذُونَ أَيْمَانَكُمْ دَخَلًا بَيْنَكُمْ ، أَن تَكُونَ أُمَّةٌ هِيَ أَرْبَىٰ مِنْ أُمَّةٍ ؛ إِنَّمَا يَبْلُوكُمُ اللَّهُ بِهِ ، وَلَيُبَيِّنَنَّ لَكُمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ مَا كُنتُمْ فِيهِ تَخْتَلِفُونَ . " (۱) ( النحل : ۹۱ - ۹۲ )

ب : او کله چه جګړه وی ، نو هغه داسی جګړه چه کرامت

بر نړد پښتو لا نډی کیږي ؛ او نړ بر هلاك سپین بزیری بودا

---

(۱) کله چه موتړون وکړ نو دخدای پر تړون (عهد) و دریږئ ، او
له ټینګار وروسته مو قسمونه مه ماتوئ ! حال دا چه خدای (ج) مو پر
ځانو کفیل "شاهد" ګرځولی دی ؛ بیشکه چه خدای ستاسی په کار وبوښه پوهیږي.
داسې مه کیږئ لکه هغه (ښځه) چه خپل ریشلی تار ونه ، وروسته له دې چه ښه
کلک او قوي وي ، بیرته او مه کړې او توټې توټې یې سړیل کاندي ، او داسې مه کیږئ !
چه قسمونه مو خپلو منځو کښې غولول (ټګی او خیانت) وګرځوئ . (او دا دې لپاره) چه کومه
یوه ډله له بلې ډلې څخه زیاته (زوروره) ، نو تاسې له وړې ډلې سره تړون مات ، او له لویې
ډلې پورې ونښلئ ) ؛ پر رښتیا چه خدای مو پیژني (هغه سره) آزمويي . او خامخا به
د قیامت په ورځ هغه څه درته بیانوي چه په هغه کښي مو اختلاف کاوه .

Marfat.com

اوښځه ووژل کېږي . نه به کښت سوځل کېږي ، او نه به څاروی له منځه ځي . انسان به نه بوچې « مُثلة » کېږي ، او نه به بې له هغو متمردو وسلوالو قواو سره چه د مسلمانانو مخ ته دريږي ، شخړه پېښېږي ... او دا ده هغه لارښوونه چه ابوبکر د اُسامهؓ لښکر ته چه د روميانو د جګړې لپاره روان وُ کړېده :

" لَا تَخُونُوا ، وَلَا تَغُلُّوا ، وَلَا تَغدِرُوا ، وَلَا تُمَثِّلُوا ، وَلَا تَقتُلُوا طِفلاً صَغِيراً ، وَلَا شَيخاً كَبِيراً ، وَلَا امرَأَةً . وَلَا تَعقِرُوا نَخلاً وَلَا تُحرِقُوهُ ، وَلَا تَقطَعُوا شَجَرَةً مُثمِرَةً ، وَلَا تَذبَحُوا شَاةً ، وَلَا بَعِيراً ، إِلَّا لِمَأكَلَةٍ . وَسَوفَ تَمُرُّونَ بِأَقوَامٍ قَد فَرَّغُوا أَنفُسَهُم فِي الصَّوَامِعِ ، فَدَعُوهُم وَمَا فَرَّغُوا أَنفُسَهُم لَهُ ... اِندَفِعُوا بِاسمِ اللهِ » (۱) ...

(۱) خيانت مه کوئ ، غدر « شبخون » مه وهئ ، تړون مه ماتوئ ، او خلك مه بوچي « مُثله » کوئ ! واړه هلکان ، زاړه بوډایان او ښځې مه وژنئ . ونې مه باسئ او مه يې سوځئ ، او ميوه لرونکي ونې مه پرېکوئ مېږې او اوښان - بې د خوراك لپاره - مه حلالوئ . تاسې به په ځينو خلکو تېرېږئ چه د عبادت په صومعو « څپريو » کښې ځانته شويدي . نو دوی هماغسې پرېږدئ ... او س نو د خدای په نامه ورخېږئ !

دا مې غرض نه دی چه د دار الاسلام او دار الحرب، او د مسلمانانو او نورو قومونو تر منځ د معاملاتو د قانون ټول اړخونه وڅېړم. ځکه د دغه بحث د دې لوی بیان ځای نه دی ... بلکه غواړم چه هغې پراخې تګلارې ته ځان ورسوم چه اسلام د مختلفو لښکرو او قومونو تر منځ د معاملاتو په هکله په ټکر کښې په پښو دروله ده. په داسې حال کښې چه دغې تګلارې پخوا هیڅ وجود نه درلود. له همدې کبله، په هغه ورځ چه اسلام راغی، ولسونو ته د توري یا د ځنګل او دا ړ لو له قانون څخه بل څه نه پېژندل. نو چا به چه زور درلود، هغه به یې چه غوښتل کول به یې، او ټول شیان ورته حلال وو. او کمزوري په مطلقه توګه د هیڅ حق څښتنان نه وو.

د غیر اسلامي تګلارو د بشر له واقعیتونو څخه نن ده محو شوې، او د تل لپاره ړنګه شوې نه ده. همدا علت و چه نړیوالو

Marfat.com

په ۱۷ م . ۱۱ هـ . پېړۍ کښې د قانون په اساس معاملوت شروع کړل . او د بین المللی قانون په برخه کښې یې پرلیسې پروړو وړو ګامونو پیل وکړ . او په (۱۹ م) پېړۍ کښې یې د تحکیم او فیصلې لپاره د بین المللی هیأتونو په جوړولو کښې هلې ځلې په حرکت راوستې، چه لاتر اوسه پورې د ا - تشکیلات دبري او ناکامۍ ترمنځ په ړنګېدو دی، او د موفقیت پړاو ترندی رسید لی ... او همدا رنګه د نوموړو اساساتو له مخې د بین المللی قوانینو په طرح کښې هم قوی او لوی بحثونه منځ ته راغلل.

نو لدې کبله هغه نظامونه او تګلارې چه اسلام راوړې دی، هیڅکله د هغې ورځې پشان چه نوې دنیا راغلې، پردې او نا آشنا نښې ګڼل کېدای.

رښتیا ده، چه بشریت هغې اخلاقي سویې ترونه رسید، چه اسلامي تولنه په واقعي معاملاتو کښې ورته رسید لې وه.

او رښتیا ده، چه په اوسنی عصر کښې، حتی په هغو بین المللی نظری قوانینو کښې چه غربی قانونی فقهی ایښی دي

لوی پښاتلګ او انحطاط پیښ شویدی. چه له همدی کبله دجګړی د اعلان، د تړونونو د ماتولو، او دد امني اوربند دسرته رسیدو شرائط لغو اوله منځه ولاړل. اوقانون پداسي عذی بدل شو چه دځنګلي وحشي حیواناتو له وضعی څخه هم ډیر سخت او بدمرغه دی...!

اوربنتیا چه دجنګ اوصلحی عوامل او اسباب هیڅکله دمادی ګټو، ولجو، غنائمو، او دسود اګری د بازارونو لـه سولي څخه هسك نشول. او هیڅکله د مفکوری اوعقیدی، خیر اوعدالت، صلاح او ورورګلوی مفهوم افق ته ور ونه ختل، کوم چه د اسلامی جهاد رښتنی نښه او هدف دی.

دا قول صحیح دی. مګر د بین المللی تعاملاتو تګلاره د دغه قانون په اساس چه موږ ته ښکاره او معلوم دی... موجوده ده... هغه تګلاره چه د لمړی ځل لپاره اسلام منځ ته راوړه، او دبشر پرته وند انګښني هم دغي الهي هسکي اوجګي کړنلاره خپره او ټینګه کړه.

نو کله چه بشریت ته بل وار د دې الهي کړنلارې بلنه ورکړل شي، دا تګلاره به نه یر دغه وګڼي، او نه به کرکه ورځنه

Marfat.com

وکړی ... شاید اخلاقي هسك اصول به یي هغه وحشي اوچوړ کونکي بشر ترچه دجاهلیت په گرداب کښي سلگوه وهي، دخه مودی لپاره پردي سنکاره شي. خواصلي تگلاره اوصورت يي هيڅکله پردی او ناآشنا نشي گڼل کېدلی.

هغه اسلام چه د لمړی ځل لپاره يي دخپلو اصولو په دړلو، او د تگلاره په کښنو د لوکښي يواځي د فطرت په شتمو ده لگوله؛ په راتلونکي حرکت او انقلاب کښي به پر دغي نوی خزاني هم تکيه وکړي. او ددي په اړخ کښي به

پر واقع شویو معلو موتجربو ټینگه

اتکاء ولري. او ددی خزانې په

ملاتړ به دبل هر وخت په نسبت،

ددی قدرت ولري چه ببرتر

لسره خپلې پراخې تگلارې

راژوندی کړي.

.... بإذن الله.

Marfat.com

# اوپه پای کښې ...

اوپه پای کښې ، مونږ نشو کولی چه پدې مجمل ارلنډ بحث کښې ، لدبندریات دهغو پراخو تګلارو په هکله وغږیږو چه اسلام د بشر په ژوندانه ، تاریخ او واقعیتونو کښې طرح کړي او پریښي دي . هغه تګلارې چه نه یوازې اوس ځلیږي ...

اوسنی زړه ورسره بیولی ؤ . هغه تګلارې چه د بشریت په ژوندانه کښې یې ـ که څه هم کوږ ، منحرف او حیران دی ، او که څه هم له هغې جګې څوکې څخه چه د دی یوې الهي کړنلارې ترسیوری لاندی لمړی ځل ورختلی ؤ ، د پریشانتیا او مخط دی ـ بیا هم ژوندي کونکي او ویښ آثار پریښي دي ...

د اخو لنډ مثالونه چه د لته موذکر کړل ، کولای شي چه د اسلامي ستری کړنلارې د اساسي خطوطو د معرفي پرلاره کښې ـ چه هغې کړنلارې لمړی ایجاد او بیا یې د بشر په ژوندانه کښې ثابت او په پښو ودرول ـ د نمونې په توګه کفایت وکړي . همدارنګه ، کیدلای شي چه د ۱٤ سوو

Marfat.com

کلونو په لړکښې پر دغو مثالونو باندې د بشر د ټولو انحرافونو قیاس شي ...

د دې مجمل بحث په پای کښې ، د دې لپاره چه خدای(ج) ته ، او د خدای کړنلارې ته را بلونکي او مجاهدین ، پر دغو ملا تړو عواملو غږه نشي ؛ او د لارې د اغزیو او خنډونو د له منځه وړلو لپاره په کامله توګه تیارې ونیسي ؛ لازمه ده چه یوه مهمه ټکي ته اشاره وکړو ...

د اټکي ، بنیادي د دښمنو ټکلاره ، متضادو انحرافونو ، او د لارې د خنډونو په هکله وي !

بشریت په عمومي توګه نن ورځ له خدای څخه بیلتون لري دی ...

د جاهلیت هغه " متراکم انحرافي عوامل " چه پر بشري فطرت رنګارنګ غوړ څوي ، د ټولو وختونو په نسبت ډیر زیات او ډیر بیان دی . څکه چه لرغوني جاهلیتونه د ناپوهۍ ، ساده توب ، تعصب ، ځیرتوب او فتوت « مړاني » جاهلیتونه وو . اما اوسنی جاهلیت د مادي پوهۍ ، کړکیچو ، تعقید ، بې باکۍ

Marfat.com

او بې عفتي جاهليت دی !

هغه فساد چه په اتلسمې او نولسمې ميلادي پېړۍ کښې د مادي علومو د پرمختګ ترشا راغی، ډېر سرکش او خطرناک و. له کليسا او د کليسا له هغه خدای نه تېښته چه د هغه په نامه به علماء سوځېدل، او متفکرين ربړېدل. او د پرمختګونو پرمخ کښې به خنډونه ايجادېدل؛ داسې ليونۍ او سرغړونکې تېښته وه چه ذاتاً تشه او بې معنی وه، ټول کومو مقدساتو ودرېده، او نړۍ د خلاصون حقيقي لاره غوره کړه.

ربښتيا ده، چه پوهې پخپله د نوموړې پېړۍ له شروع نه لوی لوی پوهان بيا د خدای په لور وخوځول. او هغه انساني فطرت چه د جاهليت وهلو تکولو بدمرغه کړی و، له ډېرې ستومانۍ او ناکرويو سره، له سره بيا د خدای په لور پر را وانېدو شو. خو هغه فساد لا تر اوسه په ځوانۍ کښې دی. او شايد د اېپړه به تېره شي؛ ځکه چه له دې نه چه د کامل قهر او غضب په غوړځنګ راغلي ځيني، د بې لارېتوب او جهالت له تياروڅخه د طغيانګرو او بې باکانو درا اېستو

لپاره ظهور وکړي ، او بیا خلك د حقیقت وړانګو ته راوبولي

دُ نیوي ژوندانه د خلکو په احساس او واقعیتونو خپله لمن وغوړوله ؛ او د هغه تمدن له کبله چه د ژوندانه وسایل شتمني او مطاع ، او په محکم کښي مېشته کېدل او استقرار

یې منځ ته راوړه . او د خلکو په احساساتو کښي یې د ژوندانه لوېو الې ځر کندکړه . هم دا رنګه علومو او ثقافتونو او هوسونو او شخصیت غوښتنو یې نوره هم لمن وړ پراخه کړه .

کرچېرې د اتول د خدای پېژندلي او د الوهیت او عبودیت د خصائصو د پېژندلي پر اساس ، او د غوړ وړ حقائقو پر اساس دړ یدلي واي چه : خدای انسان په ځمکه کښي خپل خلیفه او نماینده کرځولی ، او د ځمکې موجودات یې وړ پلاس او مسخر کړیدي . او هغه نعمتونه او استعدادونه یې ورېښلي چه د خلافت په اجراء کښي مرسته ورسره کوي ، او د ژوندانه سمې لارې منافع او ګټې ورته آسانه کوي ... او دا چه انسان پدې ټولو شیانو کښي د آزموینو دوړ طي کوي ، ترڅو چه په آخرت کښي د ټولو هغو اعمالو په هکله چه یې

دنیوی ژوندانه کښې یې کړیدی محاسبه ورسره وشي.

کرچېرې د اقول پرهمدغه صحیح او سالم اساس درېدلی وای، نو د انسانانو په احساساتو کښې به د دغه ژوندانه لمنۍ تر – چه تمدن او علم پراختیا ورکړې – د ایمان پلوشو داسې وسعت ورښېلی وای چه خلك به تر تولو خدای او د ه یخې کړښلارې «اسلام» ته لیاورسیدلی وای.

خو د اقول شیان له سرغړونکې طغیا نگرې، کلیسا، او دکلیسا له هغه خدای څخه د لښتېدو په اساس ودرېدل، چه د هغه په نامه به یې خلکو ته د تېرې لاسونه ورغځول. چه په ژوندانه کښې د دې وضعې پېښېدل، له خدای څخه د لېرې والي، او د خدای په لارکښې د خندونو د منځ ته راتللو سبب وګرځېد، (حُکم د غې پېښې د خلکو په ژوندانه کښې د معنویت ایخ یخې وواژه، چه بالآخره یې سترګې وتړېدې، او د سپین او تور ترمنځ یې د تفریق ادراك له لاسه ورکړ – مترجم) چه مبنا یې اسلامي مجاهدین او بلونکې یې له نظره ونه غورځوي.

رښتیا چه بشریت د دې مادي تمدن په نه غملو، او

Marfat.com

دعیاشئ په گرداب کښې سخت ستړی او بدمرغه دی . او ربښتیا چه فساد او تباهي ، عصبي او روحي مرضونه ، عقلي او جنسي بې لارتیاوې ، او دمعنوي آثارو د تمدن په جسم کښې خالي کړي او ربښت یې په چیغو کړیدئ . ملتونه او افراد بدمرغه کوي ، او په زرونو یې ستړي دشر او فساد ، ورانۍ او بربادۍ خواته سپړي ....

خو بشریت لاترا وسه هم په همغه نخا ، لیونۍ خمار او عربدۍ نشه کښې سر اوبښي وهي . او شاید محکښي لدې چه د بشر ستړکي خلاصي ، او لدې خمار څخه یې ماغزه په سد ، او له سرسام توب او سرغړنتوب څخه ځان وژغوري ، او یا د ځان ژغورلو په فکر کښې شي - دا پېړۍ توله سر ترور سپړي ؛ خو یو وخت نه ... یو وخت ... پردې پټان افق د هدایت لمر را ختونکی دی . چه بیا به یې پلوشې په هر لوري خورې ، او انساني دنیا به بیرې روښانه وي !

* * *

Marfat.com

بخوانی جاهلیت د بدویت زمانی تر ورنږدی ؤ، او په هرحال په هغه کښی د بدویت آثار لکه: میړانه، زړه ورتیا جدّیت او تعصب موجود ؤ.

خلکو مختلف دودونه لرل، او اغلبا فتوّة «میړانه» اخلاق گڼل کېده، چه په عمومی توګه یې د خلکو په تصرفاتو او اعمالو حاکمیت درلود.

او څومره چه د غه جدیت او زړورتوب د اسلام پالونکو او جاهلیت غوښتونکو ترمنځ جګړه سخته کړېوه، په همغه انداز یې ښکاره توب او صراحت هم منځ ته راوړی ؤ... انسانی فطرت نږدی ؤ... د غی بلنی ته یې هرکلی وایه، او د عناد اولولی «تکبر» دیردو ترشایی لږ نږدې څخه د غه بلنه قبلوله. چه په هغه زمانه کښی په مساوی توګه د کفر او ایمان په لوړ کلک جدیت وجود درلود....

د او ضعه سره لدې چه ستومانی او ربړونه منځ ته راولی، خو په تمامه معنی لږښوی توب، سستی، بی باکی او بې عفتی څخه په خوښ وار ښه ده!

نن ورځ بشریت لکه چه د منافقت، مکر، غولولی، او

Marfat.com

د خبیثو او کرغېړنو چالبازیو د لاسه تر دوسپېږمو پورې بدلې او پېړان راز درد دونو اخته دي. همدا رنګه د سنوي والي، بې عفتي، بې باکي، بې غیرتي، او پر هری عقیدې، هرې مفکورې او هر مذهب د استخفاف او ملنډو وهلو لاسه له سختو کړاونو او بد مرغیو سره مخامخ دي!

او د اټول هغه څه دي چه د خدای پر لور، د رابللو په لاره کښې پراته دي. او هغه پښا وهونکي عوامل دي چه د خدای پر کرښلارې باندې د عمل کولو او سم درېدو مانع ګرځي.

* * *

او په همدې ډول نور زیات ارخونه او رنګونه وجود لري چه ښایي سپک یې وبنګڼو، او له نظره یې وغورځوو. د دې لپاره چه خدای ته رابلونکي او د خدای د کرښلارې مجاهدین او مبلغین په مرستیالو او ملاتړو عواملو (لکه چه مخکښې څرګند شول) غره نشي. تر څو پېدی لاره کښې د ځان سره کامله اوپوره توښه واخلي ...!

خوکومه توبنه ؟

د ایوه توبنه ده ... د تقوی او سپیځلتیا توبنه ... دا توبنه د خدای (عزوجل) په هکله حقیقی شعور او ادراك دی ... دا له خدای سره مخامخ معامله کول دي ، او دده تر نظارت لاندې ده . وظیفه ، سرته رسول دی ... او دده په کلکی او پرې کونکی وعدی باندی په مطلقه توکه کامل باور او ډیسا لرل دي ...

« وَكَانَ حَقًّا عَلَيْنَا نَصْرُ الْمُؤْمِنِينَ » (۱)

( الروم : ٤٧ )

لور نو کار پتول د هغې مسلمانانو د لی په لاس کښې دی چه خدای تر لاس په لاس کښی ورکوي ، او بیا په داد

---

(۱) د مؤمنانو مرسته پر مونږ باندې ( تفضلاً - یو منل شوی ) حق دی .

Marfat.com

زېږه حرکت کوي . دې ډلې ته دخدای وعده هغه واقعيت ته دی ، چه بې له هغو کوم واقعيت نشته . او دخدای رضا يې لمړنی او وروستنی عالی هدف دی .

داهغه ډله ده چه دخدای دکړنلارې په تطبيق کښې به دخدای جاري تګلارې او سنن پرځان مني . او په فطرت باندې پراته کثافات « متراکم جاهلی اوضاع » به دفطرت له مخې لرې غورځوي . او دا هغه ډله ده چه دخدای قضا او قدر يې په تنده کښې بنسه پرېښي ؛ چه دخدای کلمه بره بری مومی . او دده کړنلاره به د رهبری او زمامدارۍ واګې په لاس کښې نيسي :

« قَدْ خَلَتْ مِنْ قَبْلِكُمْ سُنَنٌ ، فَسِيرُوا فِي الْأَرْضِ فَانْظُرُوا كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الْمُكَذِّبِينَ . هَذَا بَيَانٌ لِلنَّاسِ وَهُدًى وَمَوْعِظَةٌ لِلْمُتَّقِينَ . وَلَا تَهِنُوا وَلَا تَحْزَنُوا وَأَنْتُمُ الْأَعْلَوْنَ إِنْ كُنْتُمْ مُؤْمِنِينَ . إِنْ يَمْسَسْكُمْ قَرْحٌ فَقَدْ مَسَّ الْقَوْمَ قَرْحٌ مِثْلُهُ ، وَتِلْكَ

Marfat.com

الْأَيَّامُ نُدَاوِلُهَا بَيْنَ النَّاسِ ، وَلِيَعْلَمَ اللَّهُ الَّذِينَ
آمَنُوا وَيَتَّخِذَ مِنكُمْ شُهَدَاءَ ، وَاللَّهُ لَا يُحِبُّ
الظَّالِمِينَ . وَلِيُمَحِّصَ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا وَيَمْحَقَ
الْكَافِرِينَ » .(۱)   ( آل عمران : ۱۳۷ - ۱۴۱ )

وَصَدَقَ اللَّهُ الْعَظِيمُ .

لوي څښتن رښتيا ويلي .   ( ... پای )

---

(۱) له تاسي مخکښي ( د کفارو د هلاك ) ډېري تګلارې ، طريقې " تېرې شوېدي
نو په مځکه ( جهان ) کښې وګرځئ ، او وګورئ چه ( د پيغمبرانو ) د تکذيب کوونکو
( پټمونکو ) پای څرنګه وو ؟ دغه ( قرآن ) د ټولو خلکو لپاره بيان ، او پرهېزګارانو
ته پند دئ . مه سستېږئ ، او مه خواشيني کېږئ ! او همدا تاسي لوړ او
غالبان يئ ، که رښتيني مسلمانان واوسئ . که تاسي ته ( د احد په غزا کښي )
کوم زخم در رسېږي ، نو په رښتيا چه دې قوم ( کفارو ) ته هم ستاسي پشان
زخمونه رسېدلي دي ؛ او دا ورځي ( په نوبت سره ) د خلکو په منځ کښي
اړوو را اړوو « يعني کله بری د يوی ډلې په برخه ، او کله د بلې ډلې په
نصيب کو » او د دې لپاره چه خدای هم مؤمنان ځان ته معلوم
کړي ( په ظاهري علم سره هم ) او له تاسي څخه شهيدان ونيسي ؛
او پاك خدای ظالمان نه خوښوي . ( او د دې لپاره چه ) خدای
مؤمنان ( له ګناهو ) صاف او پاك کړي ، او کافران هلاك او له منځه يوسي .

# فهرست


| موضوع | مخ |
|---|---|
| دژباړونکي سریزه | الف |
| سید قطب وپېژنئ : | ج |
| د قطب کورنۍ ، د سید قطب علمي ژوند ، د سید قطب سیاسي ژوند ، د سید قطب د ژوند پای | |
| د بشر فطري لار | ۱ |
| ممتازه لار | ۲٤ |
| آسانه لار | ٤٦ |
| اغېزناکه او مؤثره لار | ٦٩ |
| د فطرت ترمنځ | ۸۵ |
| د تجربې ترمنځ | ۱۱۹ |
| نوړ کېدونکي اوبخې تګلارې : | ۱٤٤ |
| ګډ انسانیت ، انساني کرامت ، یو ملت ، ذمه ، تړون ، او اخلاق. | |
| او په پای کښې ... | ۱۸۱ |


Marfat.com

Marfat.com

Marfat.com

Marfat.com

واعتصموا بحبل الله جميعا ولا تفرقوا

د اسلامیه مسلسله دراساته

# د اسلام لاره

لیکنه : شهید سید قطب رح
ژباړه : محمد جان احمدزی

۲

Marfat.com